د تشبث ښوونیزه او روزنیزه مؤسسه
مؤسسۀ تعلیمی و تربیتی تشبث
Tashabos Educational Organization

# د تشبث پروګرام د اغیزوارزونه

۲۰۱۷ کال








**د تشبث پروګرام د اغیزو ارزونه**

**د ارزونې مشرې او طرحه**

د تشبث ښوونیزه او روزنیزه مؤسسه او د پرمختګ لپاره د افغانی ټولنی د تحقیق او پیاوړتیا مؤسسه

**لیکوونکی**

ډاکتر اکمل نصرت

**بیا کتنه**

فضل ربی حقبین

**ساحوی کارکوونکی**

حفیظ الله دلدار

آرزو حیدری

سید جلال رحمانی

فرحناز افضلی

**طرحه او ډیزاین**

دوکتور اکمل نصرت

فضل ربی حقبین

**ژباړونکی**

سعادت الله احمدزی

د نشر او چاپ حقوق له تشبث ښوونیزی او روزنیزی مؤسسی سره خوندی دی

د تشبث پروګرام د اغیزو ارزونه، ۲۰۱۷

**د تشبث ښوونیزه او روزنیزه مؤسسه**

د تشبث ښوونیزه او روزنیزه مؤسسه په ۱۳۸۹ کال کی منځ ته راغله او له تاسیس سره سم رسما د افغانستان د اسلامی جمهوری دولت له اقتصاد وزارت سره ثبت او راجستر شوی ده. دا مؤسسه په ځوانانو متمرکزه ده چې د هیواد پالنی مسؤلیت، مشرتابه او ښی حکومتولی اصولو ته وده ورکوی. همدارنګه دا مؤسسه د بازار د اقتصاد اړوند درسونه برابروی او په کابل، ننګرهار، پروان او بامیانو ولایتونو کې د لیسو د ۱۰، ۱۱ او ۱۲ ټولګیو زده کوونکو ته د شبکې (اړیکو) آسانتیاوې برابروی. دی مؤسسی د افغانستان د اسلامی جمهوری دولت له پوهنې وزارت سره د تشبث پروګرام د پلی کولو په موخه د مرستو یو تفاهم لیک لاسلیک کړی دی. د تشبث ښونیزه او روزنیزه مؤسسه یوه افغانی، غیر انتفاعي، غیر دولتي مؤسسه ده.

دا مؤسسه د د موکراسی لپاره د ملی بنسټ (NED) د مالی مرستو په مټ ځوانانو ته د ښوونیزو او عملی زده کړو له لاری د متشبث کیدو مهارتونه ورښیی، چې په دی زده کړو کی د بازار اقتصاد، د فقر او فساد پروړاندی مقابله، د ښې حکومتولۍ او اخلاقي سوداګرۍ وده شامله ده.

**نوملړ**


اجرايوي لنډيز ---- ٤
پوښتنليكونه ---- ٥
زده كونكى ---- ٥
ښوونكى ---- ٦
د ښوونځيو اداري ---- ٧
مور او پلار (والدين) ---- ٧
په ټوليز ډول موندني ---- ٨

١ لومړى څپركى ---- ٩
١,١ ارزونه او د هغى محتوى ---- ٩
١,١,١ د تشبث پروګرام لپاره اړتيا ---- ٩
١,١,٢ د تشبث پروګرام ---- ١٢
١,٢ د ارزونى موخه ---- ١٤
١,٢,١ د ارزونى اوږد مهاله موخه ---- ١٤
١,٢,٢ د ارزونى لنډ مهالى موخى ---- ١٤
١,٣ دارزونى چلند او ميتودولوژي ---- ١٤
١,٣,١ د نمونى كچه او د نمونى اخستل ---- ١٤
١,٤ دارزونى سيمى ---- ١٦
١,٥ د مالوماتو د راټولولو كړنلاره ---- ١٧
١,٥,١ داسنادو پلټنه ---- ١٧
١,٥,٢ ترتيب شوي مركي ---- ١٧

٢ دوهم څپركى: موندني ---- ١٧
٢,١ عمومي مالومات ---- ١٧
٢,١,١ د افغانستان ښوونيز سيستم ---- ١٨
٢,٢ ځانګړې موندني ---- ٢١
٢,٢,١ د تشبث زده كونكو د ارزوني موندني ---- ٢١
٢,٢,٢ د تشبث زده كوونكو عمومي ځانګړتياوې ---- ٢٢
٢,٢,٣ د تشبث پروګرام او د زده كوونكو كاراوبار/دنده ---- ٢٧
٢,٢,٤ تشبث او د زده كوونكو كارموندنى ---- ٥١
٢,٢,٥ د تشبث پروګرام او په ننداړو كى د زده كوونكو برخه اخيستنه ---- ٦٩
٢,٣ د تشبث پروګرام د ښوونكو د ارزوني موندنى ---- ٧٥
٢,٣,١ د ځواب وركوونكو عمومى ځانګړنى ---- ٧٦
٢,٤ د تشبث مضمون اړوند د ښوونكو تجربه (پس منظر) ---- ٧٨
٢,٤,١ د تشبث مضمون اړوند د ښوونكو پوهاوى ---- ٧٨
٢,٤,٢ زده كوونكى او دتشبث پروګرام ---- ٨١

۲,٤,۳د زده کوونکو د تولیداتو ننداری ---------------------------------------- ۹۵
۲,٤,٤د تشبث تولنیز- اقتصادی اړخونه ---------------------------------------۱۰۱
۲,۵ د تشبث پروګرام راتلونکی --------------------------------------------۱۰٤
۲,۵,۱تشبث په ښوونیز ملی نصاب کی-------------------------------------------۱۰٤
۲,۵,۲تشبث او ګتی یی -------------------------------------------------------۱۰۸
۲,۵,۳ښوونکی د تشبث پروګرام د ملاتړیو په توګه ---------------------------۱۰۹
۲,٦ د لیسو د ادارو د ارزونی موندنی --------------------------------------۱۱۲
۲,۷ د ځواب ورکوونکو عمومی ځانګړنی---------------------------------------۱۱۳
۲,۷,۱جنسیت-------------------------------------------------------------۱۱۳
۲,۷,۲تشبث او دلیسو اداری -----------------------------------------------۱۱٦
۲,۸ د تشبث د تدریس څخه لیدنه --------------------------------------------۱۱۹
۲,۹ د لیسو مدیران او د تشبث ښوونیزه او روزنیزه مؤسسه ------------------------۱۲۹
۲,۱۰ د تشبث مضمون راتلونکی او د لیسو اداری -------------------------------۱۳۸
۲,۱۱ د والدینو د ارزونی موندنی---------------------------------------------۱٤۰
۲,۱۱,۱ د ځواب ورکوونکو والدینو عمومی ځانګړنی ------------------------۱٤۱
۲,۱۱,۲ د تشبث مضمون اړوند د والدینو نظر ---------------------------۱٤۳
۲,۱۱,۳ د تشبث له مضمون سره د والدینو بلدتیا --------------------------۱٤۳
۲,۱۲ د تشبث مضمون په لور د ماشومانو لیوالتیا------------------------------۱۵۱
۲,۱۲,۱ د تشبث مضمون ټولنیزی-اقتصادی اغیزی (د والدینو په نظر) -----۱۵۵
۲,۱۲,۲ تشبث او تجارت یا کار موندنه-----------------------------------۱۵٦

۳ دریيم څپرکی: پایلی او وړاندیزونه------------------------------------------۱٦۹
۳,۱ پایلی---------------------------------------------------------------۱٦۹
۳,۲ وړاندیزونه------------------------------------------------------------۱۷۱

**د گرافونو لیست:**

۱ گراف: د ۱۳۹۲ کال د دولسم ټولګی د فارغانو د کانکور د آزموینی پایلی ................ ۱۰

۲ گراف: د ۱۳۹۳ کال د دولسم ټولګیو د فارغانو د کانکور د آزموینی پایلی ................ ۱۱

۳ گراف: د ۱۳۹۴ کال د دولسمو ټولګیو د فارغانو د کانکور د آزموینی پایلی ................ ۱۱

٤ گراف: د ۱۳۹۴ کال د دولسم ټولګیو د فارغانو د کانکور آزموینی پایلی د جنسیت په اساس ................ ۱۲

۵ گراف: مرکه شوی زده کوونکی د جنسیت له نظره ................ ۲۲

٦ گراف: په ښاری او کلیوالی سیمو کی مرکه شوی زده کوونکو ................ ۲۳

۷ گراف: په اړونده سیمو کی مرکه شوی زده کوونکو د جنسیت له نظره ................ ۲۳

۸ گراف: د عمر له اړخه د مرکه شوو زده کوونکی تفصیل ................ ۲٤

۹ گراف: د عمر په نظر کی نیولو سره په ښاری او کلیوالی سیمو کی د زده کوونکو ویش. ۲۵

۱۰ گراف: د جنسیت په نظر کی نیولو سره د زده کوونکو د عمر په اساس ویش ................ ۲۵

۱۱ گراف: د مرکه شوو زده کوونکو د ټولګی په اساس ویش ................ ۲٦

۱۲ گراف: د مرکه شوو زده کوونکو د ټولګی په اساس ویش په ښاری او کلیوالی سیمو کی ۲٦

۱۳ گراف: د مرکه شوو زده کوونکو د جنسیت اړوند د ټولګی په اساس ویش................ ۲۷

۱٤ گراف: د یوه نوی کاراوبار په پیلولو کی له زده کوونکو سره د تشبث پروگرام مرسته .. ۲۸

۱۵ گراف: په ښاری او کلیوالی سیمو کی د یوه نوی کاراوبار په پیلولو کی له زده کوونکو سره د تشبث پروگرام مرسته................ ۲۹

۱٦ گراف: د جنسیت له مخی د یوه نوی کاراوبار په پیلولو کی له زده کوونکو سره د تشبث پروگرام مرسته................ ۲۹

۱۷ گراف: د تشبث مضمون هغه موضوعګانی چی له زده کوونکو سره یی د یو نوی کاراوبار په پیلولو کی مرسته کړی ده ................ ۳۰

۱۸ گراف: د تشبث مضمون هغه موضوعګانی چی له زده کوونکو سره یی په اړونده ځانګو کی د یو نوی کاراوبار په پیلولو کی مرسته کړی ده (په ښاری او کلیوالی سیمو کی).......... ۳۱

۱۹ گراف: د تشبث مضمون هغه موضوعګانی چی له زده کوونکو سره یی د دوی د جنسیت اړوند د یو نوی کاراوبار په پیلولو کی مرسته کړی ده ................ ۳۱

د تشبث پروګرام د اغیزو ارزونه، ۲۰۱۷
۲۰ ګراف: په راتلونکی کی له زده کوونکو سره د یو کاراوبار په پرمخ وړلو کی د تشبث مضون مرستی ...... ۳۲
۲۱ ګراف: څرنګه به د تشبث مضمون په راتلونکی کی له زده کوونکو سره مرسته وکړی؟ ...... ۳۲
۲۲ ګراف: د کاراوبار په پراختیا کی د تشبث مضمون اهمیت (د زه کوونکو له نظره) ...... ۳۳
۲۳ ګراف: د کاراوبار په پراختیا کی د تشبث مضمون اهمیت په ښاری او کلیوالی سیمو کی (د زده کوونکو له نظره) ...... ۳٤
۲٤ ګراف: د کاراوبار په پراختیا کی د تشبث مضمون اهمیت (د جنسیت له مخی د زه کوونکو له نظره) ...... ۳٤
۲۵ ګراف: د کاراوبار په پراختیا کی د تشبث مضمون مهمی موضوعګانی...... ۳۵
۲٦ ګراف: د کاراوبار په پراختیا کی د تشبث مضمون مهمی موضوعګانی په ښاری او کلیوالی سیمو کی
۲۷ ګراف: د کاراوبار په پراختیا کی د تشبث مضمون مهمی موضوعګانی د جنسیت له مخی ...... ۳٦
۲۸ ګراف: ټولګیوالو یی یو کاراوبار پیل کړی او یا یی هم پراختیا ورکړی...... ۳۷
۲۹ ګراف: ټولګیوالو یی یو کاراوبار پیل کړی او یا یی هم پراختیا ورکړی په ښاری او کلیوالو سیمو کی ...... ۳۷
۳۰ ګراف: ټولګیوالو یی یو کاراوبار پیل کړی او یا یی هم پراختیا ورکړی د جنسیت په نظر کی نیولو سره ...... ۳۸
۳۱ ګراف: د زده کوونکو نظر د تشبث مضمون د اهمیت په اړه د دوی د جنست په نظر کی نیولو سره ...... ۳۹
۳۲ ګراف: د زده کوونکو لپاره د تشبث مضمون اهمیت په ښاری او کلیوالو سیمو کی د دوی د جنسیت په نظر کی نیولو سره ...... ۳۹
۳۳ ګراف: زده کوونکو لپاره د تشبث مضمون اهمیت د دوی د جنسیت له اړخه...... ٤۰
۳٤ ګراف: د تشبث پروګرام لخوا د کاراوبار لپاره برابر شوی فرصتونه...... ٤۱
۳۵ ګراف: په کلیو او ښاری سیمو کی د تشبث پروګرام لخوا د کاراوبار لپاره برابر شوی فرصتونه...... ٤۱
۳٦ ګراف: د جنسیت په نظر کی نیولو سره د تشبث پروګرام لخوا د کاراوبار لپاره برابر شوی فرصتونه...... ٤۲

د تشبث پروګرام د اغيزو ارزونه، ۲۰۱۷


۳۷ ګراف: د زده کوونکو لپاره په کاراوبار او يا دندې موندنې کې د تشبث پروګرام په وسيله رامنځ ته شوی فرصتونه .......... ۴۳

۳۸ ګراف: په ښاری او کليوالو سيمو کې د زده کوونکو لپاره په کاراوبار او يا دندې موندنې کې د تشبث پروګرام په وسيله رامنځ ته شوی فرصتونه .......... ۴۳

۳۹ ګراف: د زده کوونکو د جنسيت په نظر کې نيولو سره په کاراوبار او يا دندې موندنې کې د تشبث پروګرام لخوا رامنځ ته شوی فرصتونه .......... ٤٤

٤۰ ګراف: په سوداګرۍ کې له يوی ننګونی سره مخ شوی .......... ٤۵

٤۱ ګراف: په ښاری او کليوالی سيمو کې په سوداګرۍ کې له يوی ننګونی سره مخ شوی ... ٤۵

٤۲ ګراف: په کاراوبار کې له يوی ننګونی سره مخ شوی دی (د جنسيت په اساس) .......... ٤٦

٤۳ ګراف: د هغو ننګونو ډولونه چې زده کوونکی ورسره مخ او د تشبث پروګرام له لاری حل شوی .......... ٤۷

٤٤ ګراف: په کليو او ښاری سيمو کې د هغو ننګونو ډولونه چې زده کوونکی ورسره مخ او د تشبث پروګرام له لاری حل شوی .......... ٤۷

٤۵ ګراف: د جنسيت په اساس د هغو ننګونو ډولونه چې زده کوونکی ورسره مخ او د تشبث پروګرام له لاری حل شوی .......... ٤۸

٤٦ ګراف: په کاراوبار کې له خطرونو سره مخ شوی .......... ٤۹

٤۷ ګراف: په کاراوبار کې کوم خطرونو سره مخ شوی (په ښاری او کليوالو سيمو کې) .... ٤۹

٤۸ ګراف: په کاراوبار کې له خطرونو سره مخ شوی (د جنسيت په اساس) .......... ۵۰

٤۹ ګراف: د خطرونو ډولونه چې زده کوونکی ورسره مخ شوی او د تشبث پروګرام په مرسته يې حل کړی دی .......... ۵۰

۵۰ ګراف: د کار په موندلو توانيدلی ول .......... ۵۱

۵۱ ګراف: په ښاری او کليوالی سيمو کې د کار په موندلو توانيدلی ول .......... ۵۲

۵۲ ګراف: د جنسيت په نظر کې نيولو سره د کار په موندلو توانيدلی ول .......... ۵۲

۵۳ ګراف: د زده کوونکو لخوا موندل شوی کارونه .......... ۵۳

۵٤ ګراف: زده کوونکو ته د کار موندنې په برخه کې د تشبث پروګرام اغيزې .......... ۵۳

۵۵ ګراف: د کار ورکونکی رول يې لوبولی دی .......... ۵٤

۵٦ ګراف: د کار ورکونکی رول يې لوبولی دی په ښاری او کليوالی سيمو کې .......... ۵۵

۵۷ ګراف: د کار ورکونکی رول یی لوبولی دی د جنسیت په نظر کی نیولو سره............ ۵۵
۵۸ ګراف: د دندو ډولونه چې زده کوونکو د کار ورکوونکی په توګه نورو ته ورکړی ..... ۵٦
۵۹ ګراف: د تشبث اهمیت د کار ورکونکی رول په لوبولو کی ......................... ۵٦
٦۰ ګراف: زده کوونکو لپاره تجارت د دندی په توګه ............................... ۵۷
٦۱ ګراف: زده کوونکو لپاره تجارت د دندی په توګه په ښاری او کلیوالی سیمو کی......... ۵۸
٦۲ ګراف: زده کوونکو لپاره تجارت د دندی په توګه د جنسیت په نظر کی نیولو سره ...... ۵۸
٦۳ ګراف: د تجارت په مختلفو پړاوونو کی د تشبث رول.............................. ۵۹
٦٤ ګراف: د تجارت په مختلفو پړاوونو کی د تشبث اهمیت............................ ۵۹
٦۵ ګراف: ایا د تشبث مضمون د کاری فرصتونو په منځ ته راوړلو کی بریالی وه........... ٦۰
٦٦ ګراف: ایا د تشبث مضمون د کاری فرصتونو په منځ ته راوړلو کی بریالی وه (په ښاری او کلیوالی سیمو کی)........................................................ ٦۱
٦۷ ګراف: د جنسیت په نظر کی نیولو سره د کاری فرصتونو په رامنځ ته کولو کی د تشبث مضمون بریالیتوب.................................................... ٦۱
٦۸ ګراف: د تشبث لخوا رامنځ ته شویو دندو ډولونه.................................. ٦۲
٦۹ ګراف: د کاری فرصتونو په رامنځ ته کولو کی د تشبث مضمون اهمیت................. ٦۲
۷۰ ګراف: د نجونو او هلکانو لپاره د کاری فرصتونو په رامنځ ته کوولو کی د تشبث اهمیت ............................................................. ٦۳
۷۱ ګراف: د یوه ځانګړی جنسیت لپاره د کاری فرصتونو په رامنځ ته کوولو کی د تشبث اهمیت ............................................................. ٦٤
۷۲ ګراف: د تشبث په وسیله د کارموندنی په اړه د نظر بدلون.......................... ٦۵
۷۳ ګراف: په کلیو او ښاری سیمو کی د تشبث په وسیله د کارموندنی په اړه د نظر بدلون... ٦۵
۷٤ ګراف: د جنسیت په نظر کی نیولو سره د تشبث په وسیله د کارموندنی په اړه د نظر بدلون.............................................................. ٦٦
۷۵ ګراف: د کارموندنی په هکله د نظر بدلونونه..................................... ٦٦
۷٦ ګراف: په دندی موندنه کی د تشبث پروګرام د فرصتونو سره سمو مهارتونو څخه ملاتړ ٦۷
۷۷ګراف: په دندی موندنه کی د تشبث پروګرام د فرصتونو سره سمو مهارتونو څخه ملاتړ په ښاری او کلیوالی سیمو کی........................................... ٦۸

۷۸ ګراف:  په دندی موندنه کی د تشبث پروګرام د فرصتونو سره سمو مهارتونو څخه ملاتړ د جنسیت په نظر کی نیولو سره ........................................................................................ ٦٨

۷۹ ګراف: د تشبث پروګرام په واسته د زده کوونکو لوړ شوی مهارتونه........................ ٦٩

۸۰ ګراف: د زده کوونکو په ننداړو کی برخه اخیستنه.............................................. ۷۰

۸۱ ګراف: د زده کوونکو په ننداړو کی برخه اخیستنه په کلیوالی او ښاری سیمو کی......... ۷۰

۸۲ ګراف: د زده کوونکو په ننداړو کی برخه اخیستنه.............................................. ۷۱

۸۳ ګراف:  ننداړی ته کیښودل شوی تولیدات......................................................... ۷۱

۸٤ ګراف:  په ننداړو کی د تولیداتو د خرڅلاوو پروسه.............................................. ۷۲

۸۵ ګراف: د زده کوونکو لخوا د جوړو شویو تجارتی طرحو شمیر ................................ ۷۳

۸٦ ګراف:  د تجارتی طرحو د سیالیو شمیر چی زده کوونکو په کی برخه اخیستی ده........ ۷٤

۸۷ ګراف:  د تجارتی طرحو په سیالیو کی د زده کوونکو ګټل شوی ځایونه ...................... ۷٤

۸۸ ګراف: د تشبث پروګرام ښوونکی د جنسیت په اساس........................................... ۷۷

۸۹ ګراف: د جنسیت په اساس په ښاری او کلیوالی سیمو کی د تشبث پروګرام ښوونکی..... ۷۷

۹۰ ګراف: د تشبث ښوونکو سلنه چی د تشبث مضمون اړوند ورته ټریننګ ورکړل شوی دی.......................................................................................................... ۷۹

۹۱ ګراف: د ځای په نظر کی نیولو سره د تشبث مضمون ټریننګ ورکړل شوی ښوونکی .. ۸۰

۹۲ ګراف: د جنسیت په اساس د تشبث مضمون ټریننګ ورکړل شوی ښوونکی ............. ۸۰

۹۳ ګراف: د ځای او جنسیت په اساس ټریننګ ورکړل شویو ښوونکو څرنګوالی ............ ۸۱

۹٤ ګراف:  د زده کوونکو لیوالتیا له تشبث مضمون سره د تشبث د ښوونکو له نظره....... ۸۲

۹۵ ګراف:  د زده کوونکو لیوالتیا له تشبث مضمون سره د تشبث د ښوونکو له نظره په کلیوالی او ښاری سیمو کی.......................................................................... ۸۲

۹٦ ګراف: د جنسیت په نظر کی نیولو سره د زده کوونکو د لیوالتیا په هکله د تشبث د ښوونکو نظرونه.......................................................................................................... ۸۳

۹۷ ګراف: له تشبث سره د زده کوونکو د لیوالتیا لاملونه (د ښوونکو نظرونه)................ ۸۳

۹۸ ګراف: په ښاری او کلیوالی سیمو کی د زده کوونکو د علاقی لاملونه (د ښوونکو نظر) ۸٤

۹۹ ګراف: له تشبث سره د زده کوونکو د لیوالتیا لاملونه (د جنسیت په اساس د ښوونکو نظر)........................................................................................................ ۸۵

۱۰۰ ګراف: د زده کوونکو لپاره د اهمیت وړ موضوعګانې (د ښوونکو نظرونه) .......... ۸۶
۱۰۱ ګراف: د زده کوونکو لپاره د تشبث مضمون په زړه پورې موضوعګانې (د ښوونکو نظرې په ښاري او کلیوالي سیمو کې) .......... ۸۷
۱۰۲ ګراف: د زده کوونکو لپاره د تشبث مضمون په زړه پورې موضوعګانې ( د جنسیت په اساس د ښوونکو نظر) .......... ۸۷
۱۰۳ ګراف: له تشبث مضمون سره د زده کوونکو د لیوالتیا د کچې مختلف لاملونه (د ښوونکو نظر) .......... ۸۹
۱۰٤ ګراف: له تشبث مضمون سره د زده کوونکو د لیوالتیا د کچې مختلف لاملونه (د ښوونکو نظر په ښاري او کلیوالي سیمو کې) .......... ۸۹
۱۰۵ ګراف: له تشبث مضمون سره د زده کوونکو د لیوالتیا د کچې مختلف لاملونه (د جنسیت په اساس د ښوونکو نظر) .......... ۹۰
۱۰٦ ګراف: د ټیټو ټولګیو زده کوونکي د تشبث په هکله خبرې کوي (د ښوونکو نظر) ..... ۹۱
۱۰۷ ګراف: د ټیټو ټولګیو زده کوونکي د تشبث په هکله خبرې کوي (د ښوونکو نظر په کلیوالي او ښاري سیمو کې) .......... ۹۱
۱۰۸ ګراف: د ټیټو ټولګیو زده کوونکي چې د تشبث په هکله خبرې کوي (د جنسیت په اساس د ښوونکو نظر) .......... ۹۲
۱۰۹ ګراف: د تشبث په هکله د ښوونکو او ټیټو ټولګیو زده کوونکو تر منځ د بحث ټکي.... ۹۲
۱۱۰ ګراف: زده کوونکي د مضمون له اهمیت څخه خبر دي (د ښوونکو نظر) .......... ۹۳
۱۱۱ ګراف: زده کوونکي د مضمون له اهمیت څخه خبر دي (په ښاري او کلیوالي سیمو کې د ښوونکو نظر) .......... ۹۳
۱۱۲ ګراف: زده کوونکي د مضمون له اهمیت څخه خبر دي (د ښوونکو نظر د جنسیت په اساس) .......... ۹٤
۱۱۳ ګراف: هغه ټکي چې زده کوونکو د تشبث د اهمیت په توګه څرګند کړل (د ښوونکو نظر) .......... ۹٤
۱۱٤ ګراف: د زده کوونکو د تولیداتو ننداری (د ښوونکو نظر) .......... ۹۵
۱۱۵ ګراف: د زده کوونکو د تولیداتو ننداری (په ښاري او کلیوالي سیمو کې د ښوونکو نظر) .......... ۹٦
۱۱٦ ګراف: د زده کوونکو د تولیداتو ننداری (د جنسیت له اړخه د ښوونکو نظر) .......... ۹٦
۱۱۷ ګراف: د ننداړو د ترسره کیدو شمیر (د ښوونکو نظر) .......... ۹۷

۱۱۸ ګراف: د ننداړو د ترسره کیدو شمیر (د ښوونکو نظر په کلیو او ښارو کی) ........... ۹۷
۱۱۹ ګراف: د تجارتی طرحو په جوړولو کی د ښوونکو رول ................................. ۹۸
۱۲۰ ګراف: د تجارتی طرحو په جوړولو کی د ښوونکو رول په ښاری او کلیوالی سیمو کی۹۸
۱۲۱ ګراف: د تجارتی طرحو په جوړولو کی د ښوونکو رول د جنسیت له نظره............. ۹۹
۱۲۲ ګراف: نوښتګری تجارتی طرحی چی د زده کوونکی د ځان بسیاوالی سبب شوی دی (د ښوونکو نظر)............................................................................................. ۱۰۰
۱۲۳ ګراف: نوښتګری تجارتی طرحی چی د زده کوونکی د ځان بسیاوالی سبب شوی دی (د ښوونکو نظر په کلیوالی او ښاری سیمو کی)........................................................... ۱۰۰
۱۲۴ ګراف: د تشبث ټولنیزی – اقتصادی اغیزی (د ښوونکو نظر) ........................... ۱۰۲
۱۲۵ ګراف: د تشبث ټولنیزی – اقتصادی اغیزی (په ښاری او کلیوالی سیمو کی د ښوونکو نظر)............................................................................................................ ۱۰۲
۱۲۶ ګراف: د تشبث ټولنیزی – اقتصادی اغیزی (د جنسیت په نظر کی نیولو سره د ښوونکو نظر)............................................................................................................ ۱۰۳
۱۲۷ ګراف: د یو کاراوبار په پیل او یا پراختیا کی د تشبث مضمون رول (د ښوونکو نظر)............................................................................................................ ۱۰۴
۱۲۸ ګراف: د تشبث مضمون باید د ښوونی په نصاب کی شامل شی (د ښوونکو نظر) .... ۱۰۵
۱۲۹ ګراف: د تشبث مضمون باید د ښوونی په نصاب کی شامل شی (په ښاری او کلیوالی سیمو کی د ښوونکو نظر) ............................................................................... ۱۰۵
۱۳۰ ګراف: د تشبث مضمون باید د ښوونی په نصاب کی شامل شی (د جنسیت له مخی د ښوونکو نظر)............................................................................................. ۱۰۶
۱۳۱ ګراف: په ښوونیز ملی نصاب کی د تشبث مضمون د شاملیدو لاملونه (د ښوونکو نظر)............................................................................................................ ۱۰۷
۱۳۲ ګراف: د تشبث مضمون د تدریس ګټی ................................................... ۱۰۸
۱۳۳ ګراف: د تشبث مضمون د تدریس ګټی په ښاری او کلیوالی سیمو کی ................. ۱۰۹
۱۳۴ ګراف: د تشبث مضمون د تدریس ګټی د جنسیت له نظره ................................ ۱۰۹
۱۳۵ ګراف: د تشبث په هکله شریک شوی مالومات ........................................... ۱۱۰
۱۳۶ ګراف: د تشبث په هکله شریک شوی مالومات په ښاری او کلیوالو سیمو کی.......... ۱۱۰
۱۳۷ ګراف: د تشبث په هکله د شریک شویو مالوماتو ډول..................................... ۱۱۱

۱۳۸ ګراف: د لیسو له ادارو څخه د ځواب ورکوونکو د جنسیت په اساس ویش ............ ۱۱٤
۱۳۹ ګراف: د لیسو له ادارو څخه د ځواب ورکوونکو د جنسیت ویش په ښاری او کلیوالی سیمو کی ............................................................................ ۱۱٤
۱٤۰ ګراف: د لیسو د ادارو د ځواب ورکوونکو د دندی په اساس ویش په ښاری او کلیوالی سیمو کی ............................................................................ ۱۱۵
۱٤۱ ګراف: د لیسو د ادارو د ځواب ورکوونکو د دندی په اساس ویش په ښاری او کلیوالی سیمو کی ............................................................................ ۱۱٦
۱٤۲ ګراف: د تشبث مضمون په هکله د لیسو د ادارو پوهاوی.................................. ۱۱۷
۱٤۳ ګراف: د لیسو د ادارو لخوا د تشبث مضمون په هکله شریک شوی مالومات ......... ۱۱۸
۱٤٤ ګراف: د لیسو د ادارو لخوا د تشبث مضمون په هکله شریک شوی مالومات په ښاری او کلیوالی سیمو کی ............................................................................ ۱۱۹
۱٤۵ ګراف: د هغو لیسو د ادارو سلنه چی د تشبث مضمون له تدریس څخه یی لیدنه کړی ده ............................................................................ ۱۲۰
۱٤٦ ګراف: د لیسو اداری چی په کلیوالی او ښاری سیمو کی یی د تشبث د مضمون له تدریس څخه لیدنه کړی ده............................................................................ ۱۲۱
۱٤۷ ګراف: د جنیست په نظر کی نیولو سره د لیسو اداری چی د تشبث د مضمون له تدریس څخه یی لیدنه کړی وه............................................................................ ۱۲۱
۱٤۸ ګراف: د جنیست او ځای په نظر کی نیولو سره د لیسو اداری چی د تشبث د مضمون له تدریس څخه یی لیدنه کړی وه ............................................................................ ۱۲۲
۱٤۹ ګراف: په لیسو کی د تشبث مضمون د تدریس کیفیت................................ ۱۲۳
۱۵۰ ګراف: په ښاری او کلیوالی سیمو کی د تشبث مضمون د تدریس کیفیت............... ۱۲۳
۱۵۱ ګراف: د جنسیت په نظر کی نیولو سره د تشبث مضمون د تدریس کیفیت ............. ۱۲۵
۱۵۲ ګراف: د جنسیت او ځای سره سم د تشبث مضمون د تدریس کیفیت .................. ۱۲۵
۱۵۳ ګراف: د پوښښ لاندی سیمو په نظر کی نیولو سره د تشبث مضمون د تدریس کیفیت ۱۲٦
۱۵٤ ګراف: د جنسیت په نظر کی نیولو سره تر پوښښ لاندی سیمو کی د تشبث مضمون د تدریس کیفیت............................................................................ ۱۲٦
۱۵۵ ګراف: د تشبث مضمون د تدریس د اغیزو په هکله د لیسو د ادارو نظرونه........... ۱۲۸

۱۵۶ ګراف: د تشبث مضمون د تدریس د اغیزو په هکله د لیسو د ادارو نظرونه په ښاری او کلیوالی سیمو کی ........................................................................ ۱۲۸

۱۵۷ ګراف: د تشبث ښوونیزی او روزنیزی مؤسسی سره د لیسو د مدیرانو پوهاوی ...... ۱۲۹

۱۵۸ ګراف: د تشبث مضمون په هکله ټرینګ شویو ښوونکو سلنه (د لیسی د مدیرانو نظر) ........................................................................ ۱۳۰

۱۵۹ ګراف: نورښوونکی د تشبث مضمون تدریس ته لیواله دی (د لیسو د مدیرانو په نظر) ........................................................................ ۱۳۱

۱٦۰ ګراف: د لیسو مدیران چی د تشبث مضمون په تدریس کی یی بدلون لیدلی دی ....... ۱۳۲

۱٦۱ ګراف: په کلیوالو او ښاری سیمو کی د لیسو مدیران چی د تشبث مضمون په تدریس کی یی بدلون تر سترګو شوی دی........................................................ ۱۳۲

۱٦۲ ګراف: د جنسیت په نظر کی نیولو سره د لیسو مدیران چی د تشبث مضمون په تدریس کی یی بدلون لیدلی دی ........................................................ ۱۳۳

۱٦۳ګراف: د جنسیت او ځای په نظر کی نیولو سره د لیسو مدیران چی د تشبث مضمون په تدریس کی یی بدلون لیدلی دی ................................................ ۱۳۳

۱٦٤ ګراف: د پوښښ لاندی سیمو کی د لیسو مدیران چی د تشبث مضمون په تدریس کی یی بدلون لیدلی دی ........................................................ ۱۳٤

۱٦٥ ګراف : د تشبث مضمون د تدریس په مهارتونو کی بدلونونه په ښاری او کلیوالی سیمو کی (د لیسو د مدیرانو نظر)........................................................ ۱۳٦

۱٦٦ ګراف: د جنسیت په نظر کی نیولو سره د تشبث مضمون د تدریس په مهارتونو کی بدلونونه ........................................................................ ۱۳۷

۱٦۷ ګراف: د تشبث مضمون د ښوونی وزارت په ښوونیز نصاب کی د شاملیدو وړاندیز (د لیسو د مدیرانو نظر)........................................................ ۱۳۸

۱٦۸ ګراف: د نورو لیسو اداری چی په ورځنی مهالویش کی د تشبث مضمون د شاملیدو لیواله دی (د لیسو د مدیرانو نظر) ................................................ ۱۳۹

۱٦۹ ګراف: د کلیو او ښاری سیمو د نورو لیسو اداری چی په ورځنی مهالویش کی د تشبث مضمون د شاملیدو لیواله دی (د لیسو د مدیرانو نظر) ............................ ۱٤۰

۱۷۰ ګراف: د ځواب ورکوونکو والدینو کچه د سیمو په اساس ............................ ۱٤۱

۱۷۱ ګراف: په ښوونځیو کی د ځواب ورکوونکو والدینو د ماشومانو شمیر ................ ۱٤۳

۱۷۲ ګراف: ځواب ورکوونکی والدین چې د خپلو ماشومانو د ټولګی په هکله یی مالومات درلودل ........................................................................ ۱٤٤

۱۷۳ ګراف: ځواب ورکوونکی والدین چې د تشبث مضمون په هکله یی مالومات درلودل ۱٤٥

۱۷٤ ګراف: ځواب ورکوونکی والدین چې د تشبث مضمون په هکله یی مالومات درلودل د جنسیت په اساس ........................................................................ ۱٤٥

۱۷٥ ګراف: د ښاری او کلیوالی سیمو د ځواب ورکوونکو والدینو سلنه او د ښځینه او نارینه والدینو سلنه ........................................................................ ۱٤٥

۱۷٦ ګراف: د تشبث مضمون په هکله د ځواب ورکوونکو والدینو مالومات ................ ۱٤۷

۱۷۷ ګراف: د تشبث په هکله د مالوماتو د لاسته راوړلو سرچینی ........................ ۱٤۹

۱۷۸ ګراف: د ځواب ورکوونکو والدینو د ماشومانو لخوا په کورونو کی د تشبث مضمون مطالعه ........................................................................ ۱٥۱

۱۷۹ ګراف: د جنسیت او ځای په اساس د زده کوونکو لخوا په کورونو کی د تشبث مضمون مطالعه ........................................................................ ۱٥۲

۱۸۰ ګراف: له تشبث مضمون سره د ماشومانو د لیوالتیا لاملونه........................ ۱٥۳

۱۸۱ ګراف: له تشبث مضمون سره د ماشومانو د لیوالتیا لاملونه (د والدینو نظر) .......... ۱٥٤

۱۸۲ ګراف: د ماشومانو په ژوند د تشبث مضمون ټولنیزی-اقتصادی اغیزی (د والدینو نظر) ........................................................................ ۱٥٥

۱۸۳ ګراف: د تشبث مضمون له ټولنیزو او اقتصادی اغیزو سره د والدینو توافق په ښاری او کلیوالو سیمو کی........................................................................ ۱٥٦

۱۸٤ ګراف: آیا والدینو کوم کاراوبار مخته وړی دی؟ ........................................ ۱٥۷

۱۸٥ ګراف: په کاراو بار کی بوختو نارینه او ښځینه والدینو سلنه او په ښاری او کلیوالی سیمو کی په کار بوختو والدینو سلنه ........................................ ۱٥۷

۱۸٦ ګراف: په کار او بار کی د والدینو برخه اخیستنه ........................................ ۱٥۸

۱۸۷ ګراف: په کاراوبار کی د تشبث له زده کړو او مهارتونو څخه کټه اخیستنه............ ۱٥۸

۱۸۸ ګراف: په کاراوبار کی د تشبث له زده کړو او مهارتونو څخه کټه اخیستنه د ځای او جنسیت په اساس........................................................................ ۱٥۹

۱۸۹ ګراف: د کاراوبار پر مخ وړلو کی د تشبث رول........................................ ۱٦۰

۱۹۰ ګراف: په کاراوبار کی د تشبث مضمون له زده کړو څخه د ګټی اخیستنی اهمیت .... ۱٦۰

د تشبث پروګرام د اغیزو ارزونه، ۲۰۱۷

۱۹۱ ګراف: هغه ماشومان چې توانیدلی دی یو کاراوبار پیل او پراختیا ورکړی (د والدینو نظر) ........................................................................................ ۱۶۱

۱۹۲ ګراف: د یو کاراوبار په پیلولو او یا پراختیا ورکوولو کی د زده کوونکو د وړتیاوو په اړه د والدینو نظر ........................................................................................ ۱۶۲

۱۹۳ ګراف: د تشبث د زده کړو په اساس د یو کار د پیل او یا پراختیا ورکولو د بریالیتوب کچه (د والدینو په نظر) ........................................................................................ ۱۶۳

۱۹٤ ګراف: د تشبث د زده کړو په اساس د یو کاراوبار د پیل او یا پراختیا د بریالیتوب لاملونه........................................................................................ ۱٦٦

۱۹۵ ګراف: د تشبث د زده کړو په مرسته د ځواب ورکوونکو والدینو د ماشومانو د کار خوندیتوب........................................................................................ ۱٦۷

۱۹٦ ګراف: د تشبث د زده کړو په مرسته د دندی خوندیتوب (د والدینو په نظر) ............ ۱٦۷

۱۹۷ ګراف: د دندی په خوندیتوب کی د تشبث د اهمیت لاملونه ................................ ۱٦۸

د تشبث پروګرام د اغیزو ارزونه، ۲۰۱۷

**د جدولونو لیست:**

۱ جدول: د پوښښ لاندې سیمو کې د لیسو مدیران چې د تشبث مضمون په تدریس کې یې بدلون لیدلی دی ........................................................................ ۱۳۵

۲ جدول: د ځای او جنسیت په نظر کې نیولو سره د تشبث مضمون اړند د ځواب ورکوونکو والدینو لخوا شریک شوی مالومات .................................................... ۱۴۸

۳ جدول: د تشبث مضمون په هکله د والدینو د مالوماتو د لاسته راوړلو سرچینې د جنسیت او ځای په نظر کې نیولو سره ............................................................ ۱۵۰

۴ جدول: د تشبث د زده کړو څخه په ګټې اخیستو د کاراوبار د پیل او یا پراختیا د بریالیتوب کچه (د والدینو په نظر) ........................................................... ۱۶۴

۵ جدول: د تشبث د زده کړو څخه په ګټه اخیستو د کاراوبار د پیل او یا پراختیا د بریالیتوب کچه (د والدینو په نظر) ........................................................... ۱۶۴

٦ جدول: د تشبث د زده کړو څخه په ګټې اخیستو د کاراوبار د پیل او یا پراختیا د بریالیتوب کچه (د والدینو په نظر) ........................................................... ۱٦۴

۷ جدول: د تشبث زده کړو په مرسته د کاراوبار د پیل او یا پراختیا د بریالیتوب لاملونه (د والدینو په نظر) ........................................................................ ۱٦٦

د تشبث پروگرام د اغیزو ارزونه، ۲۰۱۷

**لنډیزونه:**

| | | |
|---|---|---|
| ۱ | ACBAR | د افغانانو لپاره د بشري او انکشافي مرستو د همغږۍ اداره (اکبر) |
| ۲ | AISA | د افغانستان د پانگې اچونې څخه د ملاتړ اداره |
| ۳ | ANA | د افغانستان ملی اردو |
| ٤ | ANDS | د افغانستان د پراختیا ملی ستراتیژی |
| ٥ | CIPE | د نړیوالو خصوصی متشبثینو مرکز |
| ٦ | GPI | د جنسیت د انډولتیا ځانگیړنه |
| ۷ | SMEDD | د کوچنیو او منځنیو متشبثینو د ودی ریاست |
| ۸ | SRS | د مختلفو طبقو په تصادفی توگه ویشل |
| ۹ | TEO | د تشبث ښوونیزه او روزنیزه مؤسسه |

## سریزه

مننه او ستاینه هغه ذات لره چی انسان یی په مخلوقاتو کی غوره پیدا کړ او هغه ته یی د عقل، فکر او خبرو کولو وړتیا ورکړه. د ده په اختیار کی یی دومره لویه نړی ورکړه او د ښه ژوند کولو لاری یی ورته برابری کړی. په دې څو وروستیو لسیزو کې د نړیوال کیدنی چټکو اوپیچلیو بدلونونو بهیر د دې سبب شوي دي چې ټولنې ډول ډول هلي ځلي وکړي اوخپل ځانونه تر پخوا لا زیات د دغو بدلونونو د منلو لپاره چمتوکړي. مخ پر ودې هیوادونه په تیره بیا زمونږ هیواد د یوه خوځنده اقتصاد رامنځ ته کولو او کلک بنسټ ایښودلو ته ډیره اړتیا لري. دغي موخې ته د رسیدو لپاره یواځنی لاره د کار موندل او د تشبث د فرهنګ رامنځ ته کول دی.

تشبث په حقیقت کې د وګړو د خلاقیت د ودې او نوښت د پیاوړتیا لپاره د لارې هواروونکی دی چې د خلاقو وړتیاوو په لاسته راوړلو، د فکر، لیدلوری او نوښتګرو طرحو په وړاندې کولو سره کسب او کار را منځ ته کړی او د خطرونو په منلو او ګواښونو په زغملو سره نوی محصول وړاندې کړي.

د تشبث موخی د خلاقو ځوانانو روزنه او وده، له اقتصادي فرصتونو ګټه پورته کول او د ټولنې لپاره د کار د فرهنګ رامنځ ته کول دي چې په اوږد مهاله توګه په ملي اقتصاد کې د بنسټیزو بدلونونو د رامنځ ته کولو لامل کیږي. او دا هغه فرهنګ دی چې اسلام تایید کړی او خپل لارروایان یی ورته هڅولی دی لکه څرنګه چې د اسلام ستر پیغمبر په یوه قدسي حدیث کې فرمایلي دي: ( زه د دوه شریکانو تر منځ دریم شریک یم تر هغې چې له یو بل سره یې خیانت نه وي کړی خو کله چې له یو بل سره خیانت وکړي نو زه یې له منځ څخه ووځم).[1]

د تشبث ښوونیزې او روزنیزې مؤسسې د افغانستان د ځوانانو لپاره د تشبث ښوونیز پروګرام چمتو کړی دی ترڅو زده کوونکي د ښوونیزې دورې په پای کې وکړای شي د نوښت او ځان بسیاینې په لوري ګامونه پورته کړي. دغه ښوونیز پروګرام ځوانان د سوداګری د پراختیا ا و د آزاد بازار د اقتصاد له څرنګوالی او توکو سره آشنا کوي او هغوی ته د مشری، په سوداګری کې

[1] عن أَبِي هُرَيْرَةَ (رض) قَالَ : قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صلى الله عليه وسلم : يَقُولُ اللَّهُ عَزَّ وَجَلَّ: أَنَا ثَالِثُ الشَّرِيكَيْنِ مَا لَمْ يَخُنْ أَحَدُهُمَا صاحبه، فَإِذَا خَانَهُ خَرَجْتُ مِنْ بَيْنِهِمَا ( رواه ابوداؤد و صححه الحاكم)

د خطر منلو، نوښت، پرله پسې کار، د آزاد بازار او دموکراسۍ ترمنځ د اړیکو د مهارتونو په هکله پوهاوي ورکوی او د ځوانانو ترمنځ د ملی روحیی رامنځ ته کوولو او د مسوولیتونو د منلو روزنه کوی. ترڅو له هر یوه څخه، یو متشبث جوړشي او وکړای شي ځان او نورو ته د کار پیدا کولو زمینه برابره کړي او په اوږد مهاله کې د اقتصاد، تکنالوژی، پوهنې، روغتیا، کرنې او نورو برخو لپاره په افغانستان او نړی کې یو نوی غورځنګ رامنځ ته کړي.

د تشبث ښونیزه او روزنیزه مؤسسه، د پوهنی وزارت په همغږی د څو کلنو را پدی خوا د هیواد د څلورو ولایتونو په ۴۳ لیسو کی د تشبث مضمون تدریس پرمخ وړی. ولی، تر اوسه یوه هر اړخیزه څیړنه چې د پروګرام اغیزمنتوب روښانه کړی نده ترسره شوي. نو له دې امله د تشبث پروګرام د اغیزو ارزونه د ۱۳۹۴ کال په پای کې پلان شوه. د دی ارزونی لومړنۍ موخی په لاندی ډول دی:

- د ځوانانو ټولنیزی او اقتصادي پیاوړتیا او د ځان بسیاوالی په اړه د تشبث پروګرام د اغیزو ارزونه.
- د تشبث د زده کوونکو هغه سلنه مالومول چې یو نوی کاراوبار یې پیل کړی، خپلې پخوانۍ سوداګری ته یې پراختیا ورکړې او یا د دندی څښتن شوی، او یا یی د نورو ځوانانو لپاره د کار زمینه برابره کړی ده.

دا ارزونه چې د تشبث پروګرام هر اړخیزې اغېزې پکی را نغښتی دی د تشبث ښوونیزی او روزنیزی مؤسسی د هیت لخوا لوستونکو ته وړاندی کیږی.

فضل ربی حقبین

د تشبث ښوونیزی او روزنیزی مؤسسی رئیس

## مننه‌ویې

د تشبث ښوونیزه او روزنیزه مؤسسه له ټولو اړونده کارکوونکو په شمول د داکټر اکمل نصرت لیکونکی او لارښود، فضل ربی حقبین بیا کتونکی، د ساحوی کار کوونکو هریو آرزو حیدری، حفیظ الله دلدار، سید جلال رحمانی او فرحناز افضلی څخه مننه کوی چی د تشبث پروګرام د اغیزو په دی ارزونی کی یی کوښښونه او نه ستړی کیدونکی هلی ځلی کړی دی.

د تشبث ښوونیزه او روزنیزه مؤسسه د پوهنی وزارت له ریاستونو او آمریتونو هریو کابل ښار، چاریکار، جلال آباد، کابل ولایت، پروان، ننګرهار، بامیان، ټولو ښوونیزو حوزو، د لیسو ادارو، زده کوونکو او ښوونکو په ښاری او کلیوالی سیمو کی چی له مونږ سره یی په مرکو کی مرسته کړی ده مننه کوی.

د تشبث ښوونیزه او روزنیزه مؤسسه همدارنګه د پوهنی وزارت او د دموکراسی ملی بنسټ له ملاتړ څخه د تشبث پروګرام د اغیزو په ارزونی او د تحقیقاتی ظرفیت لپاره د زمینی له برابرولو څخه مننه کوی.

## اجرایوي لنډیز

د تشبث ښونیزه او روزنیزه مؤسسه، د پوهنې وزارت په همغږۍ د هیواد په څلورو ولایتونو او ۴۳ لیسو کې د تشبث مضمون تدریس پرمخ وړي. که څه هم، یوه هراړخیزه مطالعه چې د پروګرام اغیزمنتوب روښانه کړي تر اوسه نده ترسره شوي. نو له دې امله د تشبث پروګرام د اغیزو ارزونه د ۱۳۹۴ کال په پای کې پلان شوه. د دې ارزونې لومړنۍ موخې په لاندې ډول دي:

- د ځوانانو ټولنیزې او اقتصادي پیاوړتیا او د ځان بسیا کولو په اړه د تشبث پروګرام د اغیزو ارزونه.
- د تشبث د زده کوونکو سلنه مالومول چې یو نوی کاروبار یې پیل کړی، خپلې پخوانۍ سوداګرۍ ته یې پراختیا ورکړې او یا د دندې څښتن شوي، او یا یې د نورو ځوانانو لپاره د کار زمینه برابره کړې.

## پوښتنلیکونه

له ۴۰۰ زده کوونکو، ۶۱ د تشبث ښوونکو، ۴۳ د لیسو مدیرانو (چیرته چې د تشبث مضمون تدریس شوی وو) او ۸۰ د زده کوونکو له مور او پلار څخه د مالوماتو د راټولولو په موخه پوښتنلیکونه ترتیب شول. څرنګه چې نږدې ۳۴۰۰۰ زده کونکو د تشبث مضمون لوستی وه او د ټولو زده کونکو ارزونه یو پیچلی کاروه، نو له دی امله د زده کونکو له جملی څخه یو شمیر د نمونې په توګه د نمونو د تعین د نړیوالو معیارونو پر اساس غوره شول. مګر د تشبث له ټولو ښونکو او د اړونده لیسو له مدیرانو سره مرکی وشوی. د ۲۰۰ څخه زیاتو د هغو زده کونکو له جملی چې یو نوی کاروبار یې پیل کړی، خپلې پخوانی سوداګری ته یې پراختیا ورکړې او یا د دندی ښتن شوی، او یا یی د نورو ځوانانو لپاره د کار زمینه برابره کړی د ۸۰ وو والدینو په دی ارزونه کی برخه لرله.

د پورته ذکر شویو څلورو ګروپونو څخه د لومړنیو مرکو موندنې د زده کوونکو په دواړو شخصي او کاروباری اړخونو کې د تشبث د اغیزو په هکله بی ساری ملاتړ ښیي. د ارزول شویو څلورو واړو ګروپونو لومړنی موندنې په راتلونکو پراګرافونو کې واضح شوی دی.

## زده کونکی

هغه زده کونکي چې د ارزونې لپاره پیژندل شوي ول د ۱۰، ۱۱ او ۱۲ ټولګیو زده کونکی وو، کومو چی د تشبث مضمون لوستی وه. د ۴۰۰ زده کونکو څخه راغونډ شوي ارقام ښیی چې د تشبث پروګرام له ٪۶۹ زده کونکو سره د نوی کاروبار په پیلولو کی مرسته کړې ده. کله چې له دوی څخه وپوښتل شول چی د تشبث پروګرام څه ډول له دوی سره مرسته کړی ده، زده کونکو د سوداګرۍ سره د تړل شویو موضوع ګانو، پروپوزلونو پراختیا لپاره هڅونې او د سوداګری د کچی لوړولو لپاره د نویو کاروباري مفکورو رامینځ ته کولو څخه یادونه وکړه. په پاتې ٪۳۱ کې، ٪۸۵ یې په راتلونکي کی د تشبث له زده کړو څخه په استفادی د کاروبار د پیلولو یادونه وکړه. دی مضمون د زده کونکو له نیمایي څخه زیاتو سره مرسته کړی چی د خپلې کورنۍ سوداګرۍ ته د تشبث په مرسته د سوداګری د اصولو د زده ګری پر اساس پراختیا وکړی. دا په داسی حال کی ده چی، ٪۷۷ زده کونکو د سوداګرۍ د پراختیا په پرتله د سوداګرۍ په پیل کی د مضمون له اهمیت څخه یادونه وکړه. د تشبث پروګرام زده کوونکو ته دا وړتیا ورکوی چی د سوداګرۍ معیاری اصولو له مخې کاروبار پیل کړی. همدارنګه د تشبث مضمون د مسلکی پراختیا او د سوداګری د پیاوړتیا لپاره د امکاناتو په رامینځ ته کولو کی مهم رول لوبوي. د زده کوونکو شپیته سلنه ځواب ورکوونکي، نجونې او هلکان دواړه پدی آند دی چې د تشبث مضمون د سوداګرۍ د پیل کولو لپاره خورا مهم دی. دا پورته یادونی دا په ډاګه کوي چې د تشبث پروګرام

د ځوانانو په دواړو طبقو (هلکانو او نجونو) کی د اقتصادی ودی او اقتصادي ځان بسیاتوب کی مساوي مؤثریت لرلی دی.

په زړه پوري داده چی، د تشبث مضمون تدریس د ٥۸٪ ځواب ورکوونکو ترمنځ د سوداګری د مدیریت په چلند کی بدلون راوستی. د تشبث مضمون د تدریس یو له مهمو اغیزو څخه دادی چی ۸۱٪ زده کونکو د دی مضمون د لوستلو له امله کار موندلی دی. د تشبث د مضمون له لوستلو وروسته ٥۸٪ زده کونکی پدی توانیدلی چی خپل کاروبار ته پانګه لاسته راوړی. همدارنګه، ۷۰٪ ځواب ورکونکو زده کونکو ویلی دی چی پدی توانیدلی چی د خپلی سوداګری پانګه د پخوا په پرتله په ښه توګه اداره کړی. ۲۹٪ د زده کونکو پدی توانیدلی چی نورو ځوانانو ته کار پیدا کړی. دی زده کوونکو ویلی دی چی داسی تغیرات یی د کاروبار په رهبری کوولو کی تجربه کړی چی د تشبث د مضمون له لوستلو مخکی ورسره بلد نه ول. د یادونی وړ ده چی ۷۹٪ زده کونکی فکر کوی چی که چیری د تشبث اصول په کاروبار کی مراعات شی نو ډیرو ځوانانو ته به د کار زمینه برابره شی. د تشبث د مضمون له لوستلو وروسته ۹۷٪ زده کونکو په محاوره، اړیکو، شبکی، مشرتابه، پریکړی کولو، پلان او عملی کولو او لازمو مهارتونو کی یو ډول بدلون لیدلی دی. د تشبث د اصولو د عملی کولو په رڼا کی ۶۹٪ زده کونکی پدی توانیدلی چی یو نوی سوداګریزه طرحه جوړه کړی، په داسی حال کی چی ۱۳٪ زده کوونکو له یو طرحی زیاتی ترتیب کړی وی.

اته څلویښت سلنه ځواب ویونکو زده کوونکو خپل محصولات په نندارتونونو کې ښودلي، چی دا د زده کونکو انګیزه منعکسوی چی خپل محصولات په پراخه کچه لیدونکو ته ښکاره کړي. د زده کوونکو ۸۷٪ په زړه پورې توګه د تشبث په غونډو کې برخه اخیستې، چی دا د دوی د ځان په اقتصادی بسیاوالی کی د دلچسپی ښکارندویی کوي. د ځواب ویونکو یو پر څلورمه برخه زده کوونکو وویل چی د نورو لیسو زده کونکی پیژنی چې د تشبث په مرسته یی کاراوبار پیل کړي دی.

## ښوونکی

د تشبث ۹۸٪ ښوونکو ویلي دی چې زده کوونکي یی له تشبث مضمون سره ډیره علاقه لری، په تېره بیا د سوداګرۍ په اړه زده کړی. په زړه پورې داده چی، د لسم ټولګی نه لاندې زده کوونکو، د تشبث په اړه له ٦۴٪ ښوونکو سره خبرې کړې دی. دا خبره د دی ښکارندوینه کوی چی د تشبث پروګرام زده کوونکو د تشبث مضمون د اهمیت په هکله د ټیټو ټولګیو له زده کونکو سره خبری کړی دی. ۹۷٪ ځواب ورکوونکو ښوونکو دا څرګنده کړه چی زده کوونکی د تشبث د مضمون په اهمیت پوه شوی دی، او د تشبث د زده کړی په هکله د دوی تر منځ دلچسپی ډیره شوی ده. د اقتصادي پیاوړتیا ترڅنګ، ټولو ښوونکو ځواب ورکړ چې تشبث د زده کوونکو په

ټولنیز ژوند باندې هم اغیزه درلودلې ده. د ۸۹٪ ښوونکو زده کوونکې په دې توانیدلې چې یو کاروبار پیل کړي یا هغه ته پراختیا ورکړي، پداسې حال کې چې د تشبث د ښوونکو ۹۳٪ زده کونکو دندې ترلاسه کړي دي. د تشبث اووه څلویښت سلنه ښوونکو، په هغو ښوونځیو کې چې تشبث نه تدریسیږي د خپلو زده کوونکو علاقه د تشبث د زده کړې په هکله ښودلې ده.

### د ښوونځیو اداري

د یادونې وړ ده چې د ټولو ۴۳ ښوونځیو مدیران د تشبث مضمون او د هغه ملاتړ څخه چې د تشبث ښونیزې او روزنیزې مؤسسې لخوا د تشبث مضمون د تدریس لپاره پر لاره اچول شوی خبر ول. د ښوونځیو د ادارو له علاقې سره سم، د ښوونځیو ۹۲٪ ادارو خپلو ښوونځیو کې د تشبث درس تر څارنې (نظارت) لاندې نیولې دی، او ۶۹٪ د دوی له جملې څخه د تشبث تد ریس ګټور ګڼلی دی. برسیره پردې، د لیسو مدیرانو ۸۹٪ د تشبث د ښوونکو د تدریس په مهارتونو کې مثبت بدلون لیدلی دی. شپږ اویا سلنه د ښوونځیو مدیرانو زیاته کړه چې د دې مضمون د اهمیت له مخې نورو ښوونکو هم د دې مضمون د تدریس لپاره چمتووالی ښودلی دی. په پای کې، ۳۲٪ د لیسو ادارو یادونه وکړه چې د نورو ښوونځیو ادارو هم په خپلو ښوونځیو کې د تشبث مضمون د تدریس د پیلولو لپاره دلچسپي ښودلې ده.

### مور او پلار (والدین)

د زده کوونکو له والدینو سره هم مرکې وشوې؛ له دوی څخه ۸۲٪ د تشبث په اړه پوهاوی درلوده. دا د زده کونکو د کورنیو لپاره د تشبث د مضمون د اهمیت ښکارندویي کوي. ۹۲٪ سلنه د والدینو یادونه وکړه چې د دوی ماشومان د دې مضمون د زده کړې سره زیاته مینه لرې تر دې پورې چې دوی په کور کې هم د تشبث مضمون لولې. سربیره پر دې، د والدینو ۸۲٪ یادونه وکړه چې دوی د خپلو ماشومانو سره د دی مضمون په اړه په منظمه توګه خبرې کوي. ۹۶٪ والدین پدې باور دي چې دا مضمون د ماشومانو د ټولنیز اقتصادي ژوند ښه والي لپاره خورا مهم ده. په سلو کې څلور شپیتو والدینو یادونه وکړه چې دوی د تشبث پوهې او اصول په خپلو کاروبارونو کې کارولي او د دوی ماشومان د دې پوهې سرچینې وی. ۵۲٪ والدین په دې باور دی که د دوی ماشومان د تشبث د اصولو پر اساس کاروبار پیل کړې نو بریالې به وی.

## په تولیز ډول موندنې

د ارزونې پایلې دا څرګندوي چې د تشبث ښوونیزي او روزنیزي مؤسسې یو اغیزمن پروګرام پلي کړی دی، ځکه چې زیاته کچه هغو زده کونکو چې دا مضمون یې لوستی دی په دې توانیدلی دی چې د مضمون د پوهې په کارولو سره یوه نوې سوداګرۍ پیل او یا د یو خوندي کار څښتن شي. په زیاته کچه زده کونکو یادونه وکړه چې په راتلونکي کې به د خپل مالي توانمندۍ او پایښت لپاره به د تشبث له پوهې کار واخلي. د تشبث په ښوونکو او د ښوونځیو په مدیرانو باندې د تشبث مضمون اهمیت دومره تاثیر کړی دی چې ۹۸٪ ښوونکو او ۹۲٪ مدیرانو د دې مضمون په ملي نصاب کې د شاملیدو وړاندیز وکړ.

# ۱ لومړی څپرکۍ

## د ارزونې پیژندنه

### ۱,۱ ارزونه او د هغې محتوی

د تشبث ښونیزی او روزنیزی مؤسسی بنسټ د ۱۳۸۹ کال د قوس په میاشت کی کیښودل شو؛ دا مؤسسه په ځوانانو متمرکزه ده چې د هیواد پالنی مسؤلیت، مشرتابه او ښی حکومتولی اصولو ته وده ورکوی. همدارنګه دا مؤسسه د بازار د اقتصاد اړوند درسونه برابروی او په کابل، ننګرهار، پروان او بامیانو کې د ۱۰، ۱۱ او ۱۲ ټولګیو د لیسو زده کوونکو ته د شبکې (اړیکو) آسانتیاوي برابروی. د تشبث ښونیزه او روزنیزه مؤسسه د نړیوالو خصوصي متشبثینو د مرکز (CIPE) له پروژی څخه منځ ته راغله ترڅو تشبث ته وده ورکړی.

د تشبث ښونیزه او روزنیزه مؤسسه یوه افغانی، غیر انتفاعي، غیر دولتي مؤسسه ده چې د افغانستان اسلامی جمهوری دولت د اقتصاد له وزارت سره راجستر شوی ده. همدا رنګه دی مؤسسی د افغانستان اسلامی جمهوری دولت له پوهنې وزارت سره د همکاری یو تفاهم لیک لاسلیک کړی او د افغانانو لپاره د بشری او پرمختیایی مرستو د همغږی د اداری (ACBAR) غړی هم ده. د تشبث ښونیزه او روزنیزه مؤسسه د لوړ رتبه او متخصصو غړو د فعاله بورډ درلودونکی ده.

د تشبث ښونیزه او روزنیزه مؤسسه ځوانانو ته د ښوونېزو کړنو له لاری د تشبث مهارتونه ورښیی ترڅو یو متشبث تری جوړشی، په دی مهارتونو کی د بازار اقتصاد، د فقر او فساد پروړاندی مقابله، او د ښې حکومتداری او اخلاقي سوداګری کړنو وده شامله ده. د تشبث ښونیزی او روزنیزی مؤسسی ماموریت دا دی چې ډیموکراتیکو اصولو او دوامداری پراختیا ته د ښوونی له لارې د افغان ځوانانو ترمنځ وده ورکړی.

#### ۱,۱,۱ د تشبث پروګرام لپاره اړتیا

درې تر څلورو لسیزو دمخه، افغان ملي او ولایتي حکومتونو وده ومونده. په هغه وخت کې په کمه کچه د لوړو زده کړو مؤسسې وې چې په کال کې یې یوازې یو څو سوه زده کونکي فارغول، او حکومت د نوو کارکونکو استخدام ته اړتیا درلوده. مسلکی فارغان ، په تیره بیا تجربه لرونکي، د اړتیاوو سره سم وزارتونو ته معرفي کیدل. ټولو د پوهنتونونو فارغانو کارونه موندل او حتی د دولسم ټولګی فارغان هم په نوو تاسیس شوو ښونځیو کی د ښوونکو په توګه ګمارل کیدل.

اوس وخت کی څه د پاسه سل دولتی او خصوصی پوهنتونونه او د لوړو زده کړو مؤسسی وجود لری چې هرکال نیږدی د ۴۰۰۰۰ تر ۵۰۰۰۰ محصلین د لیسانس په کچه تری فارغیږی او داسی

تمه کیږی چی دا تعداد هم د ظرفیت اوشمیر له مخی زیاتوالی ومومی. د دولت په تشکیلاتو کی تقریبا ۳۶۵۰۰۰ بستونه موجود دی چی ټول یی ډک شوی دی او خالی بستونه په ډیره کمه کچه موندل کیږی. هر کال فارغین د بي روزګاره ځوانانو په لیکو کي اضافه کیږی چي هیله لري په حکومتي پوستونو کی د ۱۳۱۹ څخه تر ۱۳۳۹ کلونو په څیر به په دندو وګمارل شي، ولی د پخوا په پرتله ورته اړیبا نشته.

۳،۲،۱ او ۴ ګرافونه د افغانستان د ۱۳۹۲، ۱۳۹۳، او ۱۳۹۴ کلونو د فارغانو شمیر ښیی چی د دولتی پوهنتونونو د کانکور په آزموینی کی یی برخه اخستی ده. په ۱۳۹۲ کال کی د لوړو زده کړو وزارت توانیدلی وه چی یواځی ٪۶۰ د کانکور آزموینی ورکونکی پوهنتونونو ته جذب کړی او پاتی ٪۴۰ ونه توانیدل چی د پوهنتونونو د شمولیت معیارونه پوره کړی. هرکال د هغوکسانو شمیر چی د پوهنتونونو معیارونه نشی پوره کولی زیاتیږی په داسی حال کی چی په ۱۳۹۳ کال کی دا شمیر ٪۴۸ ته لوړشو. په خوښی سره باید ووایو چی د کانکور آزموینی پراوونو په زیاته کچه ښه والی موندلی چی لاندی ګرافونه د ۱۳۹۵ کال دا بدلونونه په ګوته کوی.

۱ ګراف: د ۱۳۹۲ کال د دولسم ټولګی د فارغانو د کانکور د آزموینی پایلی



۲ ګراف: د ۱۳۹۳ کال د دولسم ټولګیو د فارغانو د کانکور د آزموینې پایلې




۳ ګراف: د ۱۳۹۴ کال د دولسمو ټولګیو د فارغانو د کانکور د آزموینې پایلې



٤ ګراف: د ۱۳۹۴ کال د دولسم ټولګیو دفارغانو د کانکور آزموینی پایلی د جنسیت په اساس




دا ډیر شمیر د لیسو او پوهنتونو فارغان، که د دندی چانس ورته برابر نشی، کیدای شی چی د معتادین، مخالفینو او یا مجمریمینو لیکو سره یوځای شی، او یام هم د سخت دریزی عقایدو ښکارشی. د تشبث پروګرام د دی فارغینو اړتیاوی د آزاد بازار د اړتیاوو سره سم د مهارتونو په ښوونی سره پوره کوی چی دا مهارتونه دوی ته کاری آسانتیاوی منځ ته راوړی.

دا پروګرام په خاصه توګه د ښځینه وو لپاره د اهمیت وړ دی، د دی لپاره چی نجونی ښه استعداد او تجارت سره ډیره دلچسپی لری، مګر کلونه د دی فرصت څخه محرومی وی. د دی لپاره اړینه ده چی دا پروګرام په ټولو لیسو او د هیواد په ټولو ولایتونو کی پلی شی. د تشبث د ښوونیزی او روزنیزی مؤسسی د مشرتابه او د رئیسانو د بورډ هدف هم دادی چی د اړونده ښستیونو او پروګرامونو سره همغږی او مشارکت ولری.

### ۱،۱،۲ د تشبث پروګرام

د تشبث ښونیزه او روزنیزه مؤسسه د تشبث نصاب د هیواد د څلورو ولایتونو په لیسو کی پلی کوی. (CIPE) یا د نړیوالو خصوصی متشبثینو مرکز دا نصاب د ۱۰ نه تر ۱۲ ټولګیو زده کونکو ته د فراغت څخه د مخه د تشبث د ښونی لپاره جوړ او په ۱۳۸۴ کی یی پلی کړ. د تشبث ښونیزه او روزنیزه مؤسسه له ۱۳۹۳ کال څخه را پدی خوا د دی پروګرام پلی کول په غاړه لری.

۴۳ لیسی د تشبث په پروګرام کی برخه لری، چی د دی له ډلی څخه، ۲۹ لیسی په کابل، ۵ لیسی په بامیانو، ۴ لیسی په ننګرهار او ۵ لیسی په پروان ولایت کی موقعیت لری. له ۳۴۰۰۰ څخه زیات زده کونکی د دی ښوونیز نصاب پر زده کړه بوخت دی. ۶۳ ښوونکی د تشبث له پروګرام

سره کارکوی. ښوونکی د ښوونیز کال په اوږدو کی زده کوونکو ته په خپلو لیسو کی د تشبث مضمون تدریس پر مخ وړی. ښوونکی هم وړاندی او هم وروسته له تدریس څخه د زده کوونکو ارزونه کوی. د ټولو زده کونکو نمری ساتل کیږی او یوه کاپی یی د تشبث ښوونیزی او روزنیزی مؤسسی ته استول کیږی. د تشبث د پروګرام اړوند اکثره لیسی یوه د ننداړتون خونه لری او زده کوونکی د خپلو تولیداتو نمونی پکی ننداری ته وړاندی کوی.

دواړه هم د نجونو او هم د هلکانو لیسی په دی پروګرام کی برخه لری، په دی ډول چی ۱۶ لیسی د هلکانو او ۲۷ لیسی د نجونو دی. د ښوونیز کال په پیل کی زده کونکی هڅول کیږی ترڅو په لیکلی بڼه خپلی کاروباری طرحی ډیزاین کړی؛ د سوداګریزو طرحو لیکل حتمی نه دی او دا یوه اختیاری کړنه ده. تجارتی طرحی کیدای شی چی نوی او یا هم د کورنی د اوسنی کاراوبار د پرمختګ او یا ښه والی لپاره وی. دا تجارتی طرحی د لیسو په سطحه د ښوونکو لخوا ارزول کیږی او د دوی له منځ څخه لس ښی طرحی غوره کیږی. وروسته بیا دا زده کونکی، خپلی تجارتی طرحی د تشبث ښونیزی او روزنیزی مؤسسی هیئت، د تشبث ښوونکو او د لیسو مدیرانو ته وړاندی کوی. دا هیئت له دی لسو طرحو څخه دری غوره طرحی په ګوته کوی او د ارزونی لپاره یی د تشبث ښونیزی او روزنیزی مؤسسی ته لیږی؛ د تشبث ښونیزه او روزنیزه مؤسسه د ټولو لیسو د تجارتی طرحو له ارزونی وروسته، ۵۰ غوره طرحی ټاکی. وروسته د تشبث ښونیزه او روزنیزه مؤسسه له دی ۵۰ غوره طرحو، لس اعلی طرحی د وروستی پړاو سیالی لپاره غوره کوی. د تجارتی طرحو د وروستیٔ سیالی په اړه قضاوت د یو آزاد او نا پییلی څارونکی هیئت لخوا کیږی چی د پوهنتونونو د ښوونکو، د پوهنی او نورو اړونده وزارتونو او خصوصی سکټور له استازو څخه جوړ دی. دا هیئت د لسو غوره سیالی کوونکو څخه دری د اول، دوهم او دریم کټونکی په توګه غوره کوی.

د تشبث ښوونیزه او روزنیزه مؤسسه د وروستی پړاو لسو بهترینو ونډه اخیستونکو ته جایزی او نورو ګډونکونکو ته ستاینلیکونه ورکوی. او همدارنګه د تشبث ښونیزه او روزنیزه مؤسسه ۵۰ ښه سیالی کوونکو او لسو اعلی سیالی کوونکو ته د زده کړو پروګرامونه پرلار اچوی او هغوی د تشبث اړونده ادارو ته د لا زیات ملاتړ په موخه وربیژنی لکه د سوداګری وزارت د وړوکو او منځینیو تشبثاتو ریاست، له پانګی اچونی څخه د ملاتړ مستقله اداره (آیسا) او یا نوری مالی ملاتړ کوونکی اداری.

په زرګونو زده کوونکو د تشبث مضمون زده کړی دی، ولی د دی مضمون د اغیزو ارزونه تر اوسه نه وه ترسره شوی. له همدی کبله، دا اړینه وه چی یوه ټولیزه ارزونه د هغو بدلونونو په هکله چی د تشبث مضمون د زده کوونکو، ښوونکو، د لیسو مدیرانو او د زده کوونکو د والدینو په فکرونو کی منځ ته راغلی ترسره شی.

## ۱,۲ د ارزونې موخه

### ۱,۲,۱ د ارزونې اوږد مهاله موخه

د دې څیړنې تولیزه موخه د زده کوونکو په تولنیز اقتصادي ژوند کې د مثبتو بدلونو په راوستلو کې د تشبث پروګرام د اغیزو ارزونه ده

### ۱,۲,۲ د ارزونې لنډ مهالې موخې

د څیړنې ځانګړې موخې په لاندې ډول دي:

۱. د تشبث مضمون په هکله د زده کوونکو د پوهې کچې ارزونه او دهغې اهمیت
۲. د زده کوونکو د تولنیز اقتصادی ژوند د بدلون په برخه کې د ښوونکو د مرستې ارزونه
۳. د تشبث مضمون په هکله د ښوونځیو د ادارو د پوهاوی د کچې ارزونه او د هغې اغیزې په زده کوونکو کې
٤. د تشبث مضمون اړوند د والدینو د نظرونو په هکله مالومات لاسته راوړل

## ۱,۳ دارزونې چلند او میتودولوژي

### ۱,۳,۱ د نمونې کچه او د نمونې اخستل

#### ۱,۳,۱,۱ د نمونې کچه

د یادونې وړ ده چې د ۳۲۳۷۵ په شمیر زده کوونکې د تشبث مضمون په زده کړه بوخت ول. نو تول زده کوونکې د دې څیړنې تر پوښښ لاندې راوستل یو پیچلې کار وه. له دې امله، د نمونه اخیستنې د منل شویو نړیوالو معیارونو په پام کې نیولو سره، د نمونې اخیستنې یوه کړنلاره په لاره واچول شوه. په دې اساس، د ٪۵ باور واټن، ٪۹۵ باور کچې او د ۳۲۳۷۵ زده کونکو شمیر په پام کې نیولو سره، د نمونې اندازه د مطالعې لپاره ۴۰۰ وټاکل شوه. برسېره پردې، د ارزونې د هدف لاندې نورو ډلو لپاره هم د نمونې کچه غوره شوه. د ښوونکو له منځ څخه، تول ښوونکې د مطالعې لپاره غوره شول او د هرې لیسې له اداري څخه یو تن په مرکه کې وپوښتل شو. په پای کې، د زده کونکو د والدینو د نمونې کچه د یادو شویو معیارونو سره سم محاسبه شوه او ۸۰ تنه والدین د مرکې لپاره و ټاکل شول.

### ۱,۳,۱,۲ د نمونې اخیستنه

لکه څرنګه چې وویل شول د وخت د کمښت په نظر کې نیولو سره په دې څېړنه کې د ټولو زده کوونکو ارزونه یو ستونزمن کاربریښیده، نو له همدې کبله د نمونې اخستنې له میتودولوژیو څخه ګټه واخستل شوه ترڅو د پام وړ شمیر د پروګرام ګټه اخیستونکي تر پوښښ لاندې راولو او د څېړنې پایلې د اعتبار وړ وي. د دې لپاره چې د ټولو زده کونکو یو ښکاره انځور ولرو، د نمونې اخیستنې لپاره مو یوه معیاري لاره تعقیب کړه کومه چې د لاندې ځانګېرنو درلودونکې وه:

(۱) د څېړنې د نفوس تعریف،

(۲) د نمونې اخیستلو چوکاټ،

(۳) د نمونې اخیستنې میتود،

(۴) د نمونې اخیستنې اندازه مالومول،

(۵) د نمونې اخیستنې پلان پلې کول،

(۶) په ساحوی کچې د نمونې اخیستل او د مالوماتو راغونډول

لکه څنګه چې مخکې یادونه وشوه چې د زده کوونکو په ټولنیزو اقتصادي ځانګېرنو کې د ښه والي په موخه د تشبث د اغیزمنتیا لپاره د ټولو زده کوونکو سره مرکه کول ستونزمن وو. نو ځکه، د مطالعې د پوښښ اړوند لاندې نفوس تعریف شو. دې تعریف مونږ ته اجازه راکړه چې د څېړنې په نمونې کې د شمولیت او نه شمولیت معیار معلوم کړو. له همدې کبله، په نمونه اخیستو کې لاندې کړنې شاملې وې:

د څلورو ولایتونو (کابل، ننګرهار، پروان او بامیانو) د ۴۳ لیسو هغه زده کوونکې چې د تشبث مضمون یې لوستی وه او د تشبث په هغه پروګرام کې چې د تشبث ښونیزې او روزنیزې مؤسسې لخوا په لاره اچول شوی وه د پروګرام د ګټه اخیستونکو په توګه وپیژندل شول. د څېړنې تر پوښښ لاندې نفوس د لا ښه تعریف لپاره، د جنډر (نارینه او ښځینه) نمونې کچه هم په نظر کې ونیول شوه. د تعریف پر اساس د ۴۳ یادې شوو لیسو نه پرته، هغه زده کوونکو چې د تشبث مضمون یې ندی لوستلی او همدارنګه د ټیټو ټولګیو زده کوونکې په نمونې اخیستنه کې شامل نشول. په دوهم پړاو کې، د څېړنې تر پوښش لاندې د نفوس چوکاټ څرګند شو. د نمونې چوکاټ څرنګوالی د څېړنې ټیم ته دا شونې کړه چې د نمونې اندازه د یو زیات شمیر لیسو د زده کوونکو له منځ څخه غوره کړي. د دې لپاره چې د تشبث هر زده کوونکی ته چې د څېړنې د ونډې اخیستو معیار یې پوره کړی په څېړنه کې د برخې اخیستلو چانس ورکړل شي د تشبث د پروګرام د اغیزو ارزونې په دې څېړنه کې د احتمالاتو په اساس د نمونې اخیستو له لارو څخه کار واخستل

شوه. په روښانه توګه باید ووایو چې په دی ارزونی کی د نمونی د کچی د ټاکلو لپاره د مختلفو طبقو په تصادفی توګه ویشل شوی یا(Stratified Random Sampling) د نمونی اخیستنی له میتود څخه کار اخیستل شوی. په ټولیز ډول کټه اخیستونکی زده کوونکی په ۴۳ لیسو ویشل شوی ول او هر یو د دوی د نمونی د یو واحد په توګه په پام کی نیول شوی وه. دی کړنی د څیړنی ټیم ته دا شونی کړه چی له مختلفو ولایتونو څخه د پروګرام د اغیزو او ګټو په هکله پراخ مالومات لاسته راوړی. په دوهم پړاو کی، د ولایت په کچه زده کوونکی په ځانګو وویشل شول. او په پای کی، د لیسو د ویشل شوو ځانګو له منځه، د تصادفی نمونی اخیستنی د سیستم څخه په ګټی اخیستنی د زده کوونکو ټولیز شمیر د مرکی لپاره و ټاکل شو. له زده کوونکو سره د مرکی د پیل ټکی د ټاکلو په موخه، د څیړنی ټیم د لیسی په یوه ځانګه کی دننه زده کوونکی لست کړل او په هره لیسه کی یی په لست کی د شاملو ځانګرو زده کوونکو د دوی د شمیر په نظر کی نیولو سره مرکی وکړی. پداسی حال کی چی، د مرکه شویو کسانو شمیر په یوه ځانګه کې یوازې د ښوونځیو په ځانګه کې د زده کونکو شمیر پورې تړاو درلود. د نمونې اندازه د آنلاین نمونې د اندازه کولو د محاسبې کونکې سیستم د کارولو له مخې حساب شوه ترڅو اړونده نمونه د نړیوالو نمونې اخستلو له غوره طریقو سره سمون ولري. برسیره پر دی، د نمونې د اندازې د محاسبې لپاره نور عام متغیرات هم د ٪۹۵ باور کچی، د ٪۵ واټن کچی او د څلورو ولایتونو د ۳۲۳۷۵ زده کوونکو شمیر ته په کتو  په پام کې ونیول شول. دی متغیراتو مونږ ته اجازه راکړی چې په مرکه کې ۳۸۰ زده کوونکو وپوښتو او څه باندی ٪۸ نور د تعصب، ګونګ، غیر ځواب ویونکو د پوښښ او د مالوماتو د تناقض او بی باوری خطر د را کمولو لپاره په نمونه کی شامل شول. له همدې کبله، ټولیزه نمونه ۴۰۸ زده کونکې وټاکل شول. لکه څنګه چې د نمونې اندازه د ټولو زده کوونکو ډیره لږه برخه تشکیلوي، د نمونې سلسله به د غوره شویو واحدونو نه بدلون ته مایله وی. دا پدې مانا ده چې یو ځل له مرکه کوونکی سره مرکه وشی، هغه ته بیا د ارزونی لپاره د مرکو د اړین شمیر د پوره کولو په موخه د دویمې مرکې چانس ورنکړل شی. د باوري مالوماتو راټولولو لپاره، د نمونې غوره شوی طریقې او د نمونې اندازه داسی په پام کی ونیول شوه ترڅو د نمونې اخیستنې د تعصب کچه په زیات پوښښ او لږ پوښښ کی را کمه کړی.

## ۱،٤ دارزونی سیمی

دا ارزونه د هیواد د ۴ ولایتونو په ۴۳ لیسو کی تر سره شوه. له دی ۴۳ لیسو څخه، ۲۷ لیسی د نجونو او ۱۶ لیسی د هلکانو وی. ۲۹ لیسی په کابل، ۵ لیسی په بامیانو، ۴ لیسی په ننګرهار او ۵ لیسی په پروان ولایت موقعیت درلوده. د یادونی وړ ده چی د تشبث ښوونیزه او روزنیزه موسسه د تشبث مضمون په دی ۴۳ لیسو کی په مخ وړی.

## ۱,۵ د مالوماتو د راټولولو کړنلاره

له زده کوونکو څخه د کافي مالوماتو د راټولولو په موخه منظمې پوښتنپاڼې جوړې شوی وې.

### ۱,۵,۱ داسنادو پلټنه

د دی ارزونې د مالوماتو د راټولونی کار د دفترونو د اسنادو په پلټنه پیل شو. د پلټنی په اوږدو کی، د افغانستان د ښوونی سیستم د پالیسی اسناد تر څیړنی لاندی ونیول شول. همدارنګه، د افغانستان د ښوونیز سیستم د روانو ننګونګو په اړه د مالوماتو د را ټولولو په موخه د تشبث مضمون اړوند ټول اسناد تر ارزونی لاندی ونیول شول.

### ۱,۵,۲ ترتیب شوې مرکې

له منظمو مرکو څخه وروسته د ارزونی له اړونده ټولیو څخه ډیر مالومات راغونډ شول. د مالوماتو د کیفیت او کمیت په نظر کی نیولو سره منظم پوښتنلیکونه جوړ شول. دا باید په پام کې ونیول شي چې په دې ارزونه کې ټاکل شوې پوښتنې د تشبث ښوونیزی او روزنیزی مؤسسی له مسؤلینو سره شریکی او د هغوی لخوا تایید شوې. له منظمو پوښتنلیکونو څخه د تشبث پروګرام په اړه له زده کوونکو، ښوونکو، د لیسو له مدیرانو او د زده کوونکو له والدینو د مالوماتو د راټولولو په موخه ګټه واخیستل شوه. او د یادونی وړ ده چې د اړونده نمونو لپاره ځانګړی پوښتنلیکونه جوړ شوی ول.

## ۲ دوهم څپرکی: موندنې

د ارزونی د موندنو په برخه کی، په لومړی پړاو کی د افغانستان د ښوونې د سیستم په اړه یوه اندزه مالومات راټول او ترتیب شوی دی. ورپسی بیا، د ارزونې د څیړنې په بهیر کې راټولی شوې موندنې پدې برخه کې وړاندې شوې دی.

### ۲,۱ عمومي مالومات

د کورنی جنګونو له امله افغانستان په تیرو درې لسیزو کی ډیر ناورینونه زغملی دی. د افغانستان ټول اساسات د پوهنی د بنسټونو په شمول له منځه ولاړل. ولې، د طالبانو د رژیم له منځه تلو وروسته او د نوی دولت په راتګ سره، د افغانانو زړونو بیرته امیدونه لاسته راوړل. د افغانستان د بنسټونو د بیا رغونی لپاره زیات کوښښونه تر سره شول. په تیرو لسو کلونو کی ښوونی او روزنی ته د لاس رسی لپاره په افغانستان کی زیات پرمختګونه شوی دی. د لیسو د زده کوونکو د شمولیت شمیر په ۱۳۸۰ کال کی له یو میلیون نفرو څخه چی زیات یی هلکان زده کوونکی ول په ۱۳۹۲ کال کی نهه میلیونه زده کوونکو ته او چت شو چی ۳۹٪ د دوی نجونی وی. د زده کړې اړونده ځانګیرنی- د جنډر د انډولتیا د ځانګیرنو په شمول - د خطرونو او زیانمننې د ملي ارزونې له څیړنی وروسته، له ۱۳۸۶ کال نه راپدیخوا پرمختګ ښیي. که څه هم په اوس وخت

کې دا لیدل کیږي چې د پرمختګ چټکتیا ورو شوی ده. په تیرو لسیزو کې د مهمو لاسته راوړنو سره سره، په افغانستان کې د ښوونې او روزنې فعالیت لا تر اوسه هم د نړی تر ټولو بیوزلو هیوادونو په کتار کی راځی. او د اصلاحاتو اوسنی کچی ته په کتو دا تمه کیږی چی افغانستان به تر ۱۳۹۹ کال پوری د ملي پراختیا د ستراتیژۍ د موخو په ترلاسه کولو کې پاتې راشی. د ۲۵ کلونو او یا تر دی لویو، افغانانو ونډه چې د رسمي زده کړو کچه یې بشپړه کړې ډېره کوچنۍ ده - له ٪۷ څخه کمه، او د ښځو لپاره دا کچه تردی هم کوچنی ٪۳ ده. ولی، د لومړنیو او ثانوي ښوونځیو په بشپړولو کې لوی پرمختګ د ۱۵ څخه تر۲۴ کلنو ځوانانو ترمنځ، په تیره بیا په نجونو کی لیدل کیږي. دا پرمختګ په تیره لسیزه کې ښوونځیو ته د ورتګ د زیاتیدو له امله رامنځ ته شوی. د لومړنیو زده کړو په برخه کې د نجونو او هلکانو د نوم لیکنې ملی کچه په ۱۳۹۲ کال کی په ترتیب سره ٪۶۴ او ٪۸۶ وه، دا په داسی حال کی ده چی په عمومی زده کړو (۱ څخه تر ۱۲ ټولګیو) کی د نوم لیکنی ملی کچه د نجونو او هلکانو لپاره په ترتیب سره ٪۵۰ او ٪۷۱ وه. د دې ارقامو خواشینونکی خبره داده چې ۳،۳ میلیونه ماشومان لا تروسه هم د پوهنې وزارت د پلان د ریاست له اټکلونو سره سم د ښوونځي څخه بهر دي. په عمومی توګه، د زده کړو لپاره فرصتونه ناکافي دي، په ځانګړې توګه د نجونو، میرمنو، کلیوالو، لری پرتو سیمو او کوچیانو وګړو لپاره. که څه هم په ښوونه او روزنه او سواد زده کړی کې د جنسیت توپیر په مطلق او نسبي شرایطو کې دوامداره پرمختګ ښیي. په دې توګه، د جندر د انډول ښوونی شاخص (GPI) په ابتدایی ، ثانوی او لیسانس زده کړو په ۱۳۹۱ کال کی په ترتیب سره ۰،۷۴؛ ۰،۵۳ او ۰،۴۲ په پرتله د ۱۳۸۶ کال په ترتیب سره ۰،۶۹ ؛ ۰،۴۹ او ۰،۲۸ زیاتوالی موندلی. د ښوونې او روزنې پر وړاندی خنډونه عبارت دی له: ناامني، بې وزلي، او په ماشومانو کار، په لرې پرتو سیمو کې د ښوونځیو نشتوالی، ښوونځیو ته د تګ لری واټن، او ښوونځي ته د تګ په لار کې د ماشومانو ځورول.

### ۲،۱،۱ د افغانستان ښووونیز سیستم

له اول څخه تر ۱۲ ټولګیو پورې د افغانستان د ښوونې او روزنې د عمومي زده کړو د سیستم جوړښت درې برخې لري، د اسلامي زده کړو موازي سیستم، تخنیکي او حرفوي زده کړې او همدا راز د ښوونکو روزنه له ثانوي کچې تر لوړو زده کړو له ۱۲ ټولګی څخه پورته.

#### ۲،۱،۱،۱ لومړنۍ (ابتدایي) زده کړې: ۶ کاله، له ۱ تر۶ ټولګی؛ او له ۷ تر ۱۳ کلنۍ پورې

حکومت وړیا اکادمیکی زده کړې په دولتي ښوونځیو کې برابروي. له ۷ څخه تر ۱۳ کلنۍ پورې زده کونکي په لومړنیو ښوونځیو کې ګډون کوي چیرته چې دوی د لوستلو، لیکلو، ریاضی او کلتوري زده کړی زده کوي. مذهبي زده کړه په جوماتونو کې د عالمانو دنده ده، او دا زده کړی د پوهنې وزارت د اسلامي تعلیماتو د ریاست لخوا اداره کیږي.

### ۲,۱,۱,۲ منځنی (متوسطه) زده کړې: ۳ کاله، ۷ ټولګي څخه تر ۹ ټولګی پورې؛ له ۱۳ څخه تر ۱۶ کلنی پورې

له لومړنی زده کړو وروسته، زده کوونکی درې کاله منځني ښوونځي تعقیبوي چیرته چي اکادمیکی زده کړې دوام مومی. زده کونکي باید د دې پړاو په پای کې له یوی ازموینې تیر شی که دوی غواړي چې نورو زده کړو ته دوام ورکړی.

### ۲,۱,۱,۳ د لیسی دوری زده کړه: ۳ کاله له، ۱۰ څخه تر ۱۲ټولګي پوری؛ له ۱۶ څخه تر ۱۹ کلنی پورې

د لیسی په دوره کې، زده کونکي دوه انتخابه لری: لومړی دا چی د ۳ کلونو لپاره اکاډمیکو ښوونو ته دوام ورکړی تر څو چې کیدای شي پوهنتونونو ته لاره پیدا کړی (د کانکور د آزموینی له بریالیتوب وروسته)، او دوهم دا چی کولای شی چی کرهنیز، هوایی چلند زده کړی، هنر، سوداګری ، د ښوونکو روزني او همدارنګه نورو مسلکی زده کړو ته دوام ورکړی. دواړه پروګرامونه د بکلوریا د آزموینی په ورکولو سره بشپړیږی.

### ۲,۱,۱,٤ مسلکی زده کړی

دا زده کړی د لنډ مهاله کورسونو څخه پیل تر رسمي تریننګونو د ۱۰- ۱۲ او ۱۳- ۱۴ ټولګیو زده کوونکو ته د تخنیکي او مسلکي زده کړو پروګرامونه په رسمي زده کړو کې د پوهنې وزارت لخوا په مخ وړل کیږي، او همدارنګه غیر رسمي کورسونه او پروګرامونه چې د کار، ټولنیزو چارو، شهیدانو او معلولینو وزارت او غیر دولتي مؤسسو لخوا په مخ وړل کیږی.

### ۲,۱,۱,٥ لوړې زده کړې، ۱۳ ټولګی او تری پورته

د ښوونکو د روزنې پروګرامونه (۱۳ او ۱۴ ټولګی) د ښوونکو د روزنې پوهنځی (دارالمعلمین) کی چی د پوهنی او روزنې وزارت د ښوونکو د روزنې د ریاست تر څارنی لاندی دی پر مخ وړل کیږی. د لوړو زده کړو پروګرامونه د لوړو زده کړو د وزارت تر مشری لاندی په ډیرو دولتی او شخصی پوهنتونو کی پر مخ وړل کیږی. د لوړو زده کړو عمومی جوړښت د لیسانس (۴ کاله)، ماستری (۳ کاله) او داکتری (۳ کاله) علمی درجو څخه جوړ دی. دینی ښوونه د ۱۳ او ۱۴ ټولګیو په کچه د اسلامی دارالعلومونو لخوا پر مخ وړل کیږی.

### ۲,۱,۱,۶ غیر رسمي زده کړی

د پورته ذکر شوي رسمي تعلیمي جوړښت سربیره، غیر رسمي زده کړې (لنډ مهاله کورسونه) هم د کار، ټولنیزو چارو، شهیدانو او معلولینو وزارت او غیر دولتی مؤسسو لخوا په لاره اچول کیږی. او همدارنګه غیر رسمي د سواد زده کړې کورسونه، د لویانو لپاره غیر رسمي زده کړې کورسونه او ډیر نور کورسونه د پوهنې وزارت د سواد زده کړی معنیت او نورو وزارتونو، لکه د کورنیو چارو وزارت لخوا د افغان ملي پولیسو او ملي دفاع کارکوونکو لپاره د سواد زده کړې کورسونه هم پر مخ وړل کیږی.

د تشبث مضمون د ښوونی د رسمی سیستم په جوړښت کی د هیواد د څلور ولایتونو په ۴۳ لیسو کی تدریسیږی.

## ۲,۲ ځانګړې موندنې

### ۲,۲,۱ د تشبث زده کونکو د ارزونې موندنې

د ۴۳ لیسو زده کوونکی د تشبث د ښوونیزی او روزنیزی مؤسسی (TEO) د تشبث پروګرام اصلي ګټه اخیستونکی شمیرل کیږی ځکه چې دی زده کونکو ته د دی مضمون زده کړی ورکړل شوی دی او زده کونکو په خپل ورځنی ټولنیز ژوند کی له دی زده کړو څخه ګټه پورته کړی ده او په راتلونکی کی به هم تری ګټه پورته کړی. د سوداګرئ پیل یا پراختیا او یا د ځان لپاره د کار په خوندي کولو کی د پروګرام اغیزی په مستقیمه توګه په زده کونکو کی څرګندی شوی دی. نو له همدې امله، ډیر اړین مالومات به له همدی زده کونکو څخه راټول شي ځکه چې دوی دا مضمون په ورځنی ژوند کی تطبیقوي او دوی باید د مضمون د پایلو په اړه پوهاوی ولری. په پای کې، هغه زده کوونکی چی دا مضمون لولی له ۱۰ څخه تر ۱۲ ټولګي پورې د څیړنی لپاره وټاکل شول. د دی برسیره، له دی امله چی ۳۲۳۷۵ زده کوونکی په اړونده لیسو کی د دی مضمون په زده کړه بوخت ول نو له ټولو دی زده کوونکو سره مرکی کول سرچینو او ډیر وخت ته اړتیا درلوده او دا امکانات د ارزونی د ټیم په وس کی نه ول. نو له همدی امله، د نمونی اخیستنی له لارو چارو څخه د نمونی د کچی د تعین لپار ګټه واخیستل شوه. په پای کی، د ٪۵ باور واټن او د ٪۹۵ باور کچی په پام کي نیولو سره، د نمونې اندازه د څیړنی لپاره ۴۰۰ وټاکل شوه. همدارنګه، په ټولګیو او لیسو کی د زده کوونکو د شمیر په نظر کی نیولو سره، د ښوونځیو زده کوونکی په اړونده ځانګو وویشل شول. نو په دی اساس، ویلی شو د دی ارزونی په واسطه راټول شوی مالومات د تشبث مضمون د ټولو زده کوونکو چی په خپلو لیسو کی یی دا مضمون لوستی دی د نظر ښکارندویی کوی.

د مالوماتو د راغونډولو د اهمیت په نظر کی نیولو سره، هراړخیزه پوښتنپاڼی (د ټولو مهمو مالوماتو در لودونکی) چی زده کوونکو د تشبث په مضمون کی لوستلی ول په دوی باندی د تشبث پروګرام د اغیزو د ارزونی لپاره جوړی شوی. د زده کوونکو پوښتنپاڼی په شپږو برخو کی جوړی شوی. دا شپږ برخی عبارت دی له: د زده کوونکو اړونده عمومی ځانګړنی (مشخصات)، زده کوونکی او کاراوبار، زده کوونکی او دنده، د تشبث پروګرام ټولنیزې او اقتصادي اغیزی، د تشبث زده کوونکو د تولیداتو ننداری او د تشبث مضمون راتلونکی. د تشبث له زده کوونکو څخه لاسته راغلی مالومات، د زده کوونکو د ژوند په ښه والی کی د تشبث د ښوونیزی او زونیزی مؤسسی د پرمختګونو یو روښانه انځور وړاندی کوی. د ګټورو مالوماتو د راغونډولو په موخه، زده کوونکو ته وخت ورکړل شو ترڅو د دوی په ژوند کی د تشبث مضمون د اهمیت په هکله خپل نظرونه او لیدلوری وړاندی کړی.

دا څیرنه هم د پورته ذکر شوو شپږو ځانګړنو په بنسټ جوړه شوی ده ترڅو په دې ډول، د زده کونکي په ټولنیز او اقتصادي ژوند کې د تشبث مضمون اغیزی او ګټی په روښانه توګه څرګندی شي.

### ۲,۲,۲ د تشبث زده کوونکو عمومي ځانګړتیاوې

د زده کونکو د نظرونو او لید لورو په اړه د خبرو کولو څخه مخکی، اړینه ده ترڅو د زده کونکو د عمومي ځانګړتیاوو په اړه خبرې وکړو. له دې امله د مرکه شوو زده کوونکو اړوند د جنسیت، عمر، ټولګی او ځای په اړه مالومات را غونډ شول.

#### ۲,۲,۲,۱ جنسیت (جنډر)

له زده کوونکو سره د مرکو کولو وروسته روښانه شوه چی ۴۸٪ مرکه شوی زده کوونکی هلکان او ۵۲٪ نجونی وی. د یادونی وړ ده چی د تشبث د ټولو (۳۲۳۷۵ زده کوونکو) ډیره برخه نجونی زده کوونکی جوړوی. د دی خبری په نظر کی نیولو سره، د ارزونی ټیم له زیات شمیر ښځینه زده کوونکو سره مرکی وکړی. کله مو چی د ځای له مخی څواب ورکوونکی تر څیړنی لاندی و نیول، نو ومو موندله چی د مرکه شوو نجونو زیات شمیر زده کوونکی د ښاری سیمو او سیدونکی وی (۵۴٪)، په داسی حال کی چی د لری پرتو سیمو اکثریت مرکه شوی زده کوونکی هلکان ول (۷۶٪). او کله چی مو مالومات د اړونده سیمو په نظر کی نیولو سره تر څیړنی لاندی ونیول، نو څرګنده شوه چی د هلکانو زده کوونکو سره زیاتی مرکی په ننګرهار ولایت (۷۳٪)، بامیانو ولایت (۵۹٪)، یغمان ولسوالی (۶۳٪)، چهار آسیاب ولسوالی (۶۷٪)، شکردری ولسوالی (۱۰۰٪) او د کلدری ولسوالی (۱۰۰٪) ترسره شوی دی. ولی په کابل ښار، استالف ولسوالی او پروان ولایت کی په ترتیب سره ۵۳٪، ۱۰۰٪ او ۵۹٪ له زیات شمیر نجونو زده کوونکو سره مرکی ترسره شوی دی. د مرکه شوو زده کوونکی د جنسیت په هکله د پوره مالوماتو د لاسته راوړلو په موخه، مهربانی وکړی ۵ ، ۶ او ۷ ګرافونو ته پام وکړی.

۵ ګراف: مرکه شوی زده کوونکی د جنسیت له نظره



۶ ګراف: په ښاري او کلیوالي سیمو کې مرکه شوي زده کوونکي




۷ ګراف: په اړونده سیمو کې مرکه شوي زده کوونکي د جنسیت له نظره



### ۲,۲,۲,۲ عمر

عمر د تشبث پروګرام د زده کوونکو په عمومي ځانګړنو کې دوهمه ځانګړنه (شاخص) وه. له دې امله چې د تشبث پروګرام زده کوونکي د لیسې له دورې څخه ول نو د تمې سره سم اکثریت ځواب ویونکي تنکي ځوانان او ځوانان ول. د یادولو وړ ده چې د مرکه شویو زده کوونکو عمر د ۱۴ نه تر ۲۲ کلونو پورې وه. د مالوماتو له څیړلو وروسته مو لاسته راوړه چې اکثریت زده کوونکي (٪۲۶) د ۱۷ کاله عمر درلودونکي ول. په ورته ډول، یو پر څلورمه برخه (٪۲۵) زده کوونکي ۱۸ کلن او دریم اکثریت (٪۲۲) زده کوونکي ۱۶ کلن ول. په دې اساس، دې پایلې ته رسیږو چې نږدې یو پر دریمه برخه (٪۷۳) زده کوونکي د ۱۶ نه تر ۱۸ کلونو ترمنځ ول. د ځواب ویونکو د ځای اړوند، مونږ وموندله چې په ښاري سیمو کې زیات زده کوونکي (٪۲۷) د ۱۷ کاله عمر درلودونکي ول. د دې په پرتله، ٪۴۰ مرکه شوي په لرې پرتو سیمو کې د ۱۸ کلونو عمر در لودونکي ول. همدارنګه، د جنسیت له اړخه هم د زده کوونکو عمر یوشان نه وه. پدې ډول چې ٪۳۳ زده کوونکي ۱۸ کلن هلکان او ٪۳۰ زده کوونکي نجوني وې. ۸، ۹ او ۱۰ ګرافونه د مرکه شویو زده کوونکو د عمر له اړخه تولیز انځور ښیي.

۸ ګراف: د عمر له اړخه د مرکه شوو زده کوونکي تفصیل



۹ ګراف: د عمر په نظر کې نیولو سره په ښاری او کلیوالی سیمو کې د زده کوونکو ویش




۱۰ ګراف: د جنسیت په نظر کې نیولو سره د زده کوونکو د عمر په اساس ویش




### ۲,۲,۲,۳ ټولګی

د ځواب ورکوونکو د عمر په اړه د مالوماتو له تر لاسه کولو روسته، د مرکه شوو زده کوونکو د ټولګیو په هکله مالومات را ټول شول. د یادولو وړ ده چې له ۱۰ نه تر ۱۲ ټولګیو پوری زده کوونکی د مرکی لپاره غوره شول او له هر ټولګی څخه د غوره شوو زده کوونکو شمیر د هغه ټولګی د زده کوونکو له شمیر سره سم وټاکل شو. پدی اساس، مونږ وموندله چی زیات شمیر زده کوونکی د ۱۱ ټولګی (۳۴٪) ول او دی ته نیږدی ۳۲٪ زده کوونکی د ۱۰ او همدا شان ۳۲٪ د ۱۲ ټولګیو په مرکه کی برخه اخیستی وه. د کلیو او ښاری سیمو د زده کوونکو په اړه د مالوماتو

له ښیرلو وروسته، مونږ وموندله چې زده کوونکی د جغرافیایی سیمو په اساس سره یوشان ول، پدې ډول چې ٪۳۶ له ۱۱ ټولګی، او ٪۳۲ د هر یو ۱۰ او ۱۲ ټولګی هم په ښاری سیمو او هم په کلیو کی د مرکی برخه ول. په پای کی، د زده کوونکو د جنسیت اړوند مالومات د ارزونی او ښیرنی لاندی ونیول شول، او مونږ وموندله چې زیات شمیر (٪۳۵) هلکان زده کوونکی د ۱۰ ټولګی او وریسی ٪۳۴ د اا ټولګی او٪۳۲ د ۱۲ ټولګی زده کوونکی ول. ولی، زیات شمیر هلکان (٪۳۶) د ۱۲ ټولګی، وریسی (٪۳۳) د ۱۰ ټولګی او (٪۳۱) د ۱۱ ټولګی ول. ۱۱، ۱۲ او ۱۳ ګرافونه د مرکه شوو زده کوونکو د ټولګی په اساس کره مالومات وړاندی کوی.

۱۱ ګراف: د مرکه شوو زده کوونکو د ټولګی په اساس ویش




۱۲ ګراف: د مرکه شوو زده کوونکو د ټولګی په اساس ویش په ښاری او کلیوالی سیمو کی



۱۳ګراف: د مرکه شوو زده کوونکو د جنسیت اړوند د ټولګی په اساس ویش




### ۲,۲,۲,٤ ځای

وروسته له زده کوونکو څخه د دوی د اوسیدو د ځای په هکله پوښتنه وشوه او مونږ ومودله چې اکثریت ځواب ورکوونکی (۸۹٪) په ښاری سیمو کی اوسیدل. ولی، یوازی (۱۰٪) ځواب ویونکی په نیمه ښاری سیمو کی ول. سره د دی چی ۱۳٪ لیسی په ولسوالیو کی پرتی وی، له ۴۰۰ ځواب ویونکو څخه یوازی ۱ نفر له کلیوالی سیمو څخه وه.

## ۲,۲,۳ د تشبث پروګرام او د زده کوونکو کاراوبار/دنده

دا روښانه ده چی د تشبث پروګرام د زده کوونکو د کاراوبار له پرمختګ سره تړاو لری. نو په دی اساس، د دی راپور مهمه برخه، د هغو فرصتونو په هکله د مالوماتو راغونډول ول چی د تشبث پروګرام زده کوونکو ته د کاراوبار لپاره برابر کړی ول. د راپور د دی برخی مالومات شامل دی : د یوه نوی کاروبار په پیلولو کی له زده کوونکو سره د تشبث پروګرام مرسته، د یوکاراوبار د پرمختګ لپاره د تشبث پروګرام مرسته او په مختلفو ځانګو کی د یو کار پر مخ بوولو لپاره د تشبث پروګرام مرسته.

### ۲,۲,۳,۱ د تشبث پروګرام او د زده کوونکو نوی یا پخوانی کاراوبار

له دی امله چی د تشبث پروګرام د کاراوبار د پیلولو په هکله زیاتی موضوعګانی تر خپل پوښښ لاندی راوستی دی، نو له ټولو ځواب ورکوونکو زده کوونکو څخه پوښتنه وشوه چی آیا د تشبث مضمون له زده کوونکو سره د کاراوبار په پیلولو کی مرسته کړی ده او که نه. له ټمی سره سم زیاتو زده کوونکو (۶۹٪) وښوده چی د تشبث پروګرام د یو نوی کاراوبار په پیلولو کی له دوی سره مرسته کړی ده. ولی، پاتی (۳۱٪) زده کوونکو چی د تشبث پروګرام یی د کاراوبار په پیلولو

کې مرسته نه ده کړې د تشبث د ښوونیزې او روزنیزې مؤسسې د کارکوونکو د ناخوښۍ سبب شوې دی. وروسته له زیاتو څېړنو روښانه شوه چې هغوی له مخکې یې یو کاراوبار درلوده، د کار پرمختګ په هکله یې د تشبث پروګرام له مرستو څخه یادونه وکړه ولې ۳۱٪ یې هیڅ ډول کاراوبار نه درلوده. له دې امله، ۳۱٪ زده کوونکو ویلې ول چې د تشبث مضمون د کار په پیلولو کې لږ رول درلوده. په بل پړاو کې اړونده مالومات د ځواب ورکوونکو د جغرافیایي ځای په نظر کې نیولو سره تر څېړنې او ارزونې لاندې ونیول شول. او مونږ وموندله چې د تشبث مضمون ډیر (۱۰۰٪) د کلیو له زده کوونکو سره په پرتله د (۶۷٪) د ښاري سیمو له زده کوونکو سره د یو کاراوبار په پیلولو کې مرسته کړې ده. د دې برسیره، زیات شمیر ښځینه زده کوونکو (۷۱٪) په پرتله د نارینه زده کوونکو (۶۵٪) د تشبث مضمون له مرستو څخه د یو کاربار په پیل کې ګټه اخیستې ده. ۱۴، ۱۵ او ۱۶ ګرافونه د یو نوي کاراوبار په پیلولو کې د تشبث مضمون په هکله د زده کوونکو د نظر ښکارندویي کوي.

۱٤ ګراف: د یوه نوي کاراوبار په پیلولو کې له زده کوونکو سره د تشبث پروګرام مرسته



۱۵ ګراف: په ښاري او کلیوالي سیمو کې د یوه نوي کاراوبار په پیلولو کې له زده کوونکو سره د تشبث پروګرام مرسته




۱٦ ګراف: د جنسیت له مخې د یوه نوي کاراوبار په پیلولو کې له زده کوونکو سره د تشبث پروګرام مرسته




کله چې زیات شمیر زده کوونکو تایید کړه چې د تشبث مضمون له دوی سره د نوي کاراوبار په پیلولو کې مرسته کړې ده، اړینه مو وبلله چې د تشبث پروګرام د هغو موضوعاتو په هکله چې د نوي کاراوبار په پیلولو کې له زده کوونکو سره مرسته کړې مالومات لاسته راوړو. زیاتو زده کوونکو (۲۹٪) ځواب ورکړ چې د تشبث مضمون له دوی سره مرسته کړې چې په کمه پانګه کوچنی کاراوبار پیل کړي او وروسته ورته پراختیا ورکړي. ولی، ۲۱٪ زده کوونکو باور درلوده چې د تشبث مضمون له دوی سره د کاراوبار په پلان او اداره کولو برخو کې مرسته کړې ده او یواځې ۱۵٪ زده کوونکو د پانګې اچونې د لارو چارو په اړه خبرې وکړې چې دوی د تشبث له مضمون څخه زده کړې وې. وروسته دغه مالومات د ځواب ویونکو د ځای په پام کې نیولو سره

و ارزول شول او وموندل شوه چې د ۳۰٪ د ښاري سیمو زده کونکو لپاره د کوچنی پانګی اچونی له لاری د تجارت پیل مهمه موضوع وه، په داسی حال کی چې د امید او لیمی قصه چې د تشبث په نصاب کی ځای پر ځای شوی ده،۴۰٪ کلیوالی زده کوونکو ته انګیزه ورکړی ده. په هرصورت، د زده کوونکو د جنسیت له مخی له ارزونی وروسته، مالومه شوه چې (۳۱٪ هلکانو او ۳۰٪ نجونو زده کوونکو) د کوچنی پانګی اچونی له لاری د کاراوبار د پیل کولو په اړه خبری وکړی، او دوی وویل چې دی خبری له دوی سره د یو نوی کاراوبار په پیلولو کی مرسته کړی ده. ۱۷، ۱۸ او ۱۹ ګرافونه د هغو موضوعګانو په هکله مالومات ښیی چې له زده کوونکو سره یی د یو نوی کاراوبار په پیلولو کی مرسته کړی ده.

۱۷ ګراف: د تشبث مضمون هغه موضوعګانی چې له زده کوونکو سره یی د یو نوی کاراوبار په پیلولو کی مرسته کړی ده



۱۸ ګراف: د تشبث مضمون هغه موضوعګانې چې له زده کوونکو سره یې په اړونده ځانګو کې د یو نوي کاراوبار په پیلولو کې مرسته کړې ده (په ښاري او کلیوالي سیمو کې)




۱۹ ګراف: د تشبث مضمون هغه موضوعګانې چې له زده کوونکو سره یې د دوی د جنسیت اړوند د یو نوي کاراوبار په پیلولو کې مرسته کړې ده




له هغو زده کوونکو څخه چې د تشبث مضمون له دوی سره د یو نوي کاراوبار په پیلولو کې مرسته نه وه کړې پوښتنه وشوه، چې په راتلونکې کې به دا مضمون له دوی سره مرسته وکړي او که نه؟ له نیږکه مرغه، زیات شمیر زده کوونکو (۸۵٪) مثبت ځواب ورکړ، او وی ویل که چیرې دوی په راتلونکې کې د کاراوبار د پیل هوډ وکړي نو د تشبث مضمون به له دوی سره مرسته وکړي. او کله چې له زده کوونکو څخه د کاراوبار په پیلولو کې د مرستې د څرنګوالي په

هکله پوښتنه وشوه، ۴۶٪ ځواب ورکړې چې د تشبث مضمون ځخه له لاسته راغلیو مالوماتو ځخه یې د کاراوبار په پرمخ وړلو کی ګټه پورته کړی. ۲۰ او ۲۱ ګرافونه دا څرګندوی چې څرنګه د تشبث مضمون له زده کوونکو سره په راتلونکی کی مرسته کولی شی.

۲۰ ګراف: په راتلونکی کی له زده کوونکو سره د یو کاراوبار په پرمخ وړلو کی د تشبث مضمون مرستی




۲۱ ګراف: څرنګه به د تشبث مضمون په راتلونکی کی له زده کوونکو سره مرسته وکړی؟



د زده کوونکو د نوو کاراوبارو په اړه د مالوماتو له لاسته راوړلو وروسته، له دوی څخه د دوی د اوسنی کاراوبار د پراختیا لپاره د تشبث مضمون د اغیزو په هکله پوښتنه وشوه. له نیمایی څخه زیاتو زده کوونکو (۵۱٪) ځواب ورکړ چی د تشبث مضمون له دوی سره د دوی د اوسنی کاراوبار په پراختیا کی مرسته کړی ده. د یادونی وړ ده چی د تشبث پروګرام له (۹۰٪) کلیوالو په پرتله د (۴۸٪) ښاری سیمو زده کوونکو سره د دوی د اوسنی کاراوبار په پرمختګ کی مرسته کړی ده. ولی د زده کوونکو د جنسیت په نظر کی نیولو سره، مونږ وموندله چی نارینه زده کونکو (۵۷٪) په پرتله د ښځینه وو (۴۶٪) زده کوونکو د تشبث مضمون له زده کړو څخه په خپل ورځنی ژوند کی زیاته ګټه پورته کړی ده. ۲۲، ۲۳ او ۲۴ ګرافونه د زده کوونکو له نظره د تشبث مضمون اهمیت د کاراوبار په پرمختګ کی ښیی.

۲۲ ګراف: د کاراوبار په پراختیا کی د تشبث مضمون اهمیت (د زه کوونکو له نظره)



۲۳ ګراف: د کاراوبار په پراختیا کې د تشبث مضمون اهمیت په ښاري او کلیوالي سیمو کې
(د زده کوونکو له نظره)




۲٤ ګراف: د کاراوبار په پراختیا کې د تشبث مضمون اهمیت
(د جنسیت له مخې د زده کوونکو له نظره)




وروسته له زده کوونکو څخه د هغو موضوعاتو په هکله چې له دوی سره د کاراوبار په پراختیا کې مرسته کړې وه پوښتنه وشوه. یو پر څلورمه برخه (۲۵٪) زده کوونکو دې خبرې ته اشاره وکړه چې د سوداګرۍ د پراختیا د مرحلو موضوعاتو له دوی سره د کاراوبار په پراختیا کې مرسته کړې ده. دا په داسې حال کې ده چې ۱۹٪ زده کوونکي په دې باور ول چې د تشبث پروګرام ټولې موضوعګانې یدې هکله مهمې وې. کله مو چې د زده کوونکو د ځای په هکله ارزونه وشوه، مونږ وموندله چې د سوداګرۍ د پراختیا مهارتونو (کوم چې د تشبث پروګرام

برخه ده) د کلیوالي سیمو له اکثریت زده کوونکو (۲۷٪) سره مرسته کړې وه او دا سلنه په ښاري سیمو کې (۲۴٪) وه. د دې برسیره دواړه ډلې زده کوونکې (۲۷٪ هلکان او ۲۲٪ نجونې) د کاراوبار په پرمختګ کې د تشبث مضمون له اهمیت سره یو شان نظر درلوده. ۲۵، ۲۶ او ۲۷ ګرافونه د زده کوونکو د کاراوبار د پراختیا اړوند دتشبث پروګرام مهمې موضوعګانې ښیي.

۲۵ ګراف: د کاراوبار په پراختیا کې د تشبث مضمون مهمې موضوعګانې




۲۶ګراف: د کاراوبار په پراختیا کې د تشبث مضمون مهمې موضوعګانې په ښاري او کلیوالي سیمو کې



*۲۷ ګراف: د کاراوبار په پراختیا کې د تشبث مضمون مهمې موضوعګانې د جنسیت له مخې*




وروسته له زده کوونکو څخه پوښتنه وشوه چې تر کومې کچې د تشبث مضمون د دوی لپاره د کاراوبار په پیل یا پرمختګ کې ګټور وه. لکه څرنګه چې مخکې وویل شول، اکثریت زده کوونکو د تشبث مضمون له زده کړو څخه د کاراوبار په پیلولو او یا هم پراختیا کې ګټه پورته کړې ده. نو په دې اساس ٪۷۷ زده کوونکو وویل چې د تشبث پروګرام د یو کاراوبار په پیل کې ګټور دی او ٪۲۳ زده کوونکو وویل چې د کاراوبار د پراختیا لپاره ګټور دی.

د زده کوونکو د شخصی کاراوبار په اړه د مالوماتو د راغونډولو نه وروسته، له دوی څخه پوښتنه وشوه چې آیا څوک دوی له خپلو ټولګیوالو څخه پیژنی چې یو نوی کاراوبار یې پیل کړی وی او یا یې اوسنی کار ته پراختیا ورکړی وی؟ ٪۶۳ زده کوونکو وویل چې دوی لږ تر لږه خپل یو ټولګیوال پیژنی چې یو نوی کاراوبار یې پیل کړی وی او یا یې اوسنی کار ته پراختیا ورکړی وی. د زده کوونکو د جغرافیایی ځای په نظر کې نیولو سره، مونږ ومونډله چې زیات شمیر د کلیوالو سیمو (٪۸۷) په پرتله د ښاری سیمو (٪۶۱) زده کوونکو (د خپلو ټولګیوالو په هکله وویل) چې هغوی یو نوی کاراوبار پیل کړی ده او یا یې هم اوسنی کار ته پراختیا ورکړی ده. وروسته بیا د زده کوونکو د جنسیت په نظر کې نیولو سره را ټول شوی مالومات وارزول شول،

او دی پایلی ته ورسیدو چی زیات شمیر هلکان زده کوونکی (٪۶۴) په پرتله د نجونو (٪۶۱) خپل ځینی ټولګیوال پیژندل چی یو نوی کاراوبار یی پیل کړی وه او یا یی هم اوسنی کار ته پراختیا ورکړی وه. ۲۸، ۲۹ او ۳۰ ګرافونه د هغو زده کونکو په هکله پوره مالومات ښیی چی ټولګیوالو یی یو نوی کاراوبار پیل کړی او یا یی هم اوسنی کار ته پراختیا ورکړی ده.

۲۸ ګراف: ټولګیوالو یی یو کاراوبار پیل کړی او یا یی هم پراختیا ورکړی




۲۹ ګراف: ټولګیوالو یی یو کاراوبار پیل کړی او یا یی هم پراختیا ورکړی په ښاری او کلیوالو سیمو کی



*۳۰ ګراف: تولګیوالو یې یو کاراوبار پیل کړی او یا یې هم پراختیا ورکړې د جنسیت په نظر کې نیولو سره*




اوس په دې هکله وپوهیدو چې د تشبث پروګرام له ډیرو (اکثریت) زده کوونکو سره د نوی کاراوبار په پیل کولو او یا یې هم اوسنی کار ته په پراختیا ورکولو کې مرسته کړې ده، اړینه ده چې وپوهیږو کومې ډلې (هلکانو که نجونو) د تشبث له مضمون څخه د نوی کار په پیل کې زیاته ګټه پورته کړې ده. پدې اساس، له ټولو زده کوونکو څخه د دوی د جنسیت په نظر کې نیولو سره د تشبث مضمون د اهمیت په هکله پوښتنه وشوه. ٪۶۰ زده کوونکو د تشبث مضمون د دواړو ډلو (هلکانو او نجونو) لپاه ګټور و باله، دا په داسې حال کې ده چې ٪۲۹ د دوی فکر کاوه چې د تشبث مضمون یوازې د هلکانو لپاره ګټور تمامیدای شي او ٪۱۲ فکر کاوه چې نجونې د تشبث مضمون څخه زیاته ګټه پورته کولی شي. همدارنګه، را ټول شوی مالومات د زده کوونکو د ځای په نظر کې نیولو سره وڅیړل شول او په دواړو سیمو (ښاری او کلیوالی) کې زیات زده کوونکی (٪۶۰ په ښاری سیمو او ٪۵۶ په کلیو) کې په دې نظر ول چې دتشبث مضمون ددواړو ډلو لپاره د یوه نوی کاراوبار په پیل او یا هم د اوسنی کاراوبار په پراختیا کې مهم رول لوبولی دی. ۳۱ او ۳۲ ګرافونه د زده کوونکو نظر د تشبث مضمون د اهمیت په اړه د دوی د جنست په نظر کې نیولو سره روښانه کوی.

۳۱ ګراف: د زده کوونکو نظر د تشبث مضمون د اهمیت په اړه د دوی د جنست په نظر کی نیولو سره




۳۲ ګراف: د زده کوونکو لپاره د تشبث مضمون اهمیت په ښاری او کلیوالو سیمو کی د دوی د جنسیت په نظر کی نیولو سره




وروسته له دی څخه، له زده کوونکو پوښتنه وشوه چی څرنګه د تشبث مضمون په دواړو ډلو هلکانو او نجونو اغیزی لرلی شی. ډیری زده کوونکی د تشبث مضمون په دواړو ډلو له یو شان (مساوی) اغیزو سره همغږی ول؛ ۲۸٪ زده کوونکو روښانه کړه چی د تشبث پروګرام د دواړو ډلو لپاره اهمیت لری، ځکه چی دواړه ډلی یو شان وړتیا لری، دا په داسی حال کی ده چی ۲۲٪ د دوی په دی نظر ول چی د تشبث مضمون باید دواړو ډلو ته وښوول شی، د دی لپاره چی دواړه ډلی کار ته اړتیا لری. دی خبری ته هم باید اشاره وکړو چی ۱۶٪ زده کوونکو وویل چی د تشبث

مضمون باید یوازې هلکانو ته تدریس شي، د دې لپاره چې هلکان د نجونو په پرتله د زیاتي آزادۍ درلودونکي دي. ۳۳ ګراف د جنسیت په نظر نیولو سره د تشبث مضمون د اهمیت اړوند د زده کوونکو پوره لیست ښیي.

۳۳ګراف: زده کوونکو لپاره د تشبث مضمون اهمیت د دوی د جنسیت له اړخه




اوس روښانه شوه چې د تشبث مضمون په بریالیتوب سره د کاراوبار پرمخ وړلو لپاره زده کوونکو ته اړینې زده کړې ورکړې دي، نو دا خبره ډیره مهمه وه چې د تشبث پروګرام له لارې زده کوونکو ته د کارې فرصتونو په رامنځته کولو د کار پرمخ وړلو او یا د دندې موندلو په هکله مالومات لاسته راوړو. پدې تړاوو ٪۸۱ زده کوونکو وویل چې د تشبث مضمون دوی ته د کاراوبار پرمخ وړلو لپاره مناسب فرصتونه برابر کړي دي. د یادولو وړ ده چې د تشبث پروګرام زیات فرصتونه د کلیو زده کوونکو ته (٪۹۶) په پرتله د ښارې سیمو (٪۸۰) برابر کړي دي. کله مو چې ځواب ورکوونکي د دوی د جنسیت له اړخه په نظر کې ونیول، مونږ وموندله چې ٪۸۲ نارینه زده کوونکو په پرتله د ٪۸۰ ښځینه زده کوونکو د تشبث له فرصتونو څخه زیاته ګټه پورته کړې وه. ۳۴، ۳۵ او ۳۶ ګرافونه د تشبث پروګرام له خوا زده کوونکو ته برابر شوي فرصتونه ښیي.

۳٤ ګراف: د تشبث پروګرام لخوا د کاراوبار لپاره برابر شوی فرصتونه




*۳۵ ګراف: په کلیو او ښاری سیمو کی د تشبث پروګرام لخوا د کاراوبار لپاره برابر شوی فرصتونه*



*۳۶ ګراف: د جنسیت په نظر کی نیولو سره د تشبث پروګرام لخوا د کاراوبار لپاره برابر شوی فرصتونه*




د دی برسیره، له زده کوونکو څخه په کاراوبار او یا د دندی په موندلو کی د تشبث پروګرام په وسیله د رامنځ ته شویو فرصتونو د څرنګوالی په هکله پوښتنه وشوه. ٪۴۱ د دوی وویل چی د تشبث پروګرام له دوی سره مرسته کړی تر څو په کوچنی پاګونې یو نوی کاراوبار پیل کړی، په داسی حال کی چی ٪۳۹ وویل چی د تشبث پروګرام کاری فرصتونه د نوو فارغانو لپاره منځ ته راوړی دی. کله مو چی د ځواب ورکوونکو د ځای په هکله خبری وکړی، نو ومو موندله چی د دواړو سیمو اوسیدونکی (٪۴۰ ښاری او ٪۵۳ کلیوال) د تشبث مضمون د زده کړو په مرسته په لږی پانګی سره د کاراوبار د پیل په اړه همغږی ول. په هر حال، دی خبری ته باید اشاره وکړو چی دواړه ډلو زده کوونکو د رامنځ ته شویو فرصتونو په اړه مختلف نظرونه درلودل. ٪۴۲ هلکانو زده کوونکو وویل چی د تشبث پروګرام د ځوانانو لپاره د کارموندنی فرصتونه رامنځ ته کړی دی، په داسی حال کی چی ٪۴۴ نجونو زده کوونکو وویل چی په لږی بودیجی سره د یو نوی کاراوبار د پیلولو لپاره اړینه ورتیا لری. ۳۷، ۳۸ او ۳۹ ګرافونه د پروګرام په وسیله د را منځ ته شویو فرصتونو یو مکمل انځور ښیی.

*۳۷ ګراف: د زده کوونکو لپاره په کاراوبار او یا دندی موندنی کی د تشبث پروګرام په وسیله رامنځ ته شوی فرصتونه*




۳۸ ګراف: په ښاری او کلیوالو سیمو کی د زده کوونکو لپاره په کاراوبار او یا دندی موندنی کی د تشبث پروګرام په وسیله رامنځ ته شوی فرصتونه



*۳۹ ګراف: د زده کوونکو د جنسیت په نظر کې نیولو سره په کاراوبار او یا دندې موندنې کې د تشبث پروګرام لخوا رامنځ ته شوې فرصتونه*




دا څرګنده ده چې ننګونې د هر ډول کار یوه برخه ده. نو له همدې کبله، له زده کوونکو څخه پوښتنه وشوه چې په خپل کاراوبار کې له کومو ننګونو سره مخ شوی دی. لکه څنګه چې تمه کیده د زده کونکو شپږ پر لسو (۶۱٪) له ننګونو سره مخ شوی ول. د یادونې وړ ده چې نږدی یوشان د ښاری سیمو (۶۱٪) او کلیوال (۶۰٪) په خپلو کاراوباړونو کې له ځینو ننګوونو سره مخ شوی ول. په هر حال، کله چې د زده کوونکو د جنسیت په نظر کې نیولو سره مو ارزونه وکړه، نو زیات شمیر نارینه (۶۳٪) زده کوونکی په پرتله د ښځینه (۵۹٪) په خپلو کاراوباړونو کې له ننګونو سره مخ شوی ول. ۴۰، ۴۱ او ۴۲ ګرافونه د زده کوونکو پر وړاندې ننګونې ښیې.

۴۰ ګراف: په سوداګرۍ کې له یوې ننګونې سره مخ شوی




۴۱ ګراف: په ښاری او کلیوالی سیمو کی په سوداګرۍ کې له یوې ننګونې سره مخ شوی



۴۲ ګراف: په کاراوبار کی له یوی ننګونی سره مخ شوی دی (د جنسیت په اساس)




له دی امله چی له نیمایی څخه زیات زده کوونکی په خپلو کاراوبارونو کی له ځینو ننګونو سره مخ شوی ول، نو دا خبره اړینه وه چی د دی ننګونو په ډول او همدارنګه د دی ننګونو په حل کی د تشبث پروګرام په اهمیت هم وپوهیږو. زیاته سلنه زده کوونکو (۱۶٪) وویل چی دوی په خپلی سوداګری کی د پانګی اچونی له ننګونو سره مخ ول، ولی د تشبث مضمون په مرسته توانیدلی چی دا مشکل حل کړی. همدارنګه ۱۴٪ زده کوونکو دی خبری ته اشاره وکړه چی دوی د خپل کاراوبار ورځنی مصارف نشی پوره کولی. په هرحال، باید ووایو چی د تشبث پروګرام له دوی سره مرسته کړی چی په دی ننګونو بریالی شی. په پای کی، ۱۱٪ زده کوونکو د بازارموندنی د ستراتیژی په برخه کی د ننګونو په اړه یادونه وکړه. ولی، په دی اړوند د تشبث مضمون د لاربښونو په مرسته توانیدلی چی دا ننګونی په بریالیتوب سره حل کړی. ښاری او کلیوالو زده کوونکو مختلفی ننګونی د خپل کاراوبار پر مخ وړلو کی ازمویلی دی. ۱۷٪ د ښاری سیمو زده کوونکو د پانګی اچونی په برخه کی له ننګونو څخه یادونه وکړه، دا په داسی حال کی ده چی ۳۳٪ کلیوالو زده کوونکو د خپل کاراوبار لپاره د بازار موندنی له ننګونو څخه سر وټکاوه. ددی برسیره، دی خبری ته باید اشاره وکړو چی زیات شمیر هلکان زده کوونکی (۱۵٪) او ۱۷٪ نجونی زده کوونکی په خپلی سوداګری کی د پانګی اچونی له ننګونو سره مخ شوی دی. ۴۳، ۴۴ او ۴۵ ګرافونه د هغو ننګونو په هکله پوره مالومات وړاندی کوی چی زده کوونکی د خپل کاراوبار پرمخ وړلو کی ورسره مخ شوی دی.

۴۳ ګراف:  د هغو ننګونو ډولونه چې زده کوونکي ورسره مخ او د تشبث پروګرام له لارې حل شوي




۴۴ ګراف: په کلیو او ښاري سیمو کې د هغو ننګونو ډولونه چې زده کوونکي ورسره مخ او د تشبث پروګرام له لارې حل شوي



۴۵ ګراف: د جنسیت په اساس د هغو ننګونو ډولونه چې زده کوونکی ورسره مخ او د تشبث پروګرام له لارې حل شوې




له پورته ذکر شوو ننګونو څخه پرته، د زده کوونکو د کاراوبار اړوند خطرونه هم موجود دی. له دی امله له ټولو زده کوونکو څخه پوښتنه وشوه چې په خپل کاراوبار کی له کوم خطر سره مخ شوی دی. له نیږکه مرغه، لږ زده کوونکی (۳۰٪) له ځینو خطرونو سره مخ شوی ول. باید دی خبری ته اشاره وکړو چې په کلیو کی زیات شمیر زده کوونکی (۴۶٪) د ښاری سیمو (۲۹٪) زده کوونکو په پرتله له ځینو خطرونو سره مخ شوی ول. نارینه زده کوونکی (۳۸٪) په پرتله د ښځینه زده کوونکو (۲۳٪) زیات له خطرونو سره مخ شوی ول. د دی برسیره، له زده کوونکو څخه د خطرونو د ډولونو په هکله چې دوی ورسره مخ شوی ول او د هغو مرستو په هکله چې د تشبث پروګرام لخو د دی خطرونو د حل لپاره شوی ول پوښتنه وشوه. ۲۲٪ زده کوونکو وویل چې دوی د خپل کاراوبار په هکله د سمی پریکړی (تصمیم) نیولو توان نه درلوده. له نیکه مرغه، زده کوونکی د تشبث پروګرام په مرسته توانیدلی ول چې د خطرونو اغیزی کمی کړی او د پریکړو کولو توان یی وده موندلی. همدارنګه، ۱۴٪ زده کوونکی د کاراوبار د پراختیا له زده کړو څخه بی برخی ول چې د تشبث په پروګرام کی له برخی اخیستو سره یی دی پوهاوی پراختیا موندلی ده. ۴۶، ۴۷، ۴۸ او ۴۹ ګرافونه د زده کوونکو په وړاندی د شته خطرونو په هکله لازیات مالومات وړاندی کوی.

۴۶ ګراف: په کاراوبار کی له خطرونو سره مخ شوی




۴۷ ګراف: په کاراوبار کی کوم خطر سره مخ شوی (په ښاری او کلیوالو سیمو کی)



۴۸ ګراف: په کاراوبار کې له خطرونو سره مخ شوی (د جنسیت په اساس)




۴۹ ګراف: د خطرونو ډولونه چې زده کوونکي ورسره مخ شوي او د تشبث پروګرام په مرسته يې حل کړي دي



### ۲,۲,٤ تشبث او د زده کوونکو کارموندنی

کله چې د زده کوونکو د کاراوبار په هکله کافي مالومات را ټول شول، نو د زده کوونکو د کارۍ فرصتونو په هکله هم د مالوماتو د راټولولو وخت رارسېدلی وه. لومړی پوښتنه چې له زده کوونکو څخه وشوه داوه چې آیا زده کوونکی وروسته د تشبث مضمون له لوستلو څخه د کار په موندلو توانیدلی دی او که نه؟ ۴۲٪ زده کوونکی توانیدلی ول چې خپلو ځانو ته دنده پیدا کړی. باید دی خبری ته هم اشاره وکړو چې ۷۲٪ د کلیو زده کوونکی په پرتله د (۴۰٪) ښاری سیمو زده کوونکو د کار په موندنه کی ډیر فعال ول. په همدی ډول، د نارینه وو زده کوونکو زیاته سلنه (۴۵٪) په پرتله د ښځینه وو زده کوونکو (۳۹٪) خپلو ځانونو ته د دندی په موندلو توانیدلی ول. له دی مالوماتو څخه څرګندیږی چې د تشبث پروګرام د زده کوونکو د کارموندی لپاره هم اغیزمن دی. او کله چې له زده کوونکو څخه د دندو د ډولونو په هکله چې دوی موندلی وی پوښتنه وشوه، نو ۳۵٪ د دوی وویل چې د لاسی صنایعو په کاراوبار کی په دنده لګیا دی، دا په داسی حال کی ده چې ۳۲٪ د دوی د هټیوالی (دوکانداری) دندی ته مخه کړی وه. ۵۰، ۵۱، ۵۲ او ۵۳ ګرافونه د زده کوونکو د کار موندنی په هکله پوره مالومات وړاندی کوی.

۵۰ ګراف: د کار په موندلو توانیدلی ول



۵۱ ګراف: په ښاری او کلیوالی سیمو کی د کار په موندلو توانیدلی ول




۵۲ ګراف: د جنسیت په نظر کی نیولو سره د کار په موندلو توانیدلی ول



۵۳ ګراف: د زده کوونکو لخوا موندل شوی کارونه




د دی برسیره له زه کوونکو پوښتنه وشوه چی د کار موندنی په برخه کی د تشبث مضمون د اغیزو په هکله خپل نظر ورکړی. ٪۲۷ زده کوونکو وویل چی د تشبث پروګرام په خپل ځان د دوی د باور کچه ډیره کړی ده، په داسی حال کی چی ٪۲۵ د دوی وویل چی د تشبث مضمون له دوی سره مرسته کړی ده ترڅو د کاراوبار د مدیریت په هکله ګټوری موضوعګانی زده کړی. همدا ډول، ٪۱۴ زده کوونکو دی خبری ته اشاره وکړه چی د تشبث مضمون له دوی سره د دندی په موندنی کی مرستی کړی دی. ۵۴ ګراف د زده کوونکو د دندی موندنی په برخه کی د تشبث مضمون د اغیزو په هکله لا زیات مالومات وړاندی کوی.

۵٤ ګراف: زده کوونکو ته د کار موندنی په برخه کی د تشبث پروګرام اغیزی



د هغو کسانو برسیره چې د کار په لټه کې ول، د زده کوونکو په منځ کې ځینې نورو ته د کار ورکوونکې (استخدام کوونکی) زده کوونکې هم ول. نو له دی امله له ټولو زده کوونکو پوښتنه وشوه چې په ژوند کې یې کله د کار ورکوونکې رول لوبولی او که نه. له ټمې سره سم، ډیر کم شمیر زده کوونکو (٪۲۹) دا رول درلودلی وه. باید دی خبری ته اشاره وکړو چې زیات شمیر د کلیو زده کوونکو (٪۴۰) په پرتله د ښاری سیمو زده کوونکو (٪۲۸) کار ورکوونکې پاتې شوی ول. همدارنګه، زیات شمیر هلکان زده کوونکې (٪۳۱) په پرتله د نجونو زده کوونکو (٪۲۷) د کار ورکونکې رول لوبولی وه. او کله چې له زده کوونکې څخه د هغو کارونو د ډول په هکله چې دوی د کار ورکوونکې په توګه نورو ته ورکړی ول پوښتنه وشوه، ٪۲۲ زده کوونکو وویل چې دوی ځینې کسانو ته د کارکوونکو په توګه دنده ورکړی وه. په داسې حال کې چې ٪۱۹ د دوی په اداری برخو کې خلکو ته دندی ورکړی وی او ٪۱۵ وویل چې دوی د کارکوونکو توانایی او مهارت ته په کتو دندی ورکړی دی. د دی برسیره، د کار ورکوونکو زده کوونکو څخه پوښتنه وشوه چې د کار ورکونکې د دندی اړوند د تشبث مضمون د رول په هکله مالومات ورکړی، ٪۷۵ د دوی وویل چې د تشبث مضمون له دوی سره د کاراوبار او کارکوونکو په کنټرول، پلان کولو، او مدیریت کې مرسته کړی ده. ۵۵، ۵۶، ۵۷، ۵۸ او ۵۹ ګرافونه د کار ورکونکو زده کوونکو د رول په هکله پوره مالومات وړاندی کوی.

۵۵ ګراف: د کار ورکونکې رول یې لوبولی دی



۵۶ ګراف: د کار ورکونکی رول یی لوبولی دی په ښاری او کلیوالی سیمو کی




۵۷ ګراف:  د کار ورکونکی رول یی لوبولی دی د جنسیت په نظر کی نیولو سره



۵۸ګراف: د دندو ډولونه چې زده کوونکو د کار ورکوونکی په توګه نورو ته ورکړی




۵۹ ګراف: د تشبث اهمیت د کار ورکونکی رول په لوبولو کی



د دی برسیره، له زده کوونکو څخه پوښتنه وشوه چی آیا سوداګری د دوی دنده ده او که نه؟ له ارزونی وروسته ومونډل شوه چی د ۴۵٪ زده کوونکو دنده تجارت وه. د زده کوونکو د کار موندنی نورو معیارونو ته ورته، تجارت ډیری د کلیو زده کوونکو (۸۴٪) په پرتله د ښاری سیمو زده کوونکو (۴۳٪) په منځ کی دود وه. ولی، د هغو زده کوونکو شمیر چی تجارت یی درلوده د هلکانو او نجونو زده کوونکو ترمنځ نږدی یو شان وه، چی په ترتیب سره ۴۶٪ او ۴۵٪ وه . له زده کوونکو پوښتنه وشوه چی د کاراوبار په کوم پړاو کی د تشبث مضمون د دوی لپاره زیات ګټور وه. ۷۱٪ زده کوونکو وویل چی تشبث مضمون د کاراوبار په پیلولو کی ډیر مهم دی، په داسی حال کی چی ۲۲٪ د دوی دی خبری ته اشاره وکړه چی د تشبث پروګرام د کاراوبار د پراختیا لپاره ډیر ګټور دی. د دی برسیره، له زده کوونکو څخه د کاراوبار د پراختیا په مختلفو پړاوونو کی د تشبث مضمون د رول په هکله پوښتنه وشوه. ۲۹٪ د دوی وویل چی د تشبث مضمون د کاراوبار لپاره د بازار موندنی او پراختیا کی ډیر اړین دی. په ورته ډول، ۱۸٪ زده کوونکو وویل چی د تشبث مضمون د دوی د کاراوبار په بریالیتوب کی ډیر مهم رول لوبولی دی. ۶۰، ۶۱، ۶۲، ۶۳ او ۶۴ ګرافونه د هغو زده کوونکو یو مکمل انځور ښیی چی سوداګری یی دنده ده.

*۶۰ ګراف: زده کوونکو لپاره تجارت د دندی په توګه*



۶۱ ګراف: د زده کوونکو لپاره تجارت د دندی په توګه په ښاری او کلیوالی سیمو کی




۶۲ ګراف: د زده کوونکو لپاره تجارت د دندی په توګه د جنسیت په نظر کی نیولو سره



۶۳ ګراف: د تجارت په مختلفو پراوونو کی د تشبث رول




۶٤ ګراف: د تجارت په مختلفو پراوونو کی د تشبث اهمیت



په بل پړاو کی له زده کوونکو څخه پوښتنه وشوه چی د تشبث پروګرام دوی ته د کاری فرصتونو په برابرولو کی اغیزمن وه او که نه. نیږدی اته پر لسو برخو (۷۹٪) زده کوونکی په دی باور ول چی د تشبث پروګرام زده کوونکو ته د کاری فرصتونو په برابرولو کی اغیزی در لودی. دا ډول باور د کلیو زده کوونکو تر منځ (۸۳٪) وه، په داسی حال کی چی دا سلنه په ښاری سیمو کی ۷۹٪ وه او همدارنګه په هلکانو زده کوونکو کی (۸۴٪) او په نجونو کی (۷۴٪) وه. کله چی له زده کوونکو څخه د تشبث پروګرام په وسیله منځ ته راغلیو دندو د ډول په هکله پوښتنه وشوه، ۲۸٪ د دوی دی خبری ته اشاره وکړه چی د تشبث پروګرام څو ډوله کاری فرصتونه منځ ته راوړی دی، په داسی حال کی چی ۱۷٪ زده کوونکو فکر کاوه چی د ګنډلو (خیاطی) مسلک چی د تشبث پروګرام لخوا په مخ وړل کیږی زیاتو زده کوونکو ته دنده برابره کړی ده او ۱۲٪ باور درلوده چی هرډول کوچنی کار د تشبث پروګرام په مرسته پیل کیدی شی. همدارنګه له زده کوونکو څخه پوښتنه وشوه چی د تشبث پروګرام څه ډول زده کوونکو ته کاری فرصتونه منځ ته راوړی. ۴۹٪ ځواب ورکونکوو زده کوونکو وویل چی د تشبث مضمون زده کوونکو ته د کاراوبار او دندی موندنی په هکله زده کړی ورکوی، پداسي حال کې چې ۲۶٪ زده کوونکو د تشبث مضمون یواځی د کاري فرصتونو د رامنځته کولو په برخه کې د سوداګری لپاره د حوالي (ماخذ) مضمون وګانه. ۶۵، ۶۶، ۶۷، ۶۸ او ۶۹ ګرافونه زده کوونکو ته د تشبث مضمون په وسیله د رامنځ ته شویو کاری فرصتونو په هکله پوره مالومات وړاندی کوی.

۶۵ ګراف: ایا د تشبث مضمون د کاری فرصتونو په منځ ته راوړلو کی بریالی وه



۶۶ ګراف: ایا د تشبث مضمون د کاری فرصتونو په منځ ته راوړلو کی بریالی وه (په ښاری او کلیوالی سیمو کی)




٦٧ ګراف: د جنسیت په نظر کی نیولو سره د کاری فرصتونو په رامنځ ته کولو کی د تشبث مضمون بریالیتوب



۶۸ ګراف: د تشبث لخوا رامنځ ته شویو دندو ډولونه




۶۹ ګراف: د کاری فرصتونو په رامنځ ته کولو کی د تشبث مضمون اهمیت



د دې برسیره، له زده کوونکو څخه پوښتنه وشوه چې آیا د تشبث پروګرام د کارې فرصتونو په رامنځته کوولو کې د هلکانو لپاره اغیزمن وه او که د نجونو لپاره. ٪۸۵ زده کوونکو وویل چې د تشبث پروګرام د هلکانو لپاره اغیزمن دی دا په داسې حال کې ده چې ٪۴۲ پاتې زده کوونکو د تشبث مضمون د نجونو زده کوونکو لپاره اغیزمن وباله. او کله چې په ځانګړې جنسیت د تشبث مضمون د اغیزو په هکله پوښتنه وشوه، نو ٪۲۳ د ځواب ورکوونکو زده کوونکو ځواب ورکړ چې هلکان کولای شي له کوره بهر کار وکړي او ٪۱۷ د دوی دې خبرې ته اشاره وکړه چې سوداګرې د نجونو په پرتله د هلکانو په وسیله د یو رواج سره سم ډیره پرمخ وړل کیږي. ۷۰ او ۷۱ ګرافونه د کارې فرصتونو په رامنځ ته کولو کې په یوه ځانګړې جنسیت د تشبث پروګرام د اغیزو په هکله مالومات بنیي.

۷۰ ګراف: د نجونو او هلکانو لپاره د کارې فرصتونو په رامنځ ته کوولو کې د تشبث اهمیت



۷۱ ګراف: د یوه ځانګړی جنسیت لپاره د کاری فرصتونو په رامنځ ته کوولو کی د تشبث اهمیت




له زده کوونکو څخه پوښتنه وشوه چی آیا د تشبث مضمون د کار موندنی په برخه کی د دوی په نظرونو باندی اغیزه کړی او که نه. په دی موخه، له ټولو زده کوونکو څخه پوښتنه وشوه چی آیا د تشبث پروګرام د کار موندنی په برخه کی د دوی په نظرونو کی بدلون راوستی دی او که نه. له نیکه مرغه د تشبث مضمون د ۷۸٪ زده کوونکو په نظر کی بدلون راوستی دی. باید دی خبری ته هم اشاره وکړو چی د تشبث مضمون د زیات شمیر کلیوالو زده کوونکو (۱۰۰٪) په پرتله د (۷۷٪) ښاری سیمو زده کوونکو د کارموندنی په برخه کی د نظر بدلون راوستی دی. همدارنګه، د تشبث مضمون د زیات شمیر هلکانو زده کوونکو (۸۰٪) په پرتله د (۷۷٪) نجونو زده کوونکو کی په دی هکله د نظر بدلون را وستی دی. وروسته له زده کوونکو څخه پوښتنه وشوه چی د دوی کوم ډول بدلون ته پام شوی دی. ۲۱٪ زده کوونکو وویل چی د تشبث پروګرام له دوی سره مرسته کړی ده ترڅو د کاراوبار د مدیریت په برخه کی خپلو زده کړو ته پراختیا ورکړی. ۱۶٪ وویل چی دوی اوس کولای شی خپل اوسنی کاراوبار ته پراختیا ورکړی. ۷۲، ۷۳، ۷۴ او ۷۵ ګرافونه د کار موندنی په برخه کی د زده کوونکو د نظر د بدلون په هکله د تشبث پروګرام اغیزی څرګندوی.

۷۲ ګراف: د تشبث په وسیله د کارموندنی په اړه د نظر بدلون




۷۳ ګراف: په کلیو او ښاری سیمو کی د تشبث په وسیله د کارموندنی په اړه د نظر بدلون



۷٤ ګراف: د جنسیت په نظر کی نیولو سره د تشبث په وسیله د کارموندنی په اړه د نظر بدلون




۷۵ ګراف: د کارموندنی په هکله د نظر بدلونونه



په پای کې، د کار موندنې په هکله له زده کوونکو څخه پوښتنه وشوه چې آیا د تشبث پروګرام د زده کوونکو له مهارتونو سره سم کاري فرصتونه منځ ته راوړي دي او که نه. ٪۶۲ زده کوونکو دې خبرې ته اشاره وکړه چې د تشبث پروګرام له داسې فرصتونو څخه ملاتړ کوي. ٪۹۱ د کلیو زده کوونکو او ٪۶۰ د ښاري سیمو زده کوونکو پورته پوښتنې ته مثبت ځواب ورکړی او وې ویل چې د تشبث پروګرام د کاري فرصتونو سره سمو مهارتونو څخه ملاتړ کوي. کله چې د زده کوونکو د جنسیت په هکله خبرې وشوې، څرګنده شوه چې زیاته سلنه هلکان زده کوونکي (٪۶۹) په پرتله د نجونو زده کوونکو (٪۵۶) په دې باور ول چې د تشبث پروګرام د کارموندنې په وخت کې د دندې سره له متناسبو مهارتونو څخه ملاتړ کړی دی. په پای کې، له زده کوونکو څخه غوښتنه وشوه چې د خپلو مهارتونو څخه یادونه وکړي. ٪۳۰ زده کوونکو وویل چې دوی د تشبث په پروګرام کې له برخې اخیستو سره د کاراوبار په هکله زیات مالومات لاسته راوړي دي، چې کولای شي له دې څخه په کارموندنې کې ګټه پورته کړي. همدارنګه، ٪۲۵ زده کوونکو وویل چې د تشبث پروګرام زده کوونکي هڅوي چې له خپل توان څخه اعظمي ګټه پورته کړي. ۷۶، ۷۷، ۷۸ او ۷۹ ګرافونه د تشبث د پروګرام د فرصتونو سره سمو مهارتونو په اړه پوره مالومات وړاندې کوي.

۷٦ ګراف: په دندې موندنه کې د تشبث پروګرام د فرصتونو سره سمو مهارتونو څخه ملاتړ



۷۷ ګراف:  په دندی موندنه کی د تشبث پروګرام د فرصتونو سره سمو مهارتونو ښخه ملاتړ په ښاری او کلیوالی سیمو کی




۷۸ ګراف:  په دندی موندنه کی د تشبث پروګرام د فرصتونو سره سمو مهارتونو ښخه ملاتړ د جنسیت په نظر کی نیولو سره



۷۹ ګراف: د تشبث پروګرام په واسطه د زده کوونکو لوړ شوی مهارتونه




## ۲,۲,۵ د تشبث پروګرام او په ننداړو کې د زده کوونکو برخه اخیستنه

د تشبث پروګرام یو له مهمو کارونو څخه د زده کوونکو د تولیداتو د ننداړو په لاره اچول دي. له همدې امله، په پوښتنپانه کې یوه بیله برخه د دې موخې لپاره ځانګړې شوې وه. په همدې اساس، د زده کوونکو د تولیداتو د ننداړو، تجارتي طرحو او د تجارتي طرحو د سیالیو په اړه مالومات را ټول شول.

### ۲,۲,۵,۱ د زده کوونکو د تولیداتو ننداري

له زده کوونکو څخه په ننداړو کې د دوی د ونډې اخیستو په هکله پوښتنه وشوه. ۴۸٪ زده کوونکو په ننداړو کې برخه اخیستې وه. باید دې خبرې ته اشاره وکړو چې زیاته سلنه زده کوونکې د کلیو (۶۸٪) په پرتله د ښارې سیمو زده کوونکو (۴۷٪) په ننداړو کې برخه اخیستې وه. د تمې سره سم، زیاته سلنه نجونې زده کوونکې (۴۴٪) په پرتله د هلکانو زده کوونکو (۴۱٪) په ننداړو کې برخه اخیستې وه. کله چې له زده کوونکو څخه د دوی د تولیداتو د ډول په هکله چې دوی ننداری ته وړاندې کړي ول پوښتنه وشوه، نو مالومه شوه چې ۳۰٪ زده کوونکو د خامک (ګل ګنډنې) تولیدات ننداری ته وړاندې کړي ول. د دې برسیره، له زده کوونکو څخه په ننداړو کې د دوی د تولیداتو د خرڅلاوو د پروسې په هکله پوښتنه وشوه. ۳۲٪ د دوی د خرڅلاوو له پروسې څخه ډیر خوښ ول. ۸۰، ۸۱، ۸۲، ۸۳ او ۸۴ ګرافونه د زده کوونکو د تولیداتو د ننداړو په هکله مالومات وړاندې کوي.

*۸۰ ګراف: د زده کوونکو په ننداروکی برخه اخیستنه*




۸۱ ګراف: د زده کوونکو په ننداروکی برخه اخیستنه په کلیوالی او ښاری سیمو کی



۸۲ ګراف: د زده کوونکو په ننداړو کې برخه اخیستنه د جنسیت په نظر کې نیولو سره




۸۳ ګراف:  ننداری ته کېښودل شوی تولیدات



۸۴ ګراف: په ننداړو کې د تولیداتو د خرڅلاوو پروسه



### ۲,۲,۵,۲ د زده کوونکو تجارتی طرحی او د هغی سیالی

وروسته له زده کوونکو څخه د تجارتی طرحو په هکله چی دوی جوړی کړی وی پوښتنه وشوه. ۶۹٪ زده کوونکیواځی یوه طرحه جوړه کړی وه، په داسی حال کی چی ۲۰٪ د دوی دوه تجارتی طرحی جوړی کړی وی. ۸۵ ګراف د زده کوونکو د تجارتی طرحو د شمیر په هکله مالومات وړاندی کوی.

*۸۵ ګراف: د زده کوونکو لخوا د جوړو شویو تجارتی طرحو شمیر*




د دی برسیره، له زده کوونکو څخه پوښتنه وشوه چی د تجارتی طرحو په څو سیالیو کی یی برخه اخیستی ده. ۷۷٪ زده کوونکو لږ تر لږه د تجارتی طرحو په یوی سیالی کی برخه اخیستی وه، دا په داسی حال کی ده چی ۱۳٪ د دوی د تجارتی طرحو په دوه سیالیو کی ګډون کړی وه. کله چی له زده کوونکو څخه پوښتنه وشوه چی په دی سیالیو کی یی څووم ځای خپل کړی وه، ۱۷٪ زده کوونکو لومړی ځای، ۱۸٪ دوهم ځای، ۱۸٪ دریم ځای خپل کړی وه او ۴۶٪ د دوی د لسو غوره سیالی کوونکو په لړ کی راغلی ول. ۸۶ او ۸۷ ګرافونه په دی هکله پوره مالومات وړاندی کوی.

۸۶ ګراف:  د تجارتی طرحو د سيالیو شمیر چې زده کوونکو په کې برخه اخیستی ده




۸۷ ګراف:  د تجارتی طرحو په سيالیو کې د زده کوونکو ګټل شوی ځایونه



## ۲،۳ د تشبث پروګرام د ښوونکو د ارزونې موندنې

د تشبث ښوونکي د تشبث پروګرام له ډېرو مهمو کسانو څخه شمېرل کېږي، دوی د تشبث مضمون کلونه تدریس کړې دي. په ټوله کې ۶۳ ښوونکي د هېواد د څلورو ولایتونو په ۴۳ لیسو کې د تشبث مضمون تدریس پر مخ وړي. له همدې امله، د تشبث ښوونکي د پروګرام، د دې د اهمیت او دوام په اړه د یوه روښانه نظر درلودونکي دي. او له همدې کبله د تشبث پروګرام ښوونکي د تشبث پروګرام د ارزونې له اصلي مالوماتو ورکوونکو څخه شمېرل کېږي. او همدا سبب وه چې د ټولو ۴۳ لیسو له ښوونکو سره مرکې ترسره شوې.

د یادونې وړ ده چې د ښوونکو لپاره ځانګړې پوښتنپاڼې ترتیب شوې وې ترڅو له دوی څخه د ارزونې لپاره اړین مالومات لاسته راوړو. د تشبث له ښوونکو څخه لاسته راغلي مالوماتو په لاندې برخو کې د تشبث له ښوونیزې او روزنیزې مؤسسې سره د کره مالوماتو په لاسته راوړلو کې مرسته کړې ده:

الف) د تشبث مضمون د تدریس لپاره د ښوونکو اوسنی وړتیاوې،

ب) د تشبث مضمون له زده کړې سره د زده کوونکو لیوالتیا،

ج) د تشبث مضمون د اهمیت په اړه د زده کوونکو پوهاوی،

د) په لیسو کې د تجارتي طرحو سیالیو او ننداړو اهمیت،

ه) د زده کوونکو په ټولنیز-اقتصادي ورځني ژوند د تشبث اغیزې،

و) د تجارت په پیل، د کاراوبار په پراختیا او دندې په موندنې کې د زده کوونکو تجربې او

ز) د تشبث پروګرام د پراختیا او د تشبث مضمون په ښوونیز ملي نصاب کې د شاملېدو اړتیا.

راټول شوي مالومات د څو معیارونو په نظر کې نیولو سره تر ارزونې لاندې ونیول شول لکه (عمومي تحلیل، د ځای په نظر کې نیولو سره څېړنه، د جنسیت په نظر کې نیولو سره تحلیل، د جنسیت او ځای په نظر کې نیولو سره تحلیل، د پوښښ لاندې سیمو په اساس څېړل او د جنسیت او پوښښ لاندې سیمو په اساس څېړل). وروسته څېړل شوي مالومات په یو ټولیز راپور کې چې د لاندې برخو درلودونکې وه ځای پرځای شول:

الف) د ځواب ورکوونکو عمومي ځانګړنې،

ب) د تشبث پروګرام څخه لاسته راغلې تجربې،

ج) د تشبث پروګرام او زده کوونکي،

د) د تشبث پروګرام او ننداړې،

ه) د تشبث مضمون ټولنیزې-اقتصادي اغیزې او

و) د تشبث مضمون راتلونکي.

### ۲,۳,۱ د ځواب ورکوونکو عمومي ځانګړنې

مخکې تر دې چې له ښوونکو څخه د ارزونې اصلي پوښتنې وشي، د ارزونې د ټیم غړو ځینې مهم مالومات د ځواب ورکوونکو د عمومي ځانګړنو لکه جنسیت، عمر او ځای په هکله را ټول کړل.

#### ۲,۳,۱,۱ جنسیت

مخکې یادونه وشوه چې د تشبث ښوونیزه او روزنیزه مؤسسه د تشبث مضمون له تدریس څخه په ۴۳ لیسو کې (۲۷ د نجونو لیسې او ۱۶ د هلکانو لیسو) ملاتړ کوي. د دې برسیره، د ښاري او کلیوالي لیسو ویش په ترتیب سره ٪۸۴ (۳۶ ښاري لیسې) او ٪۱۶ (۷ کلیوالي لیسې) وه. همدارنګه دا عامه خبره ده چې د نجونو لیسو کې د ښځینه ښوونکو شمیر د کلتوري مسألو په نظر کې نیولو سره له نارینه ښوونکو څخه ډیر وه. له همدې امله تمه کیده چې د ښځینه ښوونکو شمیر هم باید ډیر وي. له دې امله چې د تشبث ښوونیزې او روزنیزې مؤسسې تر پوښښ لاندې د ښځینه وو لیسو شمیر د نارینه وو په پرتله زیات دی نو دا روښانه ده چې د ښځینه وو ښوونکو شمیر به هم ډیر وي. پدې اساس ٪۶۱ د تشبث د ټولو ښوونکو له ډلې څخه ښځینه ښوونکې وې او پاتې ٪۳۹ ښوونکې نارینه وو. له دې ٪۶۱ د تشبث ښځینه ښوونکو له ډلې ٪۵۸ د دوی په ښاري سیمو او یوازې ٪۳ د دوی په کلیوالي سیمو کې د تشبث مضمون په تدریس بوخت وو. له بل لوري څخه، له ٪۳۹ نارینه ښوونکو له ډلې څخه ٪۳۲ په ښاري سیمو او ٪۷ یې په کلیوالي سیمو کې د تشبث مضمون په تدریس بوخت وو. په بل پړاو کې، د تشبث مضمون ښوونکې د ښاري او کلیوالي سیمو د ویش په اساس تر ارزونې لاندې ونیول شول، او وروسته له ارزونې مو وموندل چې ښځینه ښوونکې په ښاري سیمو کې (٪۶۴) او په کلیوالي سیمو کې (٪۳۳) وو. ولې د نارینه ښوونکو لپاره د دې شمیرو برعکس لاسته راغلل، د دوی شمیر په کلیو کې (٪۶۷) او په ښاري سیمو کې (٪۳۶) وه. د یادونې وړ ده چې د تشبث ښوونکو ویش په کلیوالي او ښاري سیمو کې د هلکانو او نجونو د لیسو په ښاري او کلیوالي سیمو کې ویش ته ورته وه. راټول شوي مالومات ښیي چې د ټولو ۳۶ ښاري لیسو څخه ۱۲ د هلکانو او ۲۴ پاتې د نجونې لیسې وي. له همدې امله، دې پایلې ته ورسیدو چې د هلکانو لیسې د نجونو د لیسو نیمایی (٪۵۰) وې. له بل لوري، د کلیو د ټولو ۷ لیسو څخه ۳ د نجونو او ۴ د هلکانو لیسې وې. په دې اساس پوهیږو چې په کلیو کې د هلکانو لیسې ٪۶۷ او د نجونو لیسې ٪۳۳ دي. د پورته ځیرنو پایلو ته په کتو، د تشبث د نارینه او ښځینه ښوونکو ویش په کلیوالي او ښاري سیمو کې سره ورته دی؛ پدې ډول چې ښځینه ښوونکې په ښاري سیمو کې او نارینه ښوونکو په کلیوالي سیمو کې اکثریت درلوده. د پوښښ لاندې سیمو څخه د راټول شویو مالوماتو څخه داسې څرګندیږي چې د تشبث مضمون ښځینه ښوونکې په دوه سیمو کې یعنې کابل ښار (٪۷۳) او پروان ښار (٪۶۰) کې اکثریت لري.

برعکس، په ننګرهار ولایت، چهارآسیاب ولسوالی، او پغمان ولسوالیو کی د ښځینه وو او نارینه وو ښوونکو شمیر مساوی (٪۵۰ نارینه او ٪۵۰ ښځینه) وه. په پای کی، په نورو سیمو کی لکه بامیان ښار (٪۸۰)، شکردری ولسوالی (٪۱۰۰)، کلدری ولسوالی (٪۱۰۰) او استالف ولسوالی کی (٪۱۰۰) د نارینه وو ښوونکو شمیر له ښځینه وو څخه زیات وه. ۸۸ او ۸۹ ګرافونه د جنسیت په اساس د ښوونکو شمیر ښیی.

۸۸ ګراف: د تشبث پروګرام ښوونکی د جنسیت په اساس




۸۹ ګراف: د جنسیت په اساس په ښاری او کلیوالی سیمو کی د تشبث پروګرام ښوونکی



## ۲,٤ د تشبث مضمون اړوند د ښوونکو تجربه (پس منظر)

د تشبث مضمون د ښوونکو د عمومي ځانګړنو په تړاوو له خبرو وروسته، بله مهمه موضوع د تشبث مضمون اړوند د ښوونکو د تجربې په اړه مالوت لاسته راوړل ول. له دې امله، د ښوونکو او تشبث مضمون د اړیکو ځرنګوالی د ځیرنی تر پوښښ لاندې ونیول شو، چې په دې اړه نور مالومات په لاندې پاراګرافونو کې وړاندې شوی دی.

### ۲,٤,۱ د تشبث مضمون اړوند د ښوونکو پوهاوی

په ټولګیو کې د تشبث مضمون له تدریس څخه دمخه مهمه ګنل کیږی چې له مضمون سره د ښوونکو د پوهاوی په اړه مالومات لاسته راوړو. کولای شو چې دا پوهاوی د ښوونکو د زده کړو د کچې، د مضمون د تدریس له تجربې او یا هم لږترلږه د اړونده ادارو لخوا دوی ته د ورکړل شویو ټرینګونو په اړه د مالوماتو په وسیله لاسته راوړو. تشبث د هغو مضمونونو له ډلې څخه دی چې نوی منځ ته راغلی او د سوداګری له مفهومونو سره تړاو لری، نو له دې امله ښوونکی ښایی له دې مضمون سره اکاډمیکه بلدتیا ونلری. ولی، اوږد مهاله تدریس او د ظرفیت د لوړولو ټرینګونو د ښوونکو د تدریس وړتیاوو ته وده ورکړی ده. له دې امله، د تشبث د ښوونکو د تدریس د وړتیاوو د مالومولو لپاره د ارزونی ټیم وروستنی دوه معیارونه (عملی تجربه او ټرینګونه) په نظر کې ونیول. له دی دوه معیارونو څخه، د تشبث مضمون اړوند د ښوونکو د ظرفیت د لوړونی ټرینګونه د ارزونی لاندې ونیول شول. له همدی امله، له ټولو ښوونکو څخه پوښتنه وشوه آیا دوی ته د اړونده ادارو لخوا د تشبث مضمون اړوند کوم ټرینګ ورکړل شوی دی او که نه. له نیکه مرغه، له نهه پر لسو برخو څخه ډیرو (٪۹۳) د تشبث ښوونکو ته د تشبث مضمون په هکله ټرینګ ورکړل شوی وه. په افغانستان کې د کارکوونکو د دوامداره تغیر او بدلون په نظر کې نیولو سره دا یوه لویه لاسته راوړنه ګنل کیږی. د دی برسیره، د پروګرام عملی کول د ٪۹۰ څخه پورته ټرینګ ورکړل شویو ښوونکو لخوا به همیشه د مثبتو اغیزو درلودونکی وی. له همدی امله، د دی سپارښتنه کیږی چې پاتی ٪۷ ښوونکو ته هم په راتلونکو کلونو کې ټرینګ ورکړل شی ترڅو زده کوونکی له پروګرام څخه ښه ګټه پورته کړای شی. ۹۰ ګراف د تشبث مضمون اړوند د ټرینګ ور کړل شویو ښوونکو ځرنګوالی ښیی.

۹۰ ګراف: د تشبث ښوونکو سلنه چې د تشبث مضمون اړوند ورته ټریننګ ورکړل شوی دی




له دی امله چې یواځې ٪۷ د تشبث مضمون ښوونکو لا تردی دمه د دی مضمون په هکله ټریننګ ندی لیدلی، اړینه وه چې د هغو ښوونکو د ځای په هکله چې لا تراوسه یې ټریننګ ندی لیدلی وپوهیږو. په دی موخه لاسته راغلی مالومات د ښوونکو د ځای په نظر کی نیولو سره وځیړل شول، او دی پایلی ته ورسیدو چې یواځې ٪۸ ښوونکی په ښاری سیمو کی نه ول ټریننګ شوی، په داسی حال کی چې ٪۹۲ د دوی په ښاری سیمو کی او ٪۱۰۰ د دوی په کلیوالی سیمو کی له مضمون سره آشنا کړی شوی ول. ۹۱، ۹۲ او ۹۳ ګرافونه د تشبث مضمون اړوند د ټریننګ شویو ښوونکو په هکله مالومات وړاندی کوی. په دی اساس، د تشبث پروګرام پاتی ٪۷ ښوونکی چې په ښاری سیمو کی میشت دی په آسانی سره تر پوښښ لاندی نیولی شو. وروسته د ښوونکو د جنسیت اړوند د مالوماتو په نظر کی نیولو سره مالومه شوه چې (٪۹۷) نارینه ښوونکو او (٪۹۵) ښځینه ښوونکو ته ټریننګ ورکړل شوی وه. په بل پړاو کی، ټریننګ شوی ښوونکی د جنسیت او ځای دواړو په نظر کی نیولو سره تر ځیړنی لاندی ونیول شول. لکه څرنګه چې مخکی یادونه وشوه د کلیوالی سیمو ټولو ښوونکو ته ټریننګ ورکړل شوی وه نو له دی امله یواځې ښاری ښوونکی د جنسیت په اساس تر ارزونی لاندی ونیول شول، او ومو مونده چې ډیرو ښځینه ښوونکو (٪۹) په پرتله د (٪۵) نارینه ښوونکو ته ټریننګ نه وه ورکړل شوی.

۹۱ ګراف: د ځای په نظر کی نیولو سره د تشبث مضمون ټرینګ ورکړل شوی ښوونکی




۹۲ ګراف: د جنسیت په اساس د تشبث مضمون ټرینګ ورکړل شوی ښوونکی



۹۳ ګراف: د ځای او جنسیت په اساس ټرینګ ورکړل شویو ښوونکو ځرنګوالی




### ۲,٤,۲ زده کوونکی او دتشبث پروګرام

په راتلونکو پاراګرافونو کی به د تشبث او زده کوونکو په هکله مالومات وړاندی شی. دا مالومات له تشبث مضمون سره د زده کوونکو لیوالتیا ، دلیسو او زده کوونکو ترمنځ د لیوالتیا د کچی پرتله کول او د تشبث په هکله د زده کوونکو د پوهاوی د کچی په اړه دی. هریوه د دی موضوعګانو تر فرعی عنوانونو لاندی په بیله توګه څیړل شوی دی.

#### ۲,٤,۲,۱ له تشبث مضمون سره د زده کوونکو لیوالتیا

له کومه ځایه چی د تشبث مضمون د پوهنی وزارت د نصاب برخه نه ده، د زده کوونکو د لیوالتیا په هکله مالومات د ډیر اهمیت درلودونکی دی. په دی اساس، له ټولو ښوونکو څخه پوښتنه وشوه چی آیا زده کوونکی له دی مضمون سره لیوالتیا لری او که نه. نږدی ټولو ښوونکو (٪۹۸) ځواب ورکړ چی زده کوونکی له دی مضمون سره لیوالتیا لری. د شمیرو له څیړلو وروسته، مالومه شوه چی ٪۲ ښاری ښوونکو له تشبث مضمون سره د زده کوونکو د نه لیوالتیا څخه یادونه کړی وه، په داسی حال کی چی (٪۱۰۰) کلیوالو ښوونکو ځواب ورکړ چی زده کوونکی له دی مضمون سره لیوالتیا لری. ۹۴ او ۹۵ ګرافونه د زده کوونکو لیوالتیا له تشبث مضمون سره د ښوونکو له نظره ښیی.

۹٤ ګراف: د زده کوونکو لیوالتیا له تشبث مضمون سره د تشبث د ښوونکو له نظره




۹٥ ګراف: د زده کوونکو لیوالتیا له تشبث مضمون سره د تشبث د ښوونکو له نظره په کلیوالی او ښاری سیمو کی




کله چی لاسته راغلی مالومات د جنسیت په نظر کی نیولو سره د لا زیاتو څیړنو لاندی ونیول شول، نو مالومه شوه چی د ښځینه ښوونکو زده کوونکی (۱۰۰٪) له دی مضمون سره لیوالتیا ښودلی ده په همدی ډول د نارینه ښوونکو زده کوونکو (۹۷٪) له دی مضمون سره لیوالتیا ښودلی ده. که څه هم، کله چی د ښوونکو ځای او جندر دواړه په نظر کی ونیول شول، نو مالومه شوه چی یوازی ۳٪ نارینه ښوونکو په ښاری سیمو کی ځواب ورکړی چی زده کوونکی یی له دی مضمون سره لیوالتیا نه لری. په داسی حال کی چی (۱۰۰٪) نارینه ښوونکو په ښاری سیمو او همدارنګه (۱۰۰٪) ښځینه ښوونکو په ښاری سیمو کی او (۱۰۰٪) په کلیوالی سیمو کی یادونه وکړه چی زده کوونکی یی د دی مضمون له زده کړی سره لیوالتیا لری. ۹۶ ګراف د جنسیت او ځای په نظر کی نیولوسره د ښوونکو له نظره، له مضمون سره د زده کوونکو د لیوالتیا په هکله نور مالومات وړاندی کوی.

۹٦ ګراف: د جنسیت په نظر کی نیولو سره د زده کوونکو د لیوالتیا په هکله د تشبث د ښوونکو نظرونه




وروسته تر دی چی څرګنده شوه چی زیات شمیر زده کوونکی له دی مضمون سره لیوالتیا لری، نو اړینه ده چی روښانه شی چی د زده کوونکو د لیوالتیا لاملونه څه دی. له څیړنی وروسته مالومه شوه چی د ۲۳٪ ښوونکو زده کوونکی له دی امله دی مضمون سره لیوالتیا لری چی دی مضمون دوی ته د کاراوبار مهارتونه ور ښودلی دی. په ورته وخت کی، ۲۱٪ ښوونکو ځواب ورکړ چی تشبث د زده کوونکو په ځان بسیاوالی ته وده ورکوی نو ځکه زده کوونکی له دی مضمون سره لیوالتیا لری. له بل لوری څخه، د ۱۹٪ ښوونکو زده کوونکو لپاره سوداګریزی طرحی او ننداری د زده کوونکو د لیوالتیا یواځینی دلیل وه. ۳۷٪ پاتی ښوونکو نور ځوابونه درلودل چی په ۹۷ ګراف کی ښودل شوی دی.

۹۷ ګراف: له تشبث سره د زده کوونکو د لیوالتیا لاملونه (د ښوونکو په نظر)



وروسته د ښاری او کلیوالی سیمو په نظر کی نیولو سره لاملونه وڅیړل شول. مالومه شوه چی د تشبث د ښوونکو زده کوونکی په ښاری سیمو کی د لاندی لاملونو له امله د تشبث له مضمون سره لیوالتیا درلوده: دا مضمون په ځان بسیا والی ته وده ورکوی (۲۴٪)، دا مضمون د کاری فرصتونو د مهارتونو زده کړه ورکوی (۲۲٪) او د تجارتی طرحو او ننداړو له امله (۲۲٪) زده کوونکی ورسره لیوالتیا لری. او نیمایی ښوونکو (۵۰٪) په کلیو کی ځواب ورکړ چی زده کوونکی لیواله دی چی خپل کاراوبار ولری نو له دی امله یی له دی مضمون سره زړه لګیدلی دی. ۳۰٪ ښوونکو په کلیوالو سیمو کی فکر کاوه چی تشبث د کاراوبار مهارتونه زده کوونکو ته ورښایی، په داسی حال کی چی ۱۷٪ پاتی د دوی وویل چی زده کوونکی د تشبث مضمون د سوداګری د طرحو او ننداړو له کبله دا مضمون خوښوی. ۹۸ ګراف په ښاری او کلیوالی سیمو کی له تشبث مضمون سره د زده کوونکو د لیوالتیا لاملونه ښیی.

۹۸ګراف: په ښاری او کلیوالی سیمو کی د زده کوونکو د علاقی لاملونه (د ښوونکو نظر)



دا مسئله مهمه ده چې دهغو لاملونو په هکله چې ښځينه او نارينه ښوونکو وړاندې کړل هم مالومات ولرو. مهمه خبره دا وه چې د ښځينه او نارينه وو ښوونکو درې لويو ګروپونو له مضمون سره د زده کوونکو د ليوالتيا په هکله ورته نظرونه درلودل. ٪۳۳ نارينه ښوونکو او ٪۳۱ ښځينه ښوونکو فکر کاوه چې د تشبث مضمون زده کوونکو ته د کاراوبار مهارتونه ور ښايي او دا د دې لامل شوی چې زده کوونکې له دې مضمون سره ډيره ليوالتيا وښيي. په ورته وخت کې، ٪۲۸ نارينه ښوونکو او ٪۲۹ ښځينه ښوونکو يادونه وکړه چې زده کوونکې غواړي چې شخصي کاراوبار ولري، نو له دې امله دې مضمون ته ډير اهميت ورکوي. په پای کې، د ٪۱۳ نارينه زده کوونکو او ٪۱۵ ښځينه زده کوونکو سوداګريزې طرحې او ننداري له دې مضمون سره د دوی د ليوالتيا مهم لاملونه وبلل. ۹۹ ګراف د تشبث مضمون سره د زده کوونکو د ليوالتيا په هکله د نارينه او ښځينه ښوونکو لخوا د وړاندې شويو لاملونو په هکله مالومات وړاندې کوي.

۹۹ ګراف: له تشبث سره د زده کوونکو د ليوالتيا لاملونه (د جنسيت په اساس د ښوونکو نظر)




د ښوونکو د ځرګندونو سره سم، زده کوونکو د خپلې ليوالتيا په هکله ډول ډول لاملونه در لودل، دا خبره هم مهمه وه چې پوه شو چې کومې موضوعګانې د زده کوونکو لپاره د پام وړ وې. مالومه شوه چې ٪۴۳ ښوونکو يادونه وکړه چې زده کوونکې د "اميد او ليمې" له قيصې سره سخته مينه لرې، په داسې حال کې چې د ٪۱۳ ښوونکو لپاره "بازار موندنه" د نورو موضوعګانو په پرتله د اهميت وړ وه. ٪۹ ښوونکو يادونه وکړه چې زده کوونکې يې د کاراوبار د مديريت له موضوعګانو سره ليوالتيا لرې او ٪۹ نورو يادونه وکړه چې زده کوونکو يې د سوداګريزو طرحو په سيالې کې فعاله ونډه درلوده. ۱۰۰ ګراف د ښوونکو له نظره د زده کوونکو لپاره مهمې موضوعګانې ښيي.

۱۰۰ ګراف: د زده کوونکو لپاره د اهمیت وړ موضوعګانی (د ښوونکو نظرونه)




پدی پړاو کی د ارزونی د ټیم لخوا د کلیوالو او ښاری سیمو د ښوونکو له نظره د زده کوونکو لپاره په زړه پوری موضوعګانو تر څیړنی لاندی ونیول شوی. مالومه شوه چی تر ټولو په زړه پوری موضوع د (٪۴۰) ښاری سیمو زده کوونکو او همدارنګه د (٪۶۷) کلیوالی سیمو زده کوونکو لپاره د امید او لیمی قیصه وه. برسیره پردی، کله چی د ښوونکو د جنسیت په نظر کی نیولو سره شمیری تر څیړنی لاندی ونیول شوی مالومه شوه چی نږدی نیمایی نارینه ښوونکو (٪۵۱) او ښځینه وو (٪۴۸) د امید او لیمی قصه د زده کوونکو لپاره د په زړه پوری موضوع په هکله یاده کړه. ۱۰۱ او ۱۰۲ ګرافونه د ښوونکو له نظره د زده کوونکو لپاره د په زړه پورو موضوعګانو په هکله پوره مالومات وړاندی کوی.

۱۰۱ ګراف: د زده کوونکو لپاره د تشبث مضمون په زړه پوری موضوعګانی

(د ښوونکو له نظره په ښاری او کلیوالی سیمو کی)




۱۰۲ ګراف: د زده کوونکو لپاره د تشبث مضمون په زړه پوری موضوعګانی

( د جنسیت په اساس د ښوونکو له نظره)



د ارزونې په ترڅ کې نه یواځې د زده کوونکي د لیوالتیا په هکله څیړنه وشوه، بلکې هغه (۲٪) ښوونکو چې یادونه یې کړې وه چې زده کوونکي له دې مضمون سره لیوالتیا نلرې هم و څیړل شول. دې ښوونکو یادونه وکړه چې د تشبث مضمون د زده کوونکو لپاره لازمي مضمون ندی. او له همدې امله زده کوونکي ورسره لیوالتیا نلرې.

اوس چې د نیمایی څخه زیاتو ښوونکو ومنله چې دوی د تشبث مضمون سره د زده کوونکو په لیوالتیا کې بدلون لیدلی دی، نو لازمه وه چې د تشث مضمون لور ته د دې لیوالتیا د بدلون په لاملونو وپوهیږو. ۳۴٪ ښوونکو یادونه وکړه چې د تدریس له غورو میتدونو څخه کټې اخیستنې د زده کوونکو لیوالتیا له دې مضمون سره زیاته کړې ده. که څه هم، ۲۱٪ ښوونکو زیاته کړه چې دوی د دې مضمون د تدریس له عملي میتودونو څخه کټه پورته کړې ده چې دا د زده کوونکو د لیوالتیا د بدلون سبب شوی دی. په ورته وخت کې، د ښوونکو بل اکثریت (۲۱٪) له دې مضمون سره د زده کوونکو د لیوالتیا د کچې د زیاتیدو په هکله خبرې وکړې. وروسته لاسته راغلې مالومات د زده کوونکو د ځای په نظر کې نیولو سره وڅیړل شول او مالومه شوه چې د ښارې ښوونکو لپاره ورته لاملونه لاسته راغلل پدې ډول چې ۳۴٪، ۲۱٪ او ۲۱٪ د دوی په ترتیب سره "د تدریس غوره لارې"، "د مضمون عملي تدریس"، او "د زده کوونکو زیاتې لیوالتیا" څخه یادونه وکړه. که څه هم، یواځې یوه کلیوالي ښوونکې د زده کوونکو د لیوالتیا د کچې د بدلون په هکله بل ډول نظر درلوده او وې ویل چې "اکثریت زده کوونکي شخصي کاراوبار لرې او دا د دوی د لیوالتیا د بدلونونو لامل شوی دی". وروسته بیا مالومات د ښوونکو د جنسیت په نظر کې نیولو سره و څیړل شول او مالومه شوه چې اکثریت نارینه ښوونکو (۴۳٪) او ښځینه (۲۷٪) "د تدریس غوره میتودونه" له تشبث مضمون سره د زده کوونکو د لیوالتیا د کچې د بدلون د اصلي لامل په توګه په ګوته کړ. که څه هم، ۲۹٪ نارینه ښوونکو یادونه وکړه چې د دوی زده کوونکي په طبعي توګه له دې مضمون سره لیوالتیا لرې، په داسې حال کې چې اکثریت ښځینه ښوونکو (۲۷٪) د مضمون عملي تدریس د زده کوونکو دلیوالتیا د کچې د بدلون د اصلي لامل په توګه یاد کړ. ۱۰۳، ۱۰۴ او ۱۰۵ ګرافونه د ښوونکو له نظره له مضمون سره د زده کوونکو د مختلفو کچو لیوالتیاوو د لاملونو په هکله پوره مالومات وړاندې کوي.

۱۰۳ګراف: له تشبث مضمون سره د زده کوونکو د لیوالتیا د کچې مختلف لاملونه (د ښوونکو نظر)




۱۰٤ ګراف: له تشبث مضمون سره د زده کوونکو د لیوالتیا د کچې مختلف لاملونه
(د ښوونکو نظر په ښاری او کلیوالی سیمو کی)



*۱۰۵ ګراف: له تشبث مضمون سره د زده کوونکو د لیوالتیا د کچې مختلف لاملونه*

*(د جنسیت په اساس د ښوونکو نظر)*




د زده کوونکو د لیوالتیا په هکله د خبرو په ترڅ کې کیداشي ځینې زده کوونکي په ټیټو ټولګیو کې وي چې دا مضمون نه لولي، ولې بیا هم له دې مضمون سره لیوالتیا لري. له همدې امله له ټولو ښوونکو څخه پوښتنه وشوه چې آیا د ښکته ټولګیو زده کوونکي لیواله دي چې د دې مضمون په هکله له ښوونکو سره خبرې وکړي. د پام وړ خبره داوه چې ۶۴٪ د ښکته ټولګیو زده کوونکو د تشبث مضمون په هکله د مالوماتو د لاسته راوړلو په موخه له ښوونکو سره اړیکې نیولې وې. دا یوه ډیره اوچته شمیره ده او پدې دلالت کوي چې د تشبث پروګرام د دې مضمون د اهمیت په هکله مالومات زده کوونکو ته په بریالې توګه رسولې دي.

د ښاري او کلیوالي ښوونکو څخه د لاسته راغلو مالوماتو له پرتله کوولو وروسته مالومه شوه چې د (۶۲٪) ښاري ښوونکو او (۸۳٪) کلیوالي ښوونکو څخه د مضمون په هکله پوښتنه شوې وه. د ښوونکو د جنډر په نظر کې نیولو سره، ښځینه ښوونکي (۸۶٪) او نارینه ښوونکي (۵۹٪) د زده کوونکو لخوا د مضمون په هکله پوښتل شوي ول. ۱۰۶، ۱۰۷ او ۱۰۸ ګرافونه د ټیټو ټولګیو لخوا د تشبث مضمون په هکله له ښوونکو څخه د پوښتنو په هکله لا زیات مالومات وړاندې کوي.

۱۰۶ ګراف: د ټیټو ټولګیو زده کوونکي د تشبث په هکله خبري کوي (د ښوونکو نظر)




*۱۰۷ ګراف: د ټیټو ټولګیو زده کوونکي د تشبث په هکله خبري کوي*
*(د ښوونکو نظر په کلیوالي او ښاري سیمو کې)*



۱۰۸ ګراف: د تیتو تولګیو زده کوونکی چی د تشبث په هکله خبری کوی

(د جنسیت په اساس د ښوونکو نظر)




له دی امله چی ډیرو زده کوونکو د تشبث په هکله له ښوونکو سره اړیکه نیولی وه، نو مهمه ده چی له دی مضمون سره د تیتو تولګیو د لیوالتیا په لاملونو و پوهیږو. ٪۵۶ د تشبث ښوونکو یادونه وکړه چی په لیسو کی دننه د تشبث کړنو د تیتو تولګیو زده کوونکو پام ځانته اړولی دی ترڅو د دی مضمون په هکله وپوهیږی. په ورته وخت کی، ٪۱۹ ښوونکو ځواب ورکړ چی اکثریت زده کوونکی د کاراوبار له درلودلو سره لیوالتیا لری او دا خبره د تیتو تولګیو د زده کوونکو له ښوونکو سره د دوه اړخیزو خبرو لامل شوی ده. ۱۰۹ ګراف د تیتو تولګیو د زده کوونکو د لیوالتیا په هکله تول ممکنه لاملونه څرګندوی.

۱۰۹ ګراف: د تشبث په هکله د ښوونکو او تیتو تولګیو زده کوونکو تر منځ د بحث ټکی



وروسته له ښوونکو پوښتنه وشوه چې آیا د دوی زده کوونکی د دی مضمون د اهمیت په هکله پوهاوی لری او که نه، لکه څرنګه چې تمه کیده ٪۹۷ د دوی مثبت ځواب ورکړ. دی ښوونکو یادونه وکړه چې دوی همیشه د مضمون د اهمیت په هکله له زده کوونکو سره بحث کوی. کله مو چې شمیری تر څیړنی لاندی ونیولی، مالومه شوه چې ٪۹۶ ښاری ښوونکو پوری اړوند زده کوونکی او ٪۱۰۰ کلیوالی ښوونکو پوری اړوند زده کوونکی، د دی مضمون له اهمیت څخه خبر ول. که څه هم، د جنډر په نظر کی نیولو سره، مالومه شوه چې ٪۳ د نارینه ښوونکو زده کوونکی او ٪۲ د ښځینه ښوونکو زده کوونکی د دی مضمون د اهمیت په هکله پوهاوی نه درلوده. ۱۱۰، ۱۱۱ او ۱۱۲ ګرافونه د ښوونکو د ځوابونو په هکله دی پوښتنی ته چې "آیا زده کوونکی د دی مضمون د اهمیت په هکله پوهاوی لری او که نه ؟" پوره مالومات وړاندی کوی.

۱۱۰ ګراف: زده کوونکی د مضمون له اهمیت څخه خبر دی (د ښوونکو نظر)




۱۱۱ ګراف: زده کوونکی د مضمون له اهمیت څخه خبر دی

(په ښاری او کلیوالی سیمو کی د ښوونکو نظر)



*۱۱۲ ګراف: زده کوونکی د مضمون له اهمیت څخه خبر دی*

*(د ښوونکو نظر د جنسیت په اساس)*




په دی پړاو کی، له ښوونکو څخه پوښتنه وشوه چی زده کوونکو د تشبث مضمون کومی موضوعګانی مهمی ګڼی. ٪۲۱ ښوونکو ځواب ورکړ چی زده کوونکی له دی امله له دی مضمون سره مینه لری چی دوی په دی باور دی چی تشبث د پانګی اچونی او ځان بسیاینی لپاره مهم دی. په ورته توګه، ٪۲۱ نورو ښوونکو اشاره وکړه چی د زده کوونکو لپاره له دی امله اهمیت لری چی تشبث د کاراوبارپه پیل او پراختیا کی د اهمیت درلودونکی دی، په داسی حال کی چی ٪۱۴ ښوونکو فکر کاوه چی د تشبث مضمون اهمیت د سوداګریزو طرحو په سیالیو کی رانغښتی دی. ۱۱۳ ګراف د تشبث د اهمیت په هکله نور مالومات وړاندی کوی.

۱۱۳ ګراف: هغه ټکی چی زده کوونکو د تشبث د اهمیت په توګه څرګند کړل

(د ښوونکو نظر)



### ۲،٤،۳ د زده کوونکو د تولیداتو ننداری

کله چې د زده کوونکو د لیوالتیا د کچې په اړه له ښوونکو څخه مالومات راټول شول، نو د ارزونې ټیم د زده کوونکو د تولیداتو د ننداړو په اړه د ښوونکو د نظر مالومولو لوری ته مخه کړه. په دې اساس، له ټولو ښوونکو څخه پوښتنه وشوه چې آیا د زده کوونکو تولیدات په خپلو لیسو کې ننداری ته وړاندې شوي دي او که نه. درې پر څلورمه برخه (۷۵٪) ښوونکو ځواب ورکړ چې د زده کوونکو تولیدات یې په لیسو کې ننداری ته وړاندې کړي دي. کله چې د ښاري او کلیوالو سیمو له ښوونکو څخه په بیله توګه پوښتنه وشوه، نو ومو مونده چې ډیرو ښاري ښوونکو (۷۸٪) د کلیوالو ښوونکو (۵۰٪) په پرتله په لیسو کې د زده کوونکو د تولیداتو په ننداړو کې ونډه درلوده. په زړه پورې دا وه چې، د جنسیت په نظر کې نیولو سره نیږدې ټولې ښځینه ښوونکې (۹۸٪) په لیسو کې د زده کوونکو د تولیداتو په ننداړو کې برخه اخیستې وه، په داسې حال کې چې نارینه ښوونکو (۳۶٪) په ډیره کمه کچه په دې ننداړو کې برخه درلوده. ۱۱۴، ۱۱۵ او ۱۱۶ ګرافونه د زده کوونکو د تولیداتو په ننداړو کې د ښوونکو د ونډې اخیستو په هکله مالومات وړاندې کوي.

۱۱٤ ګراف: د زده کوونکو د تولیداتو ننداری (د ښوونکو نظر)



۱۱۵ ګراف: د زده کوونکو د تولیداتو ننداری (په ښاری او کلیوالی سیمو کی د ښوونکو نظر)




۱۱٦ ګراف: د زده کوونکو د تولیداتو ننداری (د جنسیت له اړخه د ښوونکو نظر)




په پورته برخو کی په دی وپوهیدو چی په ډیرو لیسو کی د زده کوونکو د تولیداتو ننداری تر سره کیږی، مهمه ده چی د دی ننداړو د شمیر په هکله هم مالومات ولرو. ٪۵۵ ښوونکو ځواب ورکړ چی د دوی په لیسو کی د کال یوځل ننداری ترسره کیږی، په داسی حال کی چی ٪۲۸ ښوونکو په کال کی د دوه ځله په خپلو لیسو کی د ننداړو د تر سره کیدو یادونه وکړه. ولی یو پر لسمه برخه (٪۱۰) ښوونکو په کال کی د دری ځله ننداړو تر سره کیدو څخه یادونه وکړه. د ننداړو د شمیر په هکله د لا زیاتو څیړنو څخه وروسته مالومه شوه چی د کلیو د ښوونکو (٪۶۷) په پرتله د ښاری ښوونکو (٪۵۱) په کال کی یوځل په خپلو لیسو کی ننداری لیدلی دی. که څه هم یواځی ٪۸ ښاری ښوونکو په کال کی دوه ځله له ننداړو څخه یادونه وکړه، ولی ٪۳۳ ښاری ښوونکو په کال کی د دری ځله د ننداړو د ترسره کیدو څخه یادونه وکړه. ۱۱۷ او ۱۱۸ ګرفونه د ننداړو د شمیر په هکله لا زیات مالومات وړاندی کوی.

۱۱۷ ګراف: د ننداړو د ترسره کېدو شمېر (د ښوونکو نظر)




۱۱۸ ګراف: د ننداړو د ترسره کېدو شمېر (د ښوونکو نظر په کلیو او ښارو کې)



په ننداړو کې د ښوونکو د رول په اړه د مالوماتو له راټولو وروسته، له ښوونکو څخه په تجارتي طرحو کې د دوی د رول په هکله پوښتنه وشوه. مالومه شوه چې ٪۶۵ د دوی د تجارتي طرحو په ټوله پروسه کې له زده کوونکو سره مرسته کوي. که څه هم ٪۱۰ د دوی څرګنده کړه چې دوی له زده کوونکو سره د تجارتي طرحو د فارمټ په جوړولو کې مرسته کړې او ٪۱۰ نورو يادونه وکړه چې دوی له زده کوونکو سره د تجارتي طرحو په ليکنه کې مرسته کړې ده. د ښوونکو ٪۶۰ ښاري سيمو او (٪۱۰۰) کليوالي سيمو ښوونکو مهم رول له زده کوونکو سره د سوداګريزو طرحو په ټولې پروسه کې مرسته وه. همدارنګه، اکثريت نارينه ښوونکو (٪۷۱) او ښځينه وو (٪۸۵) له زده کوونکو سره د تجارتي طرحو په ټوله پروسه کې مرسته کړې ده. ۱۱۹، ۱۲۰ او ۱۲۱ ګرافونه په تجارتي طرحو کې د ښوونکو رول روښانه کوي.

۱۱۹ ګراف: د تجارتي طرحو په جوړولو کې د ښوونکو رول




۱۲۰ ګراف: د تجارتي طرحو په جوړولو کې د ښوونکو رول په ښاري او کليوالي سيمو کې



۱۲۱ ګراف: د تجارتي طرحو په جوړولو کې د ښوونکو رول د جنسیت له نظره




له دې امله چې ښوونکو د تجاریې طرحو په لیکلو کې برخه درلوده، نو له ښوونکو څخه پوښتنه وشوه چې د زده کوونکو لخوا کومې نوښتګرې طرحې لیکل شوې دي. په دې اساس یو پر څلورمه برخه (۲۵٪) ښوونکو ځواب ورکړ چې د ډول ډول تجارتي طرحو له منځ څخه د جامو د ډیزاین طرحو د زده کوونکو په ځان بسیا والي کې لوی رول لوبولی دی. همدا ډول، ۱۷٪ ښوونکو د خپلو زده کوونکو لپاره د اچارو او چکنی (ترشي) جوړونې له کاراوبار څخه د زده کوونکو د ځان بسیا والي د منبع په توګه یادونه وکړه. او ۱۴٪ نورو ښوونکو فکر کاوه چې جامې ګلدوزی کول د زده کوونکو په ځان بسیا توب کې مرسته کړې ده. د پام وړ خبره داده چې د ښوونکو لخوا درې لوړ ځوابونه په ښاري او کلیوالي سیمو کې سره ورته ول په دې ډول چې د کالیو ډیزاین (۲۵٪ په ښاري سیمو او ۲۵٪ په کلیوالي سیمو)، اچار او چکنی (۱۶٪ په ښاري سیمو او ۲۵٪ په کلیوالي سیمو) او په لاس ګنډل شوی کالي (۱۳٪ په ښاري سیمو او ۲۵٪ په کلیوالي سیمو) کې د زده کوونکو په ځان بسیا والي پورې تړاوو درلوده. ۱۲۲ او ۱۲۳ ګرافونه د هغو نوښتګرو تجارتي طرحو په هکله چې د زده کوونکې د ځان بسیاوالي سبب شوي دي لا زیات مالومات وړاندې کوي.

۱۲۲ ګراف: نوښتګری تجارتی طرحې چې د زده کوونکو د ځان بسیاوالی سبب شوی دی
(د ښوونکو نظر)




۱۲۳ ګراف: نوښتګری تجارتی طرحې چې د زده کوونکو د ځان بسیاوالی سبب شوی دی
(د ښوونکو نظر په کلیوالی او ښاری سیمو کی)



### ۲,٤,٤ د تشبث ټولنیز- اقتصادی اړخونه

له ښوونکو څخه د تشبث مضون د ټولنیزو- اقتصادی اغیزو په هکله هم پوښتنه وشوه. لکه څنګه چې ښوونکی د تشبث مضمون هره ورځ تدریسوی، نو له دی امله دوی په زده کوونکو باندی د دی مضمون له ټولنیزو او اقتصادی اغیزو څخه پوره پوهاوی لری. په دی اساس، ټولو ښوونکو په زده کوونکو باند د تشبث مضمون د ټولنیزو او اقتصادی اغیزو په هکله مثبت ځواب ورکړ. کله چې له ښوونکو څخه پوښتنه وشوه چې د تشبث مضمون د زده کوونکو په ټولنیز او اقتصادی ژوند څه اغیزی لری، ٪۳۰ ښوونکو وویل چې تشبث د زده کوونکو له اقتصادی ودی سره مرسته کوی. په داسی حال کی چې ٪۲۶ ښوونکو د زده کوونکو د ځان بسیاوالی په اړه خبری وکړی او ٪۱۰ یادونه وکړه چې تشبث د زده کوونکو ترمنځ د بیکاری کچه را ټیټوی. همدارنګه، شمیری او مالومات د ښوونکو د ځای په نظر کی نیولو سره وڅیړل شول، او مالومه شوه چې ٪۳۲ ښوونکو په ښاری سیمو کی د دی مضمون لخوا د زده کوونکو په اقتصادی ودی باور درلوده. او همدا ډول ٪۲۵ ښوونکو په ښاری سیمو کی فکر کاوه چې تشبث د زده کوونکو له ځان بسیاوالی سره مرسته کوی. دا خبره د ښوونکو لپاره په کلیوالی سیمو کی بل ډول وه پدی ډول چې ٪۳۸ د دوی یادونه وکړه چې د تشبث مضمون د زده کوونکو ځان بسیاوالی ته وده ورکوی په داسی حال کی چې ٪۲۵ یادونه وکړه چې دا مضمون له فقر سره مقابله کوی. راټول شوی مالومات همدارنګه د ښوونکو د جنسیت په نظر کی نیولو سره وڅیړل شول، او مالومه شوه چې ٪۴۳ د تشبث نارینه وو ښوونکو فکر کاوه چې د تشبث مضمون د زده کوونکی له ځان بسیاوالی سره مرسته کوی او ٪۱۹ د دوی باور درلوده چې تشبث د زده کوونکو تر منځ د بیکاری کچه ټیټوی. که څه هم د ٪۴۰ ښځینه ښوونکو لپاره، د زده کوونکو اقتصادی حالت د تشبث مضمون تر ټولو مهمه ټولنیزه- اقتصادی اغیزه وه او ٪۱۷ ښځینه ښوونکو وویل چې تشبث د زده کوونکو ترمنځ بیکاری را ټیټوی. په هر حال ۱۲۴، ۱۲۵ او ۱۲۶ ګرافونه د تشبث د ټولینزو- اقتصادی اغیزو په هکله پوره مالومات وړاندی کوی.

۱۲٤ ګراف: د تشبث تولنیزی – اقتصادی اغیزی (د ښوونکو نظر)




۱۲۵ ګراف: د تشبث تولنیزی – اقتصادی اغیزی (په ښاری او کلیوالی سیمو کی د ښوونکو نظر)



۱۲٦ ګراف:  د تشبث تولنیزی – اقتصادی اغیزی (د جنسیت په نظر کی نیولو سره د ښوونکو نظر)




برسیره پردی، له ښوونکو څخه د تشبث مضمون د رول په هکله د یو کاراوبار په پیل او یا پراختیا کی پوښتنه وشوه. ٪۷۱ ښوونکو ځواب ورکړ چی د تشبث مضمون د کاراوبار د پیل او یا پراختیا په پړاوونو کی ډیر اغیزمن دی. په ورته وخت کی، ٪۱۷ ښوونکو یادونه وکړه چی د تشبث مضمون د زده کوونکو لپاره یوه د هڅونی سرچینه ده ترڅو یو کاراوبار پیل او یا پراختیا ورکړی. په همدی ډول، ٪۶ ښوونکو وویل چی د تشبث مضمون زده کوونکو سره مرسته کړی چی څرنګه په کمی بودجی یو کاراوبار پیل کړی. ۱۲۷ ګراف د یو کاراوبار په پیل او یا پراختیا کی د تشبث د رول په هکله پوره مالومات وړاندی کوی.

۱۲۷ ګراف: د یو کاراوبار په پیل او یا پراختیا کې د تشبث مضمون رول (د ښوونکو نظر)




## ۲,۵ د تشبث پروګرام راتلونکې

د ارزونې په دې برخه کې کوښښ شوی ترڅو د زده کوونکو د ژوند په ټولنیزو او اقتصادي اړخونو کې د دې مضمون اهمیت ته په کتو د مضمون د لا پراختیا په هکله د باور وړ شواهد وړاندې شي.

### ۲,۵,۱ تشبث په ښوونیز ملي نصاب کې

نیږدې یوه لسیزه کیږي چې د تشبث مضمون په لیسو کې تدریسیږي او د دې مضمون اغیزې ښیي چې د زیات اهمیت درلودونکې دی، نو ځکه مهمه ده چې د تشبث مضمون په ښوونیز نصاب کې د شاملیدو په هکله د تشبث د ښوونکو نظر واخلو. لکه څنګه چې تمه کیده ۹۸٪ ښوونکو د تشبث مضمون په ښوونیز نصاب کې له شاملیدو سره همغږي وښوده. باید یادونه وکړو چې ۲٪ ښاري ښوونکو په خلاف د ټولو کلیوالي ښوونکو د تشبث مضمون په ښوونیز نصاب کې له شاملیدو سره مخالفت وښود او د حیرانتیا خبره دا وه چې دا ۲٪ د شاملیدو مخالف ښوونکې ښځینه ول په داسې حال کې چې ۱۰۰٪ نارینه ښوونکو د دې مضمون په نصاب کې له شاملیدو سره همغږي وښوده. ۱۲۸، ۱۲۹ او ۱۳۰ ګرافونه د تشبث مضمون په ښوونیز نصاب کې د شاملیدو په هکله د ښوونکو نظر روښانه کوي.

۱۲۸ ګراف: د تشبث مضمون باید د ښوونې په نصاب کې شامل شي (د ښوونکو نظر)




۱۲۹ ګراف: د تشبث مضمون باید د ښوونې په نصاب کې شامل شي
(په ښاري او کلیوالي سیمو کې د ښوونکو نظر)



۱۳۰ ګراف: د تشبث مضمون باید د ښوونې په نصاب کې شامل شي
(د جنسیت له مخې د ښوونکو نظر)




له دې امله چې زیات شمیر ښوونکې د تشبث مضمون په ښوونیز نصاب کې له شاملیدو سره همغږي ول، نو بهتره ده چې د شاملیدو په دلایلو پوه شو. ٪۳۸ ځواب ورکوونکو ښوونکو ځواب ورکړ چې تشبث د زده کوونکو په ځان بسیاوالي کې اغیزمن دی، په داسې حال کې چې ٪۳۰ ښوونکو دې خبرې ته اشاره وکړه چې تشبث عملا زده کوونکو ته ګټه رسولې او ٪۱۱ ښوونکو وویل چې د تشبث اغیزې له نورو ټولو انتخابي مضمونو څخه زیاتې دي. ۱۳۱ ګراف په ښوونیز نصاب کې د تشبث مضمون د شاملیدو لاملونه روښانه کوي.

۱۳۱ ګراف: په ښوونیز ملی نصاب کی د تشبث مضمون د شاملیدو لاملونه (د ښوونکو نظر)



### ۲,۵,۲ تشبث او ګټې یې

له ښوونکو څخه همدا ډول پوښتنه وشوه چې آیا دوی ته د تشبث مضمون کلونه تدریس ګټه رسولې ده او کنه. ۸۳٪ ښوونکو ځواب ورکړ چې دوی ته د دی مضمون تدریس ګټه رسولې ده. د ښوونکو له ډلې (۸۵٪) ښاری ښوونکو له (۶۷٪) کلیوالی ښوونکو څخه ډیره د تشبث د مضمون له تدریس څخه ګټه اخیستې وه. ولې، ډیرو ښځینه ښوونکی (۸۸٪) په پرتله د نارینه ښوونکو (۷۵٪) د تشبث مضمون د تدریس ګټو ته پام شوی وه. کله چې له ښوونکو څخه د رسیدلو ګټو د ډول په هکله پوښتنه وشوه، ۵۸٪ د دوی ځواب ورکړ چې تشبث د دوی د کاراوبار ورتیا اوچته کړې ده. دا خبره د تشبث پروګرام لپاره یوه لویه لاسته راوړنه ده ځکه دا پروګرم توانیدلی چې د کاراوبار اړوند زده کوونکو ته مهم مالومات ورسوی. ۱۳۲، ۱۳۳ او ۱۳۴ ګرافونه ښوونکو ته د تشبث مضمون له تدریس څخه د رسیدلو ګټو په هکله لا زیات مالومات وړاندې کوی.

۱۳۲ ګراف: د تشبث مضمون د تدریس ګټې



۱۳۳ ګراف:  د تشبث مضمون د تدریس ګټې په ښاري او کلیوالي سیمو کې




۱۳٤ ګراف: د تشبث مضمون د تدریس ګټې د جنسیت له نظره




### ۲,۵,۳   ښوونکی د تشبث پروګرام د ملاتړیو په توګه

په پای کې، له ښوونکو څخه پوښتنه وشوه چې آیا دوی د تشبث په هکله کوم مالومات له نورو خلکو سره شریک کړي دي او کنه. له ټمې سره سم، ۹۵٪ د تشبث ښوونکو د مضمون په هکله مالومات له نورو سره شریک کړي ول- د کلیو ښوونکو (۱۰۰٪) او د ښاري سیمو ښوونکو (۹۴٪) د مضمون په هکله مالومات له نورو سره شریک کړي ول. همدارنګه، د جنسیت له نظره، (۱۰۰٪) نارینه ښوونکو د (۹۵٪) ښځینه ښوونکو په پرتله ډیر د مضمون په هکله مالومات له نورو سره شریک کړي ول. ۱۳۵ او ۱۳۶ ګرافونه د هغو ښوونکو په هکله پوره مالومات وړاندې کوي چې د تشبث او دهغه د اهمیت په هکله یې له نورو سره مالومات شریک کړي دي.

۱۳۵ ګراف: د تشبث په هکله شریک شوی مالومات




۱۳٦ ګراف: د تشبث په هکله شریک شوی مالومات په ښاری او کلیوالو سیمو کی




په پای کی، له ښوونکو څخه پوښتنه وشوه چی دوی د مضمون په هکله څه ډول مالومات له نورو خلکو سره شریک کړی دی. ٪۵۰ ښوونکو دی خبری ته اشاره وکړه چی دوی د دی مضمون د محتوی او اهمیت په هکله مالومات له نورو خلکو سره شریک کړی دی، په داسی حال کی چی ٪۲۷ ښوونکو یادونه وکړه چی دوی د یو نوی کاراوبار د څرنګوالی په هکله مالومات نورو ته ورکړی دی. ۱۳۷ ګراف د هغو مالوماتو په هکله چی ښوونکو له نورو سره شریک کړی دی وضاحت وړاندی کوی.

۱۳۷ ګراف: د تشبث په هکله د شریک شویو مالوماتو ډول



## ۲،۶ د لیسو د ادارو د ارزونې موندنې

له دې امله چې د تشبث ښوونیزه او روزنیزه مؤسسه د تشبث مضمون تدریس د هیواد د څلورو ولایتونو په ۴۳ لیسو کې پر مخ وړي، اړینه وګڼل شوه چې د دې ۴۳ لیسو د ادارو نظر هم په دې ارزونه کې ولرو. په دې اساس د دې ۴۳ لیسو اداري هم د ارزونې د نمونې اخیستنې د هدف لاندې ګروپ کې شاملې شوې. د دې برسیره، د لیسو اداري د تشبث د ښوونیزې او روزنیزې مؤسسې له لومړنیو ملاتړ کوونکو څخه شمیرل کیږي، او دوی هرکله د تشبث له ښوونکو سره په اړیکه کې وي. په پایله کې، د دوی نظرونه د تشبث مضمون د پلي کولو او د دې مضمون د عملي کیدو د پړاوونو په هکله د دې پروګرام د لا ښه کیدو سبب کیدای شي. د ارزونې په ترڅ کې د لیسو د ادارو له یوه تن مسؤل (مدیر، مرستیال مدیر او یا سر ښوونکي) سره مرکې وشوې. د ټولو ۴۳ لیسو ادارو په ارزونه کې د شاملولو موخه داوه چې په ترڅو هر اړخیزه مالومات د دې مضمون په هکله له ښارې او کلیوالې سیمو څخه لاسته راوړو. د لیسو له ادارو سره تر مرکو وروسته، د ارزونې ټیم لاندې برخې وڅیړلې:

الف: د مضمون په هکله د لیسو د ادارو د پوهاوي کچه،

ب: د تشبث ښوونیزې او روزنیزې مؤسسې لخوا د شویو مرستو په هکله مالومات لاسته راوړل،

ج: د تشبث ښوونکو لیوالتیا له مضمون سره او

د: د پروګرام د پراختیا په هکله د لیسو د ادارو نظر.

د یاد شویو موضوعګانو په اړه د مالوماتو د را ټولولو لپاره، یوه منظمه پوښتنپانه جوړه شوه. له مختلفو زاویوو څخه لاسته راغلي مالومات وڅیړل شول. په لومړي پړاوو کې، په عمومي ډول د جنسیت او ځای له نظر کې نیولو څخه پرته مالومات تر څیړنې لاندې ونیول شول. په دوهم پړاوو کې، اړونده مالومات د ځواب ورکوونکو د جنسیت او ځای په نظر کې نیولو سره تر څیړنې لاندې ونیول شول. په بل پړاوو کې، اړونده مالومات د ښځینه او نارینه ځواب ویونکو او د ښارې او کلیوالې سیمو په نظر کې نیولو سره تر څیړنې لاندې ونیول شول. او په پای کې اړونده مالومات د ولایتونو او ولسوالیو په نظر کې نیولو سره تر څیړنې لاندې ونیول شول.

## ۲,۷ د ځواب ورکوونکو عمومي ځانګړنې

### ۲,۷,۱ جنسیت

په دې ارزونه کې، د ځواب ورکوونکو د عمومي ځانګړنو له منځ څخه، په لومړي پړاوي کې د ځواب ورکوونکو جنسیت په نظر کې ونیول شو. د پروګرام تر پوښښ لاندو د ۴۳ لیسو څخه، ٪۳۷ چې ۱۶ لیسې کیږي د هلکانو او ٪۶۳ چې ۲۷ لیسې کیږي د نجوني لیسې وي. د دې برسیره، باید روښانه کړو چې د دې ۴۳ لیسو څخه ٪۸۴ چې ۳۶ لیسې کیږي په ښاري سیمو او پاتې ٪۱۶ چې ۷ لیسې کیږي په کلیوالي سیمو کې پرتې وي. په دې اساسي دې پایلې ته ورسیدو چې د هغو لیسو د ټولو ادارو چې د ارزونې ټیم ته یې ځواب ورکړی وه ٪۸۴ په ښاري سیمو او ٪۱۶ په کلیوالي سیمو کې واقع وي- د نجونو د اکثریت لیسو په نظر کې نیولو سره، تمه کیده چې زیات شمیر ښځینه د لیسو د ادارو مسؤلینو اړونده پوښتنو ته ځواب ورکړی وای، ولې د لیسو د ادارو په نمایندګۍ د ځواب ورکوونکو د جنسیت په نظر کې نیولو سره خبره برعکس پیښه شوه. ٪۵۴ د ټولو لیسو د ادارو ځواب ورکونکې نارینه او پاتې ٪۴۶ د ادارو ځواب ورکوونکې د ښځینه وو له جنسیت څخه ول- باید دې خبرې ته اشاره وکړو چې د ٪۵۴ نارینه وو ځواب ورکوونکو له ډلې څخه، ٪۴۱ د دوی په ښاري سیمو او ٪۱۳ یې په کلیوالي سیمو کې ول- هدارنګه، ٪۴۳ ټول ښځینه ځواب ورکوونکې په ښاري سیمو او ٪۳ پاتې لیسې په کلیوالي سیمو کې وې- له بل لورڅخه په ښاري او کلیوالي سیمو کې د جنسیت له اړخه د لیسو د ادارو ځواب ورکوونکې سره ورته نه ول په دې ډول چې ډیرې ځواب ورکوونکې په ښاري سیمو کې (٪۵۲) د ښځینه وو څخه ول، ولې ٪۸۳ د لیسو د ادارو ځواب ورکوونکې په کلیو کې نارینه ول ، چې څلور چنده د ښځینه ځواب ورکوونکو کیږي. باید ووایو چې د لوستیو ښځینه اوسیدونکو شمیر په ښاري سیمو کې د کلیوالي سیمو د لوستیو ښځینه اوسیدونکو په پرتله ډیر زیات دی. د لاسته راغلیو مالوماتو له څیړنې وروسته، څرګنده شوه چې ښځینه مدیرانې په کابل ښار کې (٪۶۵) او د استالف په ولسوالي کې (٪۱۰۰) وې چې دا په اړونده سیمو کې د نارینه مدیرانو په پرتله اوچته شمیره ښیې. له بل لورې څخه، په ننګرهار کې (٪۷۵)، بامیانو کې (٪۸۰)، پغمان ولسوالي کې (٪۱۰۰)، چهار آسیاب ولسولي کې (٪۱۰۰)، شکردرې ولسوالي کې (٪۱۰۰) او د ګلدرې په ولسوالي کې (٪۱۰۰) نارینه مدیرانو د ښځینه وو مدیرانو په پرتله ډیر د لیسو مسؤلیت په غاړه درلوده. ۱۳۸ او ۱۳۹ ګرافونه د ځواب ورکوونکو لیسو د ادارو د جنسیت د ویش په هکله پوره مالومات وړاندې کوي.

۱۳۸ګراف: د لیسو له ادارو څخه د ځواب ورکوونکو د جنسیت په اساس ویش




۱۳۹ ګراف: د لیسو له ادارو څخه د ځواب ورکوونکو د جنسیت ویش په ښاری او کلیوالی سیمو کی




د لیسو د ادرو ځواب ورکوونکو څخه ٪۷۷ یی د لیسو مدیران، ٪۱۸ د لیسو د مدیرانو مرستیالان او ٪۵ سرښوونکی ول. د ٪۷۷ لیسو مدیرانو له ډلی، ٪۶۴ د دوی په ښاری سیمو کی او یواځی ٪۱۳ د دوی په کلیوالی سیمو کی واقع ول. همدارنګه، زیاته برخه (٪۱۵) د لیسو د مدیرانو مرستیالیان په ښاری سیمو او وړوکی برخه (٪۳) د دوی په کلیوالی سیمو کی پراته ول. په پای کی، باید دی خبری ته اشاره وکړو چی له (٪۵) سرښوونکو سره یواځی په ښاری سیمو کی مرکه وشوه. په دی اساس، کولای شو ووایو چی ٪۸۴ ځواب ورکوونکی د ښاری سیمو او پاتی ٪۱۶

د کلیوالی سیمو اوسیدونکی ول. که څه هم، کله چی د څواب ورکوونکو دندی د دوی د ځای په نظر کی نیولو سره و څیړل شوی، څرګنده شوه چی ٪۷۶ د لیسو د ادارو څخه ځواب ورکوونکی په ښاری سیمو کی د اړونده لیسو مدیران ول پداسی حال کی چی په کلیوالی سیمو کی د مدیرانو سلنه چی مرکه ورسره شوی وه اوچته (٪۸۳) وه. برعکس، د مرکه شویو مرستیال مدریرانو او سربښوونکو سلنه په ښاری سیمو کی اوچته وه (٪۱۸ مرستیال مدیران او ٪۶ سر ښوونکی د ښاری سیمو) په داسی حال کی چی دا سلنه په کلیوالی سیموکی (٪۱۷ مرستیال مدیران او ٪۰ سربښوونکی) ول. ۱۴۰ ګراف د لیسو د ادارو د ځواب ورکوونکو د دندی ویش په ښاری او کلیوالی سیمو کی ښیی.

۱٤۰ ګراف: د لیسو د ادارو د ځواب ورکوونکو د دندی په اساس ویش په ښاری او کلیوالی سیمو کی



۱٤۱ ګراف: د لیسو د ادارو د ځواب ورکوونکو د دندې په اساس ویش په ښاري او کلیوالي سیمو کې




## ۲,۷,۲ تشبث او دلیسو اداري

### ۲,۷,۲,۱ له تشبث سره آشنايي

د تشبث ښوونيزه او روزنيزه مؤسسه د ۲۰۱۴ کال څخه را پديخوا د تشبث مضمون تدريس د هيواد د څلورو ولايتونو په ۴۳ ليسو کې پر مخ وړي. دی مؤسسې په مختلفو ډولونو خپلې مرستې کړې دي دا مرستې د اړونده ۴۳ ليسو په همغږۍ تر سره شوي دي. په دې اساس، دا مهمه وګڼل شوه ترڅو د تشبث مضمون په هکله د ليسو له ادارو څخه مالومات لاسته راوړو. په دې پړاو کې، د اړونده ۴۳ ليسو له مديرانو څخه پوښتنه وشوه چې ايا دوی د تشبث له مضمون سره بلدتيا لري او کنه. مهمه خبره دا وه چې د دې ټولو ۴۳ ليسو ادارو له دې مضمون سره آشنايي درلوده. دا خبره د تشث پروګرام لپاره د مضمون په هکله د مالوماتو خپراوی، د خلکو پوهاوی او د هغه ملاتړ په نظر کې نیولو سره چې د تشبث ښوونيزې او روزنيزې مؤسسې ترسره کړي يو لوی برياليتوب څرګندوي. په دې اساس ويلی شو چې د ليسو ټولو ادارو (۱۰۰٪) نارينه او ښځينه او (۱۰۰٪) په ښاري او کليوالي سيمو کې د تشبث مضمون په هکله مالومات درلودل. ۱۴۲ ګراف د تشبث مضمون په هکله د ليسو د ادارو د پوهاوي کچه څرګندوي.

۱٤۲ ګراف: د تشبث مضمون په هکله د لیسو د ادارو پوهاوی




وروسته د دې خبرې له مالومیدو څخه چې د ټولو ۴۳ لیسو ادارو د تشبث مضمون په هکله مالومات درلودل، له ټولو څخه پوښتنه وشوه چې د دې مضمون په هکله څه ډول مالومات لري. ډیرې د لیسو ادارو (۳۸٪) ځواب ورکړ چې د تشبث مضمون د کاراوبار د پیلولو، پراختیا او کارموندنې لارې زده کوونکو ته ښیي. دوهمه زیاته کچه د لیسو ادارو (۲۸٪) ټینګار وکړ چې دا مضمون زده کوونکي هڅوي چې آن په ډیرې لږې بودیجې یو نوی کاراوبار پیل کړي. همدارنګه، نیږدې دوه پر لس برخو (۱۸٪) د دوی یادونه وکړه چې د تشبث مضمون له زده کوونکو سره مرسته کوي ترڅو په خپل کاراوبار کې مسلکي او په ځان بسیا شي. باید یادونه وکړو چې ۸۴٪ د لیسو ادارو ډیر مهم مالومات د مضمون په هکله وړاندې کړل ځکه ټولو ورکړل شویو نظرونو په یو ډول نه یو ډول، په کاراوبار او دندې موندنې کې د تشبث مضمون له اهمیت سره اړیکه درلوده. له بل لورې څخه، ۱۶٪ پاتې د لیسو ادارو په لاندې ډول خپل نظر ورکړ: "دتشبث مضمون د تجارتي طرحو د سیالیو په اړه بحث کوي (۱۰٪)"، " د تشبث مضمون په اونۍ کې یو ځل په لیسو کې تدریسیږي (۳٪)"، او "د تشبث مضمون د پانګې اچونې، کوچنیو کاراوبارو او پانګې څخه بحث کوي (۳٪)". دا نظرونه عمومي بڼه لري او د مضمون په هکله یو ځانګړی نظر نه وړاندې کوي. که څه هم، د لیسو د ادارو د مالوماتو او شمیرو په ښاري او کلیوالي سیمو کې له ارزونې وروسته مالومه شوه چې په کلیو او ښاري سیمو کې د لیسو د ادارو نظرونه مختلف دي. په ښاري سیمو کې، دلیسو ډیرې اداري (۴۲٪) په دې اند ولې چې د تشبث پروګرام له زده کوونکو سره مرسته کوي ترڅو د کاراوبار د پیل، پراختیا او دندې موندنې لارې زده کړي، دا په داسې حال کې ده چې ۲۷٪ د دوی باور درلوده چې دا مضمون زده کوونکي هڅوي چې په لږې پانګې سره یو نوی کاراوبار پیل کړي او یوازې ۱۵٪ د لیسو اداري په دې نظر وې چې "تشبث له زده کوونکو سره مرسته کوي ترڅو په خپل کاراوبار کې مسلکي او په ځان بسیا شي". له بل لور څخه، ډیرې نظرونه چې د کلیو د لیسو له ادارو څخه لاسته راغلل دا ول چې دا مضمون

زده کوونکو ته انګیزه ورکوي چې په لړۍ پانګې یو نوی کاراوبار پیل کړي (۳۳٪)؛ تشبث له زده کوونکو سره مرسته کوي ترڅو په خپل کاراوبار کې مسلکي او په ځان بسیا شي (۳۳٪)؛ زده کوونکو سره مرسته کوي ترڅو د کاراوبار د پیل، پراختیا او دندې موندنې لارې زده کړي (۱۷٪)؛ او دا مضمون د تجارتي طرحو سیالي پر مخ وړي (۱۷٪). دا شمیرې او مالومات ښیي چې د لیسو د ادارو لخوا ورته نظرونه د مضمون په هکله د ارزونې له ټیم سره شریک شوي دي، ولې باید ووایو چې د لیسو د ادارو سلنه په کلیو او ښاري سیمو کې فرق لري. ۱۴۳ او ۱۴۴ ګرافونه د تشبث مضمون په هکله د لیسو د ادارو لخوا د ارزونې له ټیم سره د شریک شوو مالوماتو په هکله پوره انځور وړاندې کوي.

۱٤۳ ګراف: د لیسو د ادارو لخوا د تشبث مضمون په هکله شریک شوي مالومات



*۱٤٤ ګراف: د لیسو د ادارو لخوا د تشبث مضمون په هکله شریک شوی مالومات په ښاری او کلیوالی سیمو کی*




## ۲,۸ د تشبث د تدریس څخه لیدنه

لکه څنګه چی مخکی یادونه وشوه، د ټولو لیسو ادارو د تشبث مضمون په هکله مالومات درلودل او د مضمون په هکله یی خپل نظرونه د ارزونی له ټیم سره شریک کړل. په داسی حال کی چی د لیسو اداری مسؤلیت لری چی د تدریس د میتودو په شمول دمضمون له ټولو اړخونو څخه لیدنه وکړی، نو له دی امله له دوی څخه پوښتنه وشوه چی آیا دوی د تشبث مضمون د تدریس ارزونه په ټولګیو کی کړی ده او که نه او یا دوی د تشبث مضمون د تدریس له میتودونو څخه لیدنه کړی ده اوکه نه. له نیکه مرغه، نیږدی د نهه پر لسو برخو (۹۲٪) لیسو ادارو په شتون کی د تشبث مضمون تدریس سرته رسیدلی وه. دا خبره د پروګرام د ښه والی لپاره ډیره مهمه وه ځکه که د تدریس په لارو او میتودونو کی کوم مشکل وای نو د لیسو ادارو په تدریس کی له کلونو تجربو څخه په ګټی اخیستنی کولای شوی چی پخپله ورته د حل لاره پیدا کړی. که چیری د تشبث ښوونکی د تدریس په حالت کی له کومی سختی ننګونی سره مخ شوی وی نو دوی کولی شوای د تشبث ښووونیزی او روزنیزی مؤسسی له کارکوونکو سره د تدریس د میتود د ښه والی لپاره اړیکه نیولی وای، او پدی ډول د تشبث مضمون په ښه ډول د تدریس موخی ته رسیدلی وو. له بل لوری نه، یواځی ۸٪ د لیسو ادارو د تشبث مضمون د تدریس له کوم ټولګی څخه لیدنه نوه کړی. او د ارزونی د ټیم غړو د تدریس په ټولګی کی د دوی د برخی د نه اخیستو په هکله هیڅ دلیل ونه موند ولی د دی خبری لیدونکی ول چی په ځینو لیسو کی ډیر تجربه لرونکو ښوونکو د دی مضمون تدریس په غاړه درلوده. نو له همدی امله، د لیسو د ادارو له لوری د دی ښوونکو د تدریس څخه لیدنی او کنترول ته اړتیا نوه لیدل شوی. د تشبث د تدریس له ټولو ټولګیو څخه (۹۲٪) چی د کنټرول او نظارت لاندی نیول شوی ول، ۷۹٪ د دوی په ښاری سیمو او ۱۳٪ د دوی په کلیوالی سیمو کی ول. په ورته ډول، ۵٪ د لیسو ادارو په ښاری سیمو او ۳٪ په کلیوالی

سیمو کې د تشبث مضمون له تدریس څخه کنټرول او نظارت اړین نه وه بللی. ۱۴۵ ګراف د هغو لیسو د ادارو سلنه ښیي چې د تشبث مضمون له تدریس څخه یې لیدنه کړې ده.

۱٤٥ ګراف: د هغو لیسو د ادارو سلنه چې د تشبث مضمون له تدریس څخه یې لیدنه کړې ده




د ځواب ورکوونکو د ځای له ارزونې وروسته، څرګنده شوه چې ۹۴٪ د لیسو ادارو په ښاري سیمو کې د تشبث مضمون له تدریس څخه لیدنه او د مضمون د تدریس د میتود د ښه والي لپاره یې خپل نظرونه شریک کړي ول. له بل لوري څخه، د کلیوالو سیمو د لیسو د ادرو سلنه چې د تشبث مضمون د ټولګیو له تدریس څخه یې لیدنه کړې وه ۸۳٪ وه. پدې اساس، کولی شو ووایو چې لږ شمیر د ښاري سیمو د لیسو اداري (۶٪) په پرتله د (۱۷٪) دکلیو، د تشبث مضمون د ټولګیو له تدریس څخه لیدنه نه وه کړې. په دوهم پړاو کې، مالومات او شمیرې د ځواب ورکوونکو د جنسیت په نظر کې نیولو سره و څیړل شوې، او څرګنده شوه چې زیات شمیر د نجونو د لیسو اداري (۹۴٪) او(۹۰٪) د هلکانو د لیسو ادارو د تشبث مضمون له تدریس څخه لیدنه کړې وه. او کله مو چې د جنسیت او ځای دواړو په نظر کې نیولو سره ځواب ورکوونکې تر ارزونې لاندې ونیول نو څرګنده شوه چې ۱۰۰٪ د ښاري سیمو د نجونو د لیسو مدیرانو او ۱۰۰٪ د هلکانو د لیسو مدیرانو په کلیوالي سیمو کې د تشبث د مضمون له تدریس څخه لیدنه کړې وه. ۱۴۶، ۱۴۷ او ۱۴۸ ګرافونه د لیسو د ادارو پوره سلنه ښیي چې د تشبث مضمون له تدریس څخه یې لیدنه کړې وه.

۱٤٦ ګراف: د لیسو اداری چې په کلیوالی او ښاری سیمو کې یې د تشبث د مضمون له تدریس څخه لیدنه کړې ده




۱٤۷ ګراف: د جنیست په نظر کې نیولو سره د لیسو اداری چې د تشبث د مضمون له تدریس څخه یې لیدنه کړې وه



۱۴۸ ګراف: د جنیست او ځای په نظر کی نیولو سره د لیسو اداری چی د تشبث د مضمون له تدریس
څخه یی لیدنه کړی وه




لکه څرنګه چی وویل شول چی ۹۲٪ د لیسو ادارو د تشبث مضمون له تدریس څخه په اړونده لیسو کی لیدنه کړی ده، نو له دی ادارو څخه د دی مضمون د تدریس د څرنګوالی (کیفیت) په هکله پوښتنه وشوه. د دی پوښتنی په هکله د ادارو نظرونه د تشبث ښوونیزی او روزنیزی مؤسسی لپاره په راتلونکی کلونو کی د تشبث مضمون د تدریس د کیفیت د لا ښه والی لپاره ډیر مهم کنل کیږی. د تشبث مضمون د تدریس میتود د کیفیت په هکله دری ټاکنی (انتخابه) د لیسو ادارو ته وړاندی شوی ول چی عبارت دی له:

۱: ناتوانه او بی اغیزی

۲: منځنی (متوسط) او تریوی کچی اغیزمن

۳: قوی او اغیزمن

پداسی حال کی چی، د لیسو هیڅ اداری لومړی انتخاب د ځواب په توګه غوره نکړ، ځکه د ټولو لیسو ادارو د تشبث مضمون د اغیزو په هکله ځینی شیان په فکر کی درلودل. نږدی اووه پر لسو برخو (۶۹٪) د لیسو ادارو (۶۴٪ په ښاری سیمو کی او ۵٪ په کلیوالی سیمو کی) باور درلوده چی د تشبث مضمون ښوونکی د تدریس په برخه کی د ښه مهارتونو درلودونکی دی، او د دی برسیره دوی فکر کاوه چی د دی مضمون تدریس د زده کوونکو لپاره اغیزمن تمام شوی دی. له بل لوری څخه، ۳۱٪ پاتی د لیسو ادارو (۲۲٪ په ښاری سیمو کی او ۹٪ په کلیوالی سیمو کی) دوهم ځواب (د مضمون منځنی او تر یوی کچی اغیزمن) تدریس څخه یادونه وکړه. د لیسو د ادارو په ارزونی کی، لاسته راغلی مالومات او ارقام د ځواب ورکوونکو د ځای په نظر کی نیولو سره تر ارزونی لاندی ونیول شول، او تر څیړنی وروسته څرګنده شوه چی (۷۴٪) د ښاری سیمو د لیسو ادارو دی مسئلی ته اشاره وکړه چی د مضمون د تدریس کیفیت قوی او اغیزمن دی چی

دا سلنه په کلیو کې (۴۰٪) ته رسیده. دا په داسې حال کې ده چې د پوښتنې دوهم انتخاب لپاره د دې خبرې برعکس ربښتیا وه، په دې ډول چې نږدې ۶۰٪ د لیسو اداري په کلیو کې د تدریس د منځنۍ او ترېوې کچې اغیزمنو مهارتونو څخه یادونه وکړه، پداسې حال کې چې دا سلنه د ښاري سیمو د لیسو ادارو له نظره ۲۶٪ ته راښکته شوې وه. ۱۴۹ او ۱۵۰ ګرافونه د تشبث مضمون د تدریس میتود د کیفیت په هکله د ځواب ورکوونکو نظر په تفصیلي توګې سره ښیي.

۱٤۹ ګراف: په لیسو کې د تشبث مضمون د تدریس کیفیت




۱۵۰ ګراف: په ښاري او کلیوالي سیمو کې د تشبث مضمون د تدریس کیفیت



په بل پړاو کې، د ځوب ورکوونکو د جنسیت په په نظر کې نیولو سره لاسته راغلی مالومات او ارقام تر ارزونی لاندی ونیول شول، او څرګنده شوه چې ٪۵۳ د هلکانو لیسو د مدیرانو په آند، د تشبث مضمون د تدریس میتود کیفیت منځنی او ترېوی کچې اغیزمن وه او د پاتی ٪۴۷ په آند د دی مضمون د تدریس کیفیت قوی او اغیزمن وه. ولی، د نجونو لیسو د مدیرانو لپاره دا خبره بل ډول وه، پدی ډول چې نهه پر لسو برخو (٪۹۰) د دوی فکر کاوه چې د تشبث مضمون تدریس زده کوونکو ته په قوی او اغیزمنه توګه سرته رسیږی، په داسی حال کی چی لږه سلنه (٪۱۰) د ځواب ورکوونکو وویل چې د تشبث مضمون د تدریس کیفیت، منځنی او تر یوی کچې اغیزمن دی. په ورته توګه، د تشبث مضمون د تدریس کیفیت د ځواب ورکوونکو لیسو د مدیرانو د جنسیت او ځای په نظر کی نیولو سره تر څیړنی لاندی ونیول شو. د څیړنی په ترڅ کی څرګنده شوه چی، نارینه ځواب ورکوونکی په ښاری سیمو کی (٪۶۹) پدی نظر ول چی د تشبث مضمون د تدریس کیفیت، قوی او اغیزمن دی، په داسی حال کی چی زیات نارینه ځواب ورکوونکی په کلیو کی (٪۷۵) ځواب ورکړ چی د مضمون د تدریس کیفیت، منځنی او ترېوی کچې اغیزمن دی. ولی، اکثریتو ښځینه ځواب ورکونکو په ښاری سیمو کی (٪۸۰) او په کلیو کی (٪۱۰۰) د مضمون د تدریس کیفیت د زده کوونکو لپاره قوی او اغیزمن بیان کړ. د جنسیت له ارزونی وروسته، لاسته راغلی شمیری او مالومات د پوښښ لاندی سیمو په نظر کی نیولو سره هم تر ارزونی لاندی ونیول شوی، او څرګنده شوه چی د کلیوالو سیمو د لیسو مدیران د تشبث مضمون د تدریس له کیفیت څخه په پوره توګه خوښ ول او د دوی ځواب سره سم د تدریس کیفیت یې قوی او اغیزمن وښود. په هر حال، د ښاری سیمو څخه موندنی ښیی چی د لیسو مدیران د مضمون د تدریس د کیفیت په هکله مختلف نظرونه لری، پداسی ډول چی ٪۷۲ دلیسو مدیران په کابل ښار کی، ٪۷۵ په جلال آباد کی، ٪۶۰ د بامیانو په ښار کی او ٪۱۰۰ د پروان په ښار کی پدی نظر ول چی د تشبث مضمون د تدریس کیفیت، قوی او اغیزمن دی. په پای کی، لاسته راغلی مالومات او شمیری د ځواب ورکوونکو د جنسیت او پوښښ لاندی سیمو په نظر کی نیولو سره تر ارزونی لاندی ونیول شوی. ۱۵۱، ۱۵۲، ۱۵۳ او ۱۵۴ ګرافونه د تشبث مضمون د تدریس د کیفیت په هکله ټولیز انځور ښیی.

۱۵۱ ګراف: د جنسیت په نظر کې نیولو سره د تشبث مضمون د تدریس کیفیت




۱۵۲ ګراف: د جنسیت او ځای سره سم د تشبث مضمون د تدریس کیفیت



۱۵۳ ګراف: د پوښښ لاندې سیمو په نظر کې نیولو سره د تشبث مضمون د تدریس کیفیت




۱۵٤ ګراف: د جنسیت په نظر کې نیولو سره تر پوښښ لاندې سیمو کې د تشبث مضمون د تدریس کیفیت



د ۱۴۸ چارټ په اساس نږدی اووه پرلسو برخو (۶۹٪) د لیسو مدیرانو باور درلوده چې د تشبث مضمون کیفیت اغیزمن او د تدریس کیفیت یی د قناعت وړ یاد کړ، په داسی حال کی چی پاتی ۳۱٪ د لیسو مدیرانو دا مضمون تر یوی کچی اغیزمن بللی وه. په دی اساس، د لیسو له مدیرانو څخه پوښتنه وشوه چی د دی مضمون په اړه د داسی ډول نظر درلودلو لاملونه بیان کړی. په دی ډول، د لیسو مدیرانو ډول ډول نظرونه د مضمون د اهمیت او تدریس میتود په هکله بیان کړل. ۳۱٪ د لیسو مدیرانو دی خبری ته اشاره وکړه چی ښوونکی د تدریس له یو ډیر ښه میتود څخه ګټه پورته کوی او زده کوونکی له دی مضمون سره زیاته لیوالتیا لری. له بل لوری څخه، ۳۱٪ د لیسو نورو مدیرانو باور درلوده چی ښوونکو زده کوونکی قانع کړی دی چی ترڅو په خپل ځان بسیا شی. نو په دی اساس، کولی شو داسی پایلی ته ورسیږو چی ډیری د لیسو مدیران د تشبث مضمون په اغیزمنتوب او د ښوونکو لخوا د قناعت وړ تدریس میتود باندی باوری دی. د پام وړ ټکی دادی چی ۱۷٪ د لیسو مدیرانو دا یادونه وکړه چی ښوونکی د درس په ترڅ کی د زده کوونکو د تولیداتو په هکله خبری کوی چی دا کار نورو زده کوونکو ته د یو کاراوبار د پیلولو او نوښت انګیزه ورکوی. له بل لوری څخه، ۲۳٪ د لیسو مدیرانو د تشبث مضمون او د دی مضمون د تدریس میتودونه تر یوی کچی اغیزمن وبلل چی له دوی څخه (۱۴٪ د مسلکی ښوونکو د کمښت یادونه وکړه، ۶٪ د زده کوونکو لپاره د مالی او تخنیکی مرستو له کمښت څخه یادونه وکړه او ۳٪ د دوی په دی باور ول چی لږه کچه زده کوونکی په ټولګیو کی برخه اخلی). ۱۴٪ دلیسو مدیرانو د مضمون د تدریس لپاره د مسلکی ښوونکو د نه شتون څخه یادونه وکړه. دا خبره روښانه وه چی د ښاری او کلیوالی سیمو د لیسو مدیرانو مختلف نظرونه درلودل. موندنی ښیی چی د ښاری سیمو لیسو ځواب ورکوونکی مدیرانو (۸۵٪) د تشبث مضمون د تدریس په اغیزمنتوب باندی ټینګار کاوه په داسی حال کی چی ډیری د کلیو د لیسو مدیرانو (۶۰٪) د مضمون د تدریس کیفیت تر یو کچی (محدود) اغیزمن وباله. که په روښانه توګه خبری وکړو، ۳۲٪ د ښاری سیمو د لیسو مدیرانو دا باور درلوده چی د ښوونکو د تدریس میتود ښه دی او زده کوونکی د دوی د تدریس له میتود سره ډیره لیوالتیا لری. په همدی ډول، ۳۲٪ نورو د لیسو مدیرانو د دی خبری یادونه وکړه چی د تشبث ښوونکی هرکله زیار وباسی چی د تشبث مضمون د اغیزو په بیانولو سره خپل زده کوونکی له اقتصادی پلوه د ځان بسیاوالی لوری ته وهڅوی. ولی، د کلیو د لیسو د مدیرانو سلنه د پورته ځوابونو لپاره په ترتیب سره ۲۰٪ او ۲۰٪ وه، او پاتی ۶۰٪ یادونه وکړه چی په کلیو کی د مسلکی ښوونکو له کمښت سره مخ دی. ۱۵۵ او ۱۵۶ ګرافونه د تشبث مضمون د تدریس میتود د اغیزو په هکله د لیسو د مدیرانو نظر وړاندی کوی.

۱۵۵ ګراف: د تشبث مضمون د تدریس د اغیزو په هکله د لیسو د ادارو نظرونه




۱۵٦ ګراف: د تشبث مضمون د تدریس د اغیزو په هکله د لیسو د ادارو نظرونه په ښاری او کلیوالی سیمو کی



### ۲،۹ د لیسو مدیران او د تشبث ښوونیزه او روزنیزه مؤسسه

مخکې په دې مسئله خبرې وشوې چې د تشبث له مضمون سره د ټولو لیسو مدیرانو بلدتیا در لوده. له دې امله چې د تشبث مضمون د تشبث ښوونیزې او روزنیزې مؤسسې په ملاتړ په مخ وړل کیږي، دا اړینه وه چې وپوهیږو چې د لیسو مدیران د دې مؤسسې په اړه پوهاوی لري او که نه. په دې اساس، د لیسو له ټولو مدیرانو څخه پوښتنه وشوه چې ایا دوی پوهیږي چې د تشبث ښوونیزه او روزنیزه مؤسسه د تشبث مضمون تدریس د څلورو ولایتونو په ۴۳ لیسو کې عملي کوي. له نیکه مرغه، د لیسو ټول مدیران، هم په ښاري او هم په کلیوالي سیمو کې په دې خبره پوه ول چې د تشبث ښوونیزه او روزنیزه مؤسسه، د دې مضمون تدریس په اړونده لیسو کې پر مخ وړي. ۱۵۷ ګراف د تشبث ښوونیزې او روزنیزې مؤسسې د ملاتړپه هکله د لیسو د مدیرانو د پوهاوي کچه ښيي.

۱۵۷ ګراف: د تشبث ښوونیزې او روزنیزې مؤسسې اړوند د لیسو د مدیرانو پوهاوی




لږترلږه یوه ښوونکي، د تشبث مضمون د لیسو زده کوونکو ته تر پوښښ لاندې په ټولو ۴۳ لیسو کې تدریس کړی وه. د دې برسیره، باید ووایو چې د ښه تدریس لپاره ښوونکي لا زیاتو زده کړو ته اړتیا لري. په دې اساس، د ارزونې ټیم په دې څیړنې کې د هغو مالوماتو په راټولو غور کاوه چې مالومه کړي چې آیا ښوونکو د دې مضمون اړونده اړینې زده کړې کړې دي او که نه. له دې امله د لیسو له ټولو مدیرانو څخه پوښتنه وشوه چې آیا دوی کوم مالومات په لاس کې لري چې وښيي چې ښوونکو د تشبث مضمون د لا ښه تدریس لپاره زده کړې (ترېننګونه) لیدلې دي او که نه. له نیکه مرغه د ټولو لیسو مدیران له دې خبرې خبر ول چې د تشبث ښوونکو اړینې زده کړې لیدلې دي. ٪۹۲ د لیسو مدیرانو دې خبرې ته اشاره وکړه چې د تشبث ښوونکو په خپله په لیسو کې د تشبث په هکله اړینې زده کړې (ترېننګونه) لیدلې دي، دا په داسې حال کې ده چې ٪۸ پاتې مدیرانو وویل چې همدا اوس د تشبث ښوونکي لازمې زده کړې د تشبث مضمون په

هکله د اړونده ادارو لخوا تر لاسه کوی. د لیسو له مدیرانو څخه لاسته راغلی موندنی د تشبث له ښوونکو څخه د لاسته راغلو موندنو سره یوشان وی ځکه تراوسه یوائی ۸٪ د تشبث ښوونکی د دی مضمون په هکله باید لازمی زده کړی وکړی. ۱۵۸ ګراف د تشبث د ښوونکو د ټرینګونو په هکله د لیسو د مدیرانو نظر ښیی.

۱۵۸ ګراف: د تشبث مضمون په هکله ټریننګ شویو ښوونکو سلنه (د لیسی د مدیرانو په نظر)




په تیرو برخو کی د تشبث مضمون د اهمیت په هکله خبری وشوی. د دی برسیره، د تشبث ښوونکو ته حد اقل لګښت او ستاینلیکونه هم ورکړل شوی دی. په دی اساس د مضمون اهمیت او لګښتونو ته په کتو، دا شونی ده چی په لیسو کی به نور ښوونکی دی ته لیواله وی چی د تشبث مضمون په خپلو لیسو کی تدریس کړی. له همدی امله، د لیسو له ټولو مدیرانو څخه پوښتنه وشوه چی آیا نور ښوونکی هم د تشبث مضمون تدریس ته لیواله دی او که نه. له تمی سره سم، له دری پر څلور برخو څخه زیاتو (۷۶٪) د نورو لیسو ښوونکو د تشبث مضمون د ښوونکو له ډلی سره د تشبث ښوونیزی او روزنیزی مؤسسی تر سیوری لاندی د یوځای کیدو لپاره لیوالتیا وښوده. له بل لوری څخه، د ۲۴٪ لیسو مدیرانو په لیسو کی د تشبث له ښوونکو څخه پرته بل هیڅ ښوونکی د تشبث مضمون د تدریس لپاره په ګوته نه کړ. دا د تشبث پروګرام د کارکوونکو لپاره یوه غټه لاسته راوړنه ده ځکه د تشبث ښوونیزه او روزنیزه مؤسسه توانیدلی ده چی د تشبث مضمون د اهمیت په هکله پوهاوی زیات شمیر روڼ آندو خلکوته ورسوی. د دی برسیره، د تشبث پروګرام کارکوونکو ته دا سپارښتنه کیږی چی دا ښوونکی په نښنه کړی او د مالی سرچینو درلودو په صورت کی دی ښوونکو ته لازمی زده کړی ورکړی ترڅو په راتلونکی کی د تشبث مضمون د ښوونکو له کمښت څخه مخنیوی وشی. ۱۵۹ ګراف د هغو لیسو سلنه ښیی چیرته چی نورو ښوونکو د تشبث مضمون د تدریس لپاره لیوالتیا ښودلی ده.

۱۵۹ ګراف: نور ښوونکی د تشبث مضمون تدریس ته لیواله دی (د لیسو د مدیرانو په نظر)




د لیسو له مدیرانو سره د مرکو په ترځ کی دا روښانه شوه چی دا مدیران له کلونو راپدیخوا د لیسو د ادارو مسؤلیت په غاړه لری. نو پدی اساس د لیسو له مدیرانو څخه پوښتنه وشوه چی آیا د تشبث مضمون په تدریس کی یی کوم بدلون تر سترګو شوی دی او که نه. د تشبث ښوونیزی او روزنیزی مؤسسی لپاره ډیر د خوشحالی ځای وه چی نږدی نهه پر لسو (۸۹٪) د لیسو مدیرانو د تشبث مضمون د تدریس په لاره کی بدلون لیدلی ول، ولی ۱۱٪ د دوی دی خبری ته اشاره وکړه چی ښوونکی د تدریس له پوی لاری څخه کار اخلی او د دی مضمون په تدریس کی نوښت نه تر سترګو کیږی. د کلیو او ښاری سیمو د راټول شوو مالوماتو او شمیرو له ارزونی وروسته، څرګنده شوه چی د ښاری سیمو مدیرانو چی د تشبث مضمون د تدریس په میتود کی یی بدلون لیدلی وه د کلیوالی سیمو د لیسو له مدیرانو څخه زیات وه چی په ترتیب سره ۹۱٪ او ۸۳٪ ول. د دی برسیره، لاسته راغلی مالومات د لیسو د مدیرانو د جنسیت له اړخه هم تر ارزونی لاندی ونیول شول، او دا څرګنده شوه چی (۴۹٪) ښځینه د لیسو مدیرانو او (۸۷٪) نارینه د لیسو مدیرانو د تشبث مضمون په تدریس کی بدلون لیدلی وه. او کله مو چی لاسته راغلی مالومات د جنسیت او ځای له نظره وڅیړل نو څرګنده شوه چی د ښاری سیمو (۹۳٪) نارینه د لیسو مدیران د کلیو د (۸۰٪) نارینه د لیسو مدیرانو په پرتله د تشبث مضمون د تدریس د میتود د بدلونو په پیژندنه کی زیات فعال ول. او د ښځینه لیسو مدیرانو لپاره د دی خبری برعکس رښتیا وه، پداسی ډول چی د کلیوالو ښځینه مدیرانو (۱۰۰٪) او د ښځینه ښاری سیمو د مدیرانو(۸۸٪) د تشبث مضمون د تدریس د بدلونونو په پیژندنه کی فعال ول. پدی پراوو کی، لاسته راغلی مالومات د هدف لاندی سیمو په نظر کی نیولو سره وڅیړل شول، او څرګنده شوه چی د کابل ښار (۸۵٪) او چهار آسیاب ولسوالی (۵۰٪) د لیسو له مدیرانو څخه پرته، نورو ټولو د پوښښ لاندی سیمو د لیسو مدیرانو د تشبث مضمون د تدریس په مهارتونو کی بدلون لیدلی دی. ۱۶۰، ۱۶۱، ۱۶۲، ۱۶۳، او ۱۶۴ ګرافونه او ۱ جدول د لیسو د هغو مدیرانو د شمیر په هکله پوره مالومات وړاندی کوی چی د تشث ښوونکو د تدریس په مهارتونو کی یی بدلون لیدلی دی.

۱۶۰ ګراف: د لیسو مدیران چې د تشبث مضمون په تدریس کې یې بدلون لیدلی دی




۱۶۱ ګراف: په کلیوالو او ښاری سیمو کې د لیسو مدیران چې د تشبث مضمون په تدریس کې یې بدلون تر سترګو شوی دی



۱٦۲ ګراف: د جنسیت په نظر کی نیولو سره د لیسو مدیران چی د تشبث مضمون په تدریس کی یی بدلون لیدلی دی




۱٦۳ ګراف: د جنسیت او ځای په نظر کی نیولو سره د لیسو مدیران چی د تشبث مضمون په تدریس کی یی بدلون لیدلی دی



۱٦٤ ګراف: تر پوښښ لاندی سیمو کی د لیسو مدیران چی د تشبث مضمون په تدریس کی یی بدلون لیدلی دی



۱ جدول: تر پوښتنې لاندې سیمو کې د لیسو مدیران چې د تشبث مضمون په تدریس کې یې بدلون لیدلی دی

| ځای | | هو | نه |
|---|---|---|---|
| کابل | نارینه | ۳۰٪ | ۵٪ |
| | ښځینه | ۵۵٪ | ۱۰٪ |
| ننګرهار | نارینه | ۶۷٪ | ۰٪ |
| | ښځینه | ۳۳٪ | ۰٪ |
| بامیان | نارینه | ۸۰٪ | ۰٪ |
| | ښځینه | ۲۰٪ | ۰٪ |
| پروان | نارینه | ۵۰٪ | ۰٪ |
| | ښځینه | ۵۰٪ | ۰٪ |
| پغمان | نارینه | ۱۰۰٪ | ۰٪ |
| | ښځینه | ۰٪ | ۰٪ |
| چهار آسیاب | نارینه | ۵۰٪ | ۵۰٪ |
| | ښځینه | ۰ | ۰٪ |
| شکردره | نارینه | ۱۰۰٪ | ۰٪ |
| | ښځینه | ۰٪ | ۰٪ |
| ګُلدره | نارینه | ۱۰۰٪ | ۰٪ |
| | ښځینه | ۰٪ | ۰٪ |
| استالف | نارینه | ۰٪ | ۰٪ |
| | ښځینه | ۱۰۰٪ | ۰٪ |

د تشبث د تدریس په مهارتونو کې د راغلو بدلونونو په هکله راټول شوی مالومات اوشمیرې د مدیرانو د ځای په نظر کې نیولو سره د لا زیاتو څېړنو لاندې ونیول شول ترڅو په تدریس کې د راغلو بدلونونو ډول په کلیوالي او ښاري سیمو کې مالوم کړو. څرګنده شوه چې (۳۱٪) د ښاري سیمو د لیسو مدیرانو د تشبث مضمون د تدریس د مهارتونو د بدلونونو په هکله د پورته ذکر شوویو ټولو مدیرانو سره ورته نظر درلوده. ولې، د کلیو زیات شمیر د لیسو مدیرانو (۴۰٪) دی خبرې ته اشاره وکړه چې زده کوونکي یې کولی شي یو نوی کاراوبار پیل کړي. دا بدلون د تشبث

پروګرام لپاره ډیر د اهمیت وړ دی ځکه کوم بدلونونه چې راغلي دی د پروګرام له موخو سره په پوره توګه همغږی دی، چې دا موخه زده کوونکو ته د داسی یو مرکز منځ ته راوړل دی ترڅو له دوی څخه متشبث جوړ کړی. همدارنګه، ورته بدلون یوازې د ۱۰٪ لیسو مدیرانو لخوا په ښاری سیمو کې لیدل شوی دی. په ورته وخت کې، ډیرو (۴۰٪) د ټولو لیسو مدیرانو په کلیو کې د زده کوونکو د تولیداتو په ننداړو کې د تیرو کلونو په پرتله د ښې همغږی او نظم په هکله خبری وکړی. دا بدلون د هیواد په کلیوالی سیمو کې د تشبث پروګرام لپاره یوه لویه لاسته راوړنه ګڼل کیږی ځکه همغږی او د دی ننداړو په لاره اچونه د هیواد په کلیو کې ننګوونو او کمښتونو ته په کتو داسی آسانه کار نه دی. ۱۶۵ ګراف د تشبث مضمون د تدریس په مهارتونو کې د بدلونونو په هکله چې د لیسو مدیرانو په کلیو او ښاری سیمو کې لیدلی دی یو هراړخیز انځور وړاندی کوی.

۱۶۵ ګراف: د تشبث مضمون د تدریس په مهارتونو کې بدلونونه په ښاری او کلیوالی سیمو کې (د لیسو د مدیرانو نظر)




له پورته پړاو څخه وروسته، لاسته راغلی شمیری او مالومات د لیسو د مدیرانو د جنسیت د څرنګوالی په نظر کې نیولو سره د لازیاتی ارزونی لاندی ونیول شول، او څرګنده شوه چې د لیسو د مدیرانو لوړه سلنه د نارینه وو څخه (۲۵٪) یادونه وکړه چې دوی خپل زیات شمیر زده کوونکی لیدلی دی چې یو نوی کاراوبار یی پیل کړی دی. همدارنګه، زیاتو ښځینه د لیسو مدیرانو (۶۱٪) د زده کوونکو د تولیداتو په ننداړو کې د تیرکال په پرتله د تشبث ښوونیزی او روزنیزی

مؤسسې تر مشرۍ لاندې د زیاتې همغږۍ او نظم څخه یادونه وکړه. ۱۶۶ ګراف د جنسیت په نظر کې نیولو سره د لیسو مدیران ښیې چې د تشبث مضمون په تدریس کې یې بدلون لیدلی دی.

۱٦٦ ګراف: د جنسیت په نظر کې نیولو سره د تشبث مضمون د تدریس په مهارتونو کې بدلونونه



### ۲,۱۰ د تشبث مضمون راتلونکی او د لیسو اداری

په پورته برخو کی د تشبث مضمون د اهمیت په هکله د لیسو مدیرانو خپل نظرونه شریک کړل. د زده کوونکو د راتلونکی په بدلیدو کی د تشبث مضمون اهمیت ته په کتو، د لیسو له مدیرانو څخه پوښتنه وشوه چی آیا د تشبث مضمون باید د پوهنی وزارت د نصاب برخه وی او کنه. له نیکه مرغه، نهه پر لسو برخو (۹۲٪) د لیسو مدیرانو د تشبث مضمون د پوهنی وزارت په ښوونیز نصاب کی د شاملیدو سره همغږی وښوده او ۸٪ د دوی له دی وړاندیز سره مخالفت وښوده. ۱۶۷ ګراف په ښوونیز نصاب کی د تشبث مضمون دشاملیدو په هکله د لیسو د مدیرانو د نظر سلنه ښیی.

۱۶۷ ګراف: د تشبث مضمون د ښوونی وزارت په ښوونیز نصاب کی د شاملیدو وړاندیز (د لیسو د مدیرانو نظر)




د لیسو ټولو مدیرانو خپل مهم نظرونه د تشبث مضمون د اهمیت په هکله بیان کړل او له نهه پر لسو برخو څخه زیات (۹۲٪) د لیسو مدیرانو د تشبث مضمون د پوهنی وزارت په ښوونیز نصاب کی په شاملیدو باندی ټینګار وکړ. په دی اساس، داسی انګیرل کیږی چی د نورو لیسو مدیرانو هم د دی مضمون په هکله له هغو مدیرانو سره چی د هغوی په لیسو کی د تشبث مضمون تدریسیږی خبری کړی وی. پدی ډول، د لیسو له ټولو مدیرانو څخه پوښتنه وشوه چی آیا د نورو لیسو مدیرانو د دی موضوع په هکله له دوی سره اړیکی نیولی دی او که نه. له نیکه مرغه، د نورو لیسو ادارو له ۳۲٪ د لیسو له مدیرانو سره په دی هکله اړیکی نیولی دی. سره د دی چی دا یوه ډیره ټیټه شمیره ده، ولی د تشبث ښوونیزی او روزنیزی مؤسسی ملاتړ له دی مضمون څخه د زیات شمیر لیسو پام د دی مضمون لور ته اړولی دی. د پروګرام د لا زیات بریالیتوب او نورو

لیسو ته د تشبث پروګرام غزولو لپاره، د تشبث ښوونیزه او روزنیزه مؤسسه باید د تشبث پروګرام بریالیتوبونه په اړونده برخو کې له نورو لیسو سره شریک کړي ترڅو د پوهنې وزرات په ښوونیز نصاب کې دتشبث مضمون د شاملیدو ملاتړ ته وده ورکړي. د لیسو د مدیرانو د ځای د شمیرله ځیرنې وروسته، د ارزونې ټیم ومونده چې د تشبث مضمون په هکله د لیسو د مدیرانو تر منځ خبرې په کلیو کې (٪۵۰) او په ښاري سیمو کې (٪۲۸) شوې دي. د یادونې وړ ده چې زیات شمیر د کلیو د لیسو مدیرانو، د تشبث مضمون شاملیدلو سره د دوی په ورځنی مهال ویش کې لیوالتیا ښودلې ده. دا خبره د کلیوالو خلکو په منځ کې د تشبث مضمون اهمیت څرګندوي او د تشبث ښوونیزه او روزینزه مؤسسه باید دا خبره په پوره توګه په پام کې ونیسي چې په راتلونکې کې د کلیوالو مخورو ځیرو څخه د وزارت په ښوونیز نصاب کې د تشبث مضمون په شاملیدو کې ګټه پورته کړي. ۱۶۸ او ۱۶۹ ګرافونه د لیسو د هغو مدیرانو سلنه ښیي چې د نورو لیسو ادارو او د تشبث مضمون په هکله د مالوماتو د لاسته راوړلو لپاره له دوی سره اړیکه نیولې ده.

١٦٨ ګراف: د نورو لیسو اداری چې په ورځنی مهالویش کې د تشبث مضمون د شاملیدو لیواله دی (د لیسو د مدیرانو نظر)



۱۶۹ ګراف: د کلیو او ښاری سیمو د نورو لیسو اداری چی په ورځنی مهالویش کی د تشبث مضمون د شاملیدو لیواله دی (د لیسو د مدیرانو نظر)




### ۲,۱۱ د والدینو د ارزونی موندنی

د ارزونی تر پوښښ لاندی ګروپونو کی د هغو زده کوونکو والدینو چی ماشومانو یی د تشبث مضمون لوستی وه هم برخه لرله. په دی برسیره، د ارزونی د ټیم غړو اراده درلوده چی د زده کوونکو هغه شمیر والدین چی توانیدلی دی یو نوی کاراوبار پیل یا ورته پراختیا ورکړی او یا هم نورو ته د کار زمینه برابره کړی مالوم کړی. د نیکمرغی خبره دا وه چی په هره لیسه کی لږترلږه ۵ زده کوونکی پدی معیارونو برابر ول. د نمونی د کچی محاسبی په نظر کی نیولو سره د ٪۵ باور واټن، ٪۹۵ د اعتماد کچی، ۴۰۰ د زده کوونکو شمیر په نظر کی نیولو سره له ٪۸۰ والدینو سره د ارزونی په موخه مرکی وشوی.

د دی لپاره چی د تشبث مضمون او د دی د اغیزو په هکله د والدینو د لیدلوری په اړه کره مالومات ولرو، د ارزونی ټیم د مرکه کیدونکو والدینو شمیر د تشبث ښوونیزی او روزنیزی مؤسسی تر پوښښ لاندی سیمو په نظر کی نیولو سره په ګروپونو وویشه. په دی کار سره د تشبث مضمون اړوند په کلیو او ښارو کی د والدینو د نظرونو په هکله مختلف مالومات او شمیری لاسته راغلی. د زده کوونکو سره د مرکو به ترڅ کی، له والدینو څخه هم پوښتني وشوی. د کلتوری مسایلو په نظر کی نیولو سره نارینه والدین د نارینه سروی کوونکو لخوا او ښځینه والدین د ښځینه سروی کوونکو لخوا مرکه شول. له والدینو څخه د تشبث مضمون او د دوی ماشومان او په ماشومانو باندی د دی مضمون د اغیزو په هکله پوښتني وشوی.

### ۲,۱۱,۱ د ځواب ورکوونکو والدینو عمومي ځانګړنې

#### ۲,۱۱,۱,۱ ځای

ځواب ورکوونکي والدین د تشبث ښوونیزی او روزنیزی مؤسسی د فعالیت لاندی سیمو څخه غوره شوی ول. لکه څرنګه چی زیات شمیر د تشبث مضمون زده کوونکي په کابل کی اوسیدل نو له تمی سره سم له والدینو سره زیاتی مرکی هم د کابل له ولایت څخه وی. لکه څرنګه چی د ۱۷۰ ګراف څخه څرګندیږی، نږدی نیمایی ځواب ورکوونکی د کابل له ولایت څخه ول. له بل لوری، یواځی ۳٪ والدین چی ورسره مرکه ترسره شوی وه د استالف له ولسوالی څخه ول، چی دا د تشبث ښوونیزی او روزنیزی مؤسسی تر فعالیت لاندی سیمو کی د زده کوونکو ترټولو لږی سلنی سره سمون خوری. د دی لپاره چی د تشبث ښوونیزی او روزنیزی مؤسسی تر فعالیت لاندی سیمو کی د تشبث پروګرام د اغیزو په هکله مالومات لاسته راوړو، د ځواب ورکوونکو والدینو سیمه ایز ویش اړین وه. ۱۷۰ ګراف د ځواب وکوونکو والدینو یو تولیز انځور ښیی.

۱۷۰ ګراف: د ځواب ورکوونکو والدینو کچه د سیمو په اساس



### ۲،۱۱،۱،۲ زده کوونکی

له ټولو ځواب ورکوونکو والدینو څخه د دوی د ماشومانو د شمیر په هکله چې په لیسو کی زده کړی کوی هم پوښتنه وشوه. دې سوال د ارزونې د ټیم غړو سره مرسته وکړه ترڅو د والدینو د پوهاوی کچه د دوی د ماشومانو په اړه او په لیسو کی د دوی د ماشومانو د مطالعی په هکله پوهاوی تر ارزونی لاندی ونیسی. له نیکه مرغه، ټولو ښارمیشتو او کلیوالو ځواب ورکوونکو والدینو لږترلږه یو ماشوم په لیسه کی در لوده. په ښوونځیو کی د والدینو د ماشومانو شمیر ټوپیر درلوده او له یوه څخه تر شپږو ماشومانو پوری رسیده. د والدینو د ماشومانو شمیر په ښوونځیو کی په منځنی توګه ۳ کسان ول. باید یادونه وکړو چې په ښاری او کلیوالی سیمو کی په ښوونځیو کی د والدینو د ماشومانو منځنی شمیر توپیر درلوده په دی ډول چی د ماشومانو منځنی شمیره په ښاری سیمو کی ۳ او په کلیوالی سیمو کی یو ماشوم وه.

له والدینو څخه لاسته راغلو ځوابونو ته په کتو، په ښوونځیو کی د دوه ماشومانو درلودل زیاته برخه (۲۹٪) جوړ وه، په داسی حال کی چی د دری، یوه، څلورو، پنځه، او شپږو ماشومانو درلودل له دوه څخه تر شپږم نمبر کی ځای درلوده چی په ترتیب سره (۲۴٪، ۱۹٪، ۱۵٪، ۶٪ او ۵٪) کیږی. د پام وړ خبره داده چی په ښاری سیمو کی (۲۷٪) او په کلیوالی سیمو کی (۳۷٪) د دوه ماشومانو په ښوونځی کی درلودونکی والدین زیات شمیر ول. په داسی حال کی چی د دری ماشوامانو (۲۴٪ په ښاری سیمو کی او ۲۶٪ په کلیوالی سیمو کی)، یو ماشوم (۱۹٪ په ښاری سیمو کی او ۲۱٪ په کلیوالی سیمو کی) او څلور ماشومان (۱۵٪ په ښاری سیمو کی او ۱۶٪ په کلیوالی سیمو کی) د والدینو ماشومان په ښوونځیو کی شامل ول. لکه څرنګه چی تمه کیده، زیات شمیر په ښوونځیو کی شامل ماشومان په ښاری سیمو کی ول، چی د پنځه او شپږو ماشومانو په ښوونځیو کی درلودونکی والدین په ترتیب سره ۸٪ او ۷٪ په ښاری سیمو کی ول. دا په داسی حال کی ده چی هیڅ یو د ځواب ورکوونکو والدینو په کلیوالی سیموکی پنځه یا شپږ ماشومان په ښوونځی کی نه درلودل. ۱۷۱ ګراف په ښوونځیو کی د والدینو د ماشومانو شمیر ښیی.

۱۷۱ ګراف: په ښوونځیو کی د ځواب ورکوونکو والدینو د ماشومانو شمیر




### ۲,۱۱,۲ د تشبث مضمون اړوند د والدینو نظر

د ځواب ورکوونکو والدینو په اړه د عمومی مالوماتو د لاسته راوړلو نه وروسته، د تشبث مضمون په هکله د دوی د پوهاوی او نظراړوند ځانګړی مالومات راټول شول. نو د دی لپاره د ارزونی تیم له پوښتنپاڼو څخه کټه پورته کړه. راغونډ شوی مالومات په ټولیز ډول شامل ول: د تشبث مضمون په هکله مالومات، د زده کوونکو لیوالتیا له تشبث مضمون سره، د زده کوونکو او والدینو ترمنځ د تشبث مضمون په هکله بحث، د والدینو لخوا په تجارت کی د تشبث مضمون له موضوعګانو څخه کټه اخیستنه او په پای کی مرکه د زده کوونکو په ژوند د تشبث مضمون د ټولنیزو- اقتصادی اغیزو په هکله د څو پوښتنو په مطرح کولو سره پای ته رسیږی. هره یوه د دی موضوعګانو په بیلا بیل ډول تر بحث لاندی نیول کیږی.

### ۲,۱۱,۳ د تشبث له مضمون سره د والدینو بلدتیا

مخکی تر دی چی په مستقیم ډول د تشبث مضمون اړوند د والدینو د پوهاوی کچه تر ارزونی لاندی ونیسو، له ټولو والدینو په دی هکله پوښتنه وشوه چی د دوی ماشومان د لیسو په کوم ټولګی کی زده کړی کوی. د دی مالوماتو لاسته راوړل ډیر اړین ول، ځکه چی اړتیا وه چی د ۱۰ نه تر ۱۲ ټولګیو زده کوونکو له والدینو څخه د تشبث مضمون په هکله پوښتنه وشی. مونږ داسی ګنو چی والدین د خپلو بچیانو د ټولګی په هکله مالومات لری، او دوی د دی توانایی هم لری چی له خپلو ماشومانو سره د تشبث مضمون په هکله خبری او د نظر تبادله وکړی. له کومه ځایه چی زیات ځواب ورکوونکی والدین لوستی کسان ول نو دا پوښتنه ورته ډیره ساده مالومیده، ځکه

دوی ټینګار کاوه چې د خپلو ماشومانو په هکله مالومات درلودل د دوی د روزنې یوه مهمه اړتیا ده. د ارزونې د ټیم غړو ته د پام وړ ټکې دا وه چې آن نالوستې یا د کمې زده کړې والدینو هم د خپلو ماشومانو د ټولګې په هکله مالومات درلودل. ۱۷۲ ګراف ته په کتو ٪۹۷ ځواب ورکوونکو والدینو د خپلو ماشومانو د ټولګې په هکله مالومات درلودل. له پاتې ٪۳ له ډلې ځخه، د خفګان خبره داوه چې د یوه زده کوونکې پلار چې خپله هم د ۱۴ ټولګې فارغ وه د خپل ځوی په هکله مالومات نه درلودل چې د لیسې په کوم ټولګې کې زده کړې کوې. د حیرانتیا خبره نده چې دا ٪۳ والدین پلرونه ول او دا د دې ښودونکې ده چې زمونږ په ټولنه کې مورګانې د پلرونو په پرتله زیات د خپلو ماشومانو پاملرنه کوې.

۱۷۲ ګراف: ځواب ورکوونکې والدین چې د خپلو ماشومانو د ټولګې په هکله یې مالومات درلودل




له ټولو ځواب ورکوونکو ځخه پوښتنه وشوه چې آیا د تشبث مضمون په هکله مالومات لرې او که نه . له درې پر څلورو برخو (٪۸۲) ځخه زیاتو ځواب ورکوونکو والدینو د تشبث مضمون په هکله مالومات درلودل. د دې ٪۸۲ ځخه، زیات شمیر ښارمیشتو والدینو (٪۸۶) په پرتله د کلیوالو والدینو (٪۶۸) د تشبث مضمون په هکله مالومات درلودل. د دې خلاف، د ځواب ورکوونکو والدینو ٪۱۸ چې د تشبث مضمون په هکله یې مالومات نه درلودل، ٪۳۲ په کلیوالو سیمو او ٪۱۴ یې په ښارې سیمو کې میشت ول. د دې پوښتنې په اړه د ځواب ورکوونکو د جنسیت په نظر کې نیولو سره، د ټولو ٪۸۲ ځواب ویونکو والدینو چې دې سوال ته یې مثبت ځواب ورکړې وه ٪۸۴ مورګانې او ٪۷۸ پلرونه ول. د دې برسیره، له ټولو ٪۱۸ والدینو چې دې سوال ته یې منفې ځواب ویلې وه، ٪۲۲ د دوی پلرونه او ٪۱۶ یې مورګانې وې چې د پلرونو شمیر له مورګانو ځخه زیات وه. د ٪۸۲ ځواب ورکوونکو والدینو چې پورته پوښتنې ته یې مثبت ځواب ویلې وه له ارزونې وروسته د ځیړنې غړو ومونده چې په ښارې سیمو کې د مثبت ځواب ورکوونکو مورګانو شمیر ٪۸۸ په پرتله د مثبت ځواب ورکوونکو پلرونو ٪۸۱ زیات وه. په داسې حال چې په کلیوالو سیمو کې، مثبت ځواب ورکوونکې پلرونه (٪۷۳) په پرتله د مثبت ځواب ورکوونکو مورګانو (٪۶۳) ونډه زیاته وه. پورته پوښتنې ته د ٪۱۸ منفې ځواب ورکوونکو والدینو په اړه خبره برعکس وه. په ښارې سیمو کې د پلرونو ونډه ٪۱۹ له مورګانو ځخه زیاته

وه. په کلیوالی سیمو کې د مورګانو ونډه (۳۸٪) په پرتله د پلرونو زیاته وه. ۱۷۳، ۱۷۴ او ۱۷۵ ګرافونه د تشبث مضمون په هکله د ځواب ورکوونکو والدینو د مالوماتو پوره انځور ښیې.

۱۷۳ ګراف: ځواب ورکوونکی والدین چې د تشبث مضمون په هکله یې مالومات درلودل




۱۷٤ ګراف: ځواب ورکوونکی والدین چې د تشبث مضمون
په هکله یې مالومات درلودل د جنسیت په اساس




۱۷۵ ګراف: د ښاری او کلیوالی سیمو د ځواب ورکوونکو والدینو او
د ښځینه او نارینه والدینو سلنه



وروسته د ارزونې ټيم د پوښتنو لوری د تشبث پرګرام په اړه د ځواب ورکوونکو څخه د ځانګړيو مالوماتو د راټولولو لوری ته یو وړ. له ټولو۸۲٪ والدینو چې د تشبث مضمون په هکله یې مالومات درلوده، له دریمې برخې څخه زیاتو (۶۳٪) د دوی وویل چې د تشبث مضمون له کاراوبار او کارموندنې سره تړاو لري. ولی ۱۷٪ ځواب ورکوونکو وویل چې د تشبث مضمون د ښوونې وزارت د نصاب یوه برخه ده. سره د دې چې د دې والدینو ځواب رښتیا نه وه، ولې دا مالومات د هغو والدینو لخوا ویل شوي وه چې لږ تر لږه د دولسم ټولګی فارغان ول. دا خبره د ارزونی ټیم لپاره تر یوه حده د تشویش وړ وه چې ولی لوستی والدین دا ډول ځواب ورکوی. له همدی امله د ارزونی د ټیم غړیو لا زیاتی څیړنی وکړې تر څو چې یی وموندہ چې دا ډله والدین په ښوونیز نصاب کی د تشبث مضمون د شاملیدو غوښتونکی دی. دا چې دی ډلی لوستی والدینو وویل چې د تشبث مضمون د ښوونی وزارت د ښوونیز نصاب یوه برخه ده، کیدای شي چې د تشبث مضمون په ښوونیز نصاب کی د شاملیدو څخه یو ډول ملاتړ وی. په دی ډول، ۱۳٪ ځواب ورکوونکو وویل چې دا مضمون د خلکو د اقتصادی حالت د ښه کیدو لپاره مهم دی، په داسی حال کی چې ۱۳٪ نورو ځواب ورکوونکو وویل چې د تشبث مضمون یواځې د کاراوبار په هکله ښوونی کوی. باید روښانه شي چې نږدی څلور پر پنځمه برخه (۷۹٪) د ځواب ورکوونکو نظرونه د تشبث مضمون له اقتصادی اهمیت سره تړاو درلوده. دا خبره د زده کوونکو لپاره د اقتصادی ودی د فرصتونو په رامنځ ته کولو کی د تشبث مضمون اغیزی ښیی او همدارنګه د اقتصادی ودی په هکله والدینو ته د مالوماتو په ورکولو کی د تشبث پروګرام اغیزی څرګندوی.

زیات شمیر ځواب ورکوونکی (۳۰٪ پلرونو او ۳۸٪ مورګانو) د نورو ځوابونو په پرتله " تشبث له دندی موندنی اوکاراوبار سره تړاو لری " ځواب غوره کړ. په داسی حال چې دوهم لوړ انتخاب د ۲۶٪ پلرونو داوه چې د تشبث مضمون د ښوونی وزارت د ښوونیز نصاب یوه برخه ده. او د ۱۵٪ ځواب ورکوونکو مورګانو په آند "تشبث له کاراوبار څخه بحث کوی" ځواب وروسته له " تشبث له کاراوبار او دندی موندی سره تړاو لری " ځواب څخه دوهم غوره انتخاب وه. دریم غوره انتخاب د ۱۷٪ ځواب ورکوونکو پلرونو په آند دا وه چې " تشبث د اقتصادی حالت د ښه کیدو سبب کیږی " ولی، د ۱۳٪ مورګانو په آند دریم غوره ځواب دا وه چې " د تشبث مضمون د ښوونی وزارت د ښوونیز نصاب یو برخه ده ". د پام وړ خبره دا وه چې ۳۸٪ د ښاری سیمو والدین او ۳۵٪ د کلیوالی سیمو والدین په دی آند ول چې د تشبث مضمون له سوداګری او کاراوبار سره تړاو لری. په داسی حال کی چې ۱۸٪ ښاری والدین او ۱۵٪ کلیوالی والدین په دی آند ول چې د تشبث مضمون د ښوونی وزارت د ښوونیز نصاب یوه برخه ده. په ښاری او کلیوالی سیمو کی دریم غوره انتخاب د ځواب ورکوونکو والدینو یو ډول نه وه. پدی ډول چې ۱۴٪ د ښاری سیمو والدینو " تشبث د اقتصادی حالت د ښه کیدو سبب کیږی " ځواب انتخاب کړی وو. ۱۵٪ د کلیوالی سیمو والدینو " تشبث له کاراوبار او دندی موندی سره تړاو لری " ځواب غوره کړی وه. د تشبث په اړه د ځواب ورکوونکو والدینو مالومات په ۱۷۶ ګراف او ۲ جدول کی په پوره توګه ځای پرځای شوی دی.

۱۷٦ ګراف: د تشبث مضمون په هکله د ځواب ورکوونکو والدینو مالومات



۲جدول: د ځای او جنسیت په نظر کی نیولو سره د تشبث مضمون اړوند د ځواب ورکونکو والدینو لخوا شریک شوی مالومات

| د مالوماتو ډول | نارینه | | ښځینه | |
|---|---|---|---|---|
| | ښاری | کلیوال | ښاری | کلیوالی |
| د پوهنی وزارت د نصاب یوه برخه ده | ۲۷٪ | ۲۵٪ | ۱۴٪ | ۰٪ |
| د کارمندی او کاراوبار اړوند دی | ۴۰٪ | ۱۳٪ | ۳۳٪ | ۸۰٪ |
| داقتصادی حالت د ښه کیدو سبب کیږی | ۲۰٪ | ۱۳٪ | ۱۲٪ | ۰٪ |
| د سوداګری له موضوعګانو سره تړاو لری | ۷٪ | ۱۳٪ | ۱۴٪ | ۲۰٪ |
| د زده کوونکو وړتیاوی ننداری ته وړاندی کوی | ۷٪ | ۰٪ | ۵٪ | ۰٪ |
| د بازار موندنی له ستراتیژیو سره تړاو لری | ۰٪ | ۱۳٪ | ۱۲٪ | ۰٪ |
| ګټه او زیان | ۰٪ | ۱۳٪ | ۰٪ | ۰٪ |
| تولیدات | ۰٪ | ۱۳٪ | ۵٪ | ۰٪ |
| د کوچنیو کاراوباړونو په هکله خبری کوی | ۰٪ | ۰٪ | ۵٪ | ۰٪ |

په داسی حال کی چی ۸۲٪ ځواب ورکوونکو والدینو د تشبث پروګرام په هکله خپل مالومات بیان کړل، اړتیا وه چی د تشبث مضمون په هکله د زده کوونکو د والدینو د مالوماتو سرچینی ترخیرنی لاندی ونیسو. نږدی نیمایی ځواب ورکوونکو والدینو (۴۶٪) د تشبث مضمون په هکله مالومات له خپلو ماشومانو څخه لاسته راوړی ول. دا مسئله د تشبث مضمون د مالوماتو د خپراوی لپاره یوه مهمه وسیله ګڼل کیږی، ځکه چی لیدل کیږی د والدینو او ماشومانو ترمنځ د تشبث مضمون په هکله خبری او د نظر تبادله شوی ده. بل مهم اړخ د ۳۷٪ والدینو نظر وه چی د تشبث مضمون له لوستلو وروسته یی د دی مضمون په هکله خپل نظر څرګند کړی وه. دا مسئله هم د تشبث پروګرام بریالیتوب څرګندوی، ځکه دا ښیی چی زیات شمیر والدین د تشبث مضمون

له لوستلو سره لیوالتیا لري. له دې دوه سرچینو برسېره، پاتې ٪۱۳ ځواب ورکونکي والدینو، د تشبث مضمون په هکله مالومات له نورو سرچینو څخه لاسته راوړي وو، چې دا سرچینې عبارت دي له: د تشبث ښوونکي، د تشبث مضمون اړونده مقالو لوستل، رسنۍ، د تشبث تدریس او د تشبث اړونده سیمینارونو کې برخه اخیستل. د یادونې وړ ده چې پاتې ٪۴ ځواب ورکوونکو والدینو، د تشبث مضمون په هکله مالومات د تجارتي طرحو اړونده ننداړو او سیالیو کې له برخې اخیستو لاسته راوړي ول. له همدې امله، د تشبث ښوونیزه او روزنیزه مؤسسه کولای شي د خلکو په منځ کې د تشبث مضمون د مشهورتیا لپاره له ننداړو څخه کار واخلي. ۱۷۷ ګراف د تشبث پروګرام اړوند د مالوماتو د سرچینو په هکله پوره مالومات ښيي.

۱۷۷ ګراف: د تشبث په هکله د مالوماتو د لاسته راوړلو سرچینې




د مالوماتو د سرچینو پیژندنه د ارزونې د ټیم غړو لپاره په زړه پورې خبره وه. په دې اساس لاسته راغلي مالومات تر لا زیاتې ارزونې لاندې ونیول شول ترڅو د ښارې او کلیوالي سیمو د ځواب ورکوونکو مورګانو او پلرونو د مالوماتو د سرچینو په هکله وپوهیږو. لاسته راغلې پایلې ښيي چې ٪۵۴ ځواب ورکوونکو پلرونو، د تشبث مضمون په هکله مالومات د مضمون له لوستلو وروسته لاسته راوړي ول. په داسې حال کې چې ٪۳۳ پلرونو دا مالومات د خپلو ماشومانو له لارې لاسته راوړي ول. ولې، د ځواب ورکوونکو مورګانو په هکله پایله برعکس لاسته راغلې ده. ٪۵۲ ځواب ورکوونکو مورګانو د تشبث مضمون په هکله مالومات له خپلو ماشومانو لاسته راوړي ول، پداسې حال کې چې ٪۲۸ نورو د دوی د تشبث مضمون له لوستلو وروسته د دې مضمون په هکله مالومات لاسته راوړي ول. د یادونې وړ ده چې رسنۍ هم د تشبث پروګرام په هکله د مالوماتو په خپرلو کې اغیزمنې وې، پدې ډول چې ٪۴ ځواب ورکوونکې مورګانې او پلرونه تونیدلي ول چې د تشبث مضمون په هکله د خپلو مالوماتو کچه د رسنیو له لارې لوړه

کړی. له بله اړخه، ۷٪ ځواب ورکوونکو مورګانو تر یوی کچی د تجارتی طرحو په سیالیو او ننداړو کی په ونډی اخیستو سره د تشبث مضمون په هکله مالومات لاسته راوړی دی. د پام وړ ټکی دا هم دی چی په ښاری او کلیوالی سیمو کی زیاته کچه ځواب ورکوونکو والدینو د تشبث مضمون په هکله مالومات له خپلو ماشومانو لاسته راوړی ول (۴۳٪ په ښاری سیمو او ۵۶٪ په کلیوالی سیمو) کی. د تشبث مضمون لوستل، د ۳۹٪ ښاری والدینو او ۳۱٪ کلیوالی والدینو د دی مضمون په هکله د دوی د مالوماتو د لاسته راوړو سرچینه وه. باید د دی یادونه هم وکړو چی په کلیوالی سیمو کی د تشبث مضمون اړونده مقالی (۶٪ په کلیو) او رسنۍ هم (۶٪ په کلیو) کی د تشبث مضمون اړونده د مالوماتو په خپرلو کی مهمی سرچینی وی. دا په داسی حال کی ده چی په ښاری سیمو کی، د تشبث اړونده مقالی ۰٪ او رسنۍ ۴٪ د تشبث مضمون په هکله د مالوماتو سرچینی وی. د دی خلاف، د تشبث پروګرام اړوند فعالیتونه د والدینو د مالوماتو د لوړلو لپاره په ښاری سیمو کی په پرتله د کلیو ګټور وه. د تشبث له ښوونکو سره خبری (۴٪ په ښاری سیموکی)، د تشبث په سیمینارونو کی برخ اخیستل (۲٪ په ښاری سیمو کی)، د تشبث تدریس (۴٪ په ښاری سیمو کی) او په ننداړو کی برخه اخیستل (۷٪ په ښاری سیمو کی) د مالوماتو سرچینی وی. ولی، هیڅ یو د کلیوالو ځواب ورکوونکو والدینو د تشبث مضمون په هکله خپل مالومات د تشبث پروګرام اړونده فعالیتونو له لاری نه وه لاسته راوړی. ۳ جدول د تشبث مضمون په هکله د والدینو د مالوماتو د لاسته راوړلو سرچینی د جنسیت او ځای په نظر کی نیولو سره روښانه کوی.

۳ جدول: د تشبث مضمون په هکله د والدینو د مالوماتو د لاسته راوړلو سرچینی د جنسیت او ځای په نظر کی نیولو سره

| سرچینه | نارینه | ښځینه | ښاری | کلیوال |
|---|---|---|---|---|
| له خپلو ماشومانو | ۳۳٪ | ۵۲٪ | ۴۳٪ | ۵۶٪ |
| د تشبث لوستل (مطالعه) | ۵۴٪ | ۲۸٪ | ۳۹٪ | ۳۱٪ |
| ټولنی لاری | ۰٪ | ۰٪ | ۰٪ | ۰٪ |
| د تشبث له ښوونکی | ۰٪ | ۴٪ | ۴٪ | ۰٪ |
| د تشبث مضمون اړونده مقالو له لوستلو | ۴٪ | ۰٪ | ۰٪ | ۶٪ |
| ټولنیزی رسنۍ (بی بی سی رادیو) | ۴٪ | ۴٪ | ۴٪ | ۶٪ |
| د تشبث په سیمینار کی له برخی اخیستو | ۴٪ | ۰٪ | ۲٪ | ۰٪ |
| د تشبث مضمون تدریس | ۰٪ | ۴٪ | ۴٪ | ۰٪ |
| په ننداړو کی برخه اخیستنه | ۰٪ | ۷٪ | ۶٪ | ۰٪ |

### ۲,۱۲ د تشبث مضمون په لور د ماشومانو لیوالتیا

د ارزونې ټیم وتوانیده چې د تشبث مضمون لور ته د زده کوونکو د لیوالتیا کچه د لیسو په منځ کې مخکې او وروسته له تدریسه د دوی د نمرو په ارزونې ، د زده کوونکو د حاضرۍ په ارزونې او د تجارتې طرحو په سیالیو کې د دوی د ګډون کچې د ارزونې له لارې روښانه کړي. همدارنګه، په نورو لیسو کې د زده کوونکو لیوالتیا د تشبث مضمون ته هم باید د ارزونې لاندې نیول شوی وای. دې موخې ته د رسیدو لپاره، ځانګړې پوښتنې جوړې شوې. لکه څنګه چې زیات زده کوونکې خپل ډیر وخت په کورونو کې تیروي، د تشبث مضمون لور ته د دوی د لیوالتیا په هکله د مالوماتو د را ټولولو لپاره د دوی له والیدنو څخه مرسته واخستل شوه. له والدینو وپوښتل شول چې آیا د دوی ماشومان په کور کې دننه د تشبث مضمون لولي او که نه، ۹۲٪ والدینو مثبت ځواب ورکړ، په داسې حال کې چې ۸٪ پاتې والدینو منفي ځواب ورکړ. له ۳۵٪ پلرونو چې دې سوال ته یې ځواب ورکړی وه، ۸۹٪ د دوی وویل چې د دوی ماشومان په کورونو کې دننه د تشبث مضمون لولي، ولې ۱۱٪ وویل چې د دوی ماشومان په کورونو کې د تشبث مضمون نه لولي. همدارنګه له ۶۵٪ ځواب ورکوونکو مورګانو، ۹۴٪ د دوی وویل چې د دوی ماشومان په کورونو کې دننه د تشبث مضمون لولي، په داسې حال کې چې ۶٪ پاتې د دوی وویل چې د دوی ماشومان په کورونو کې دننه د تشبث د مضمون له ویلو سره دلچسپي نه لري. د دې برسیره، مخکې هم یادونه وشوه چې ۷۶٪ مرکه شوي والدین هغه کسان ول چې ماشومان یې په ښاري لیسو کې زده کړې کوي او ۲۶٪ نور یې هغه کسان ول چې ماشومان یې د کلي په لیسو کې زده کړې کوي. د ښاري د لیسو زده کوونکو په پرتله د کلیو لیسو د تشبث مضمون سره زیاته لیوالتیا درلوده. داسې چې ۹۵٪ د کلیو د لیسو زده کوونکو او ۹۲٪ د ښاري لیسو زده کوونکو، د تشبث مضمون په کورونو کې لوستلی دی. ۱۷۸ او ۱۷۹ ګرافونه د هغو زده کوونکو سلنه ښیي چې د تشبث مضمون یې په کورونو کې دننه لوستلی دی.

۱۷۸ ګراف: د ځواب ورکوونکو والدینو د ماشومانو لخوا په کورونو کې د تشبث مضمون مطالعه



۱۷۹ ګراف: د جنسیت او ځای په اساس د زده کوونکو لخوا په کورونو کې د تشبث مضمون مطالعه




لکه څرنګه چې وویل شول زیاتو زده کوونکو، له ښوونځي پرته، په کورونو کې دننه هم د تشبث مضمون لوستلی دی، دا اړینه وه چې څرګنده شي چې ولې زده کوونکي لیواله دي چې د تشبث مضمون زیات ولولي. نږدې یو پر دریمه برخه (۳۱٪) ځواب ویونکي والدین په دې باور ول چې د تشبث مضمون هم د ښوونځیو د مضمونونو له ډلې څخه یو مضمون دی نو ځکه د دوی ماشومانو له ښوونځي پرته په کورونو کې هم دا مضمون لولي.

د پام وړ خبره داده چې، لږ تر لږه د ښوونځي فارغانو لوستي والدینو، وویل چې د تشبث مضمون د لیسو د مضامینو څخه یو مضمون دی. د دې برسیره، نږدې یو پر څلورمه برخه (۲۳٪) ځواب ویونکي والدینو باور دلوده چې د تشبث مضمون په ماشومانو کې د ځان بسیاوالي د وړتیا د زیاتیدو سبب کیږي، نو ځکه ماشومان لیواله دي چې د ښوونځي پرته په کورونو کې هم د تشبث مضمون ولولي. ۱۹٪ ځواب ویونکو والدینو "د تجارت په هکله پوهاوی" د تشبث مضمون په لور د ماشومانو د لیوالتیا اصلي لامل وښود. په داسې حال کې چې ۱۱٪ ځواب ویونکي والدینو وویل چې د تشبث مضمون د ماشومانو پام ځانته اړولی دی او دوی د دې مضمون لوستلو لپاره د لا زیات وخت تیرولو ته میلان پیدا کړی. همدارنګه، پاتې ۱۶٪ والدینو لاندې ډول ډول لاملونه د تشبث مضمون لوستلو ته د ماشومانو د لیوالتیا په هکله وړاندې کړل: څه ډول یوه تجارتي طرحه ولیکو (۴٪)، څه ډول عواید ولرو (۶٪)، څه ډول یو نوی تجارت پیل کړو (۵٪) او د ګټو او زیانونو په هکله زده کړه (۱٪). لاندې ۱۸۰ ګراف د تشبث مضمون لوستلو ته د دوی د ماشومانو د لیوالتیا په هکله د والدینو لخوا یاد شوي ډول ډول لاملونه روښانه کوي.

۱۸۰ ګراف: له تشبث مضمون سره د ماشومانو د لیوالتیا لاملونه




د ځواب ورکوونکو د ځای او جنسیت په نظر کې نیولو سره د مالوماتو د لا زیاتو څیړلو وروسته ، څرګنده شوه چې د پلرونو او مورګانو ترمنځ په درې ډیرو مهمو نظرونو کې اختلاف موجود دی. ٪۳۵ پلرونو دا باور درلوده چې د تشبث مضمون یو د ښوونځی د مضامینو له ډلې څخه دی او باید د دوی ماشومان دا مضمون په کور کې هم ولولي. له بله اړخه، ٪۲۲ والدینو وویل چې د دوی ماشومان غواړي د کاراوبار په هکله مالومات لاسته راوړي. ٪۱۳ د دوی وویل چې د تشبث مضمون د دوی ماشومانو ته د ځان بسیاوالی وده ورکوی نو ځکه د دوی ماشومان دا مضمون لولي. د ٪۳۰ مورګانو نظر د ٪۳۵ پلرونو له نظر سره ورته وه هغه داسی چې (د دوی ماشومان په کورونو کې د تشبث مضمون له دی امله لولي چې دا د لیسو له مضمونونو څخه یو مضمون دی). ولی، ٪۲۶ مورګانو دی نظر ته زیات اهمیت ورکړ چې "د تشبث مضمون ماشومان د ځان بسیاوالی لور ته بیایي" نو له دی امله د دوی ماشومان دا مضمون په کورونو کې په لیوالتیا سره لولي. ښارمیشتو میندو د خپلو ماشومانو لیوالتیا د تشبث مضمون د لوستلو لپاره داسی توضیح کړه چې دا "د لیسو له مضمونونو څخه یو مضمون دی" (٪۳۵)، "تشبث د ځان بسیاوالی لامل کیږی" (٪۲۷)، " له تشبث څخه د تجارت په زده کړه کی کار اخیستل کیږی" (٪۱۷). له بل لوری، ٪۲۵، ٪۱۹ او٪۱۳ دکلیو میشتو والدینو په ترتیب سره په لاندی ټکو باور درلوده " تشبث د تجارت په هکله زده کړی ورکوی " ، "تشبث د لیسو له مضمونونو یو مضمون دی" او "د تشبث مضمون د ماشومانو پام ځانته اړولی دی". په دی اساس، د پلرونو او مورګانو نظر په کور کی د تشبث مضمون د لوستلو اړوند په کلیو او ښارو کی ټولیز یا عمومی وه. ۱۸۱ ګراف د ماشومانو لیوالتیا د تشبث مضمون لوستلو لپاره د والدینو له نظره په ښاری او کلیوالو سیمو کی څرګندوی.

۱۸۱ ګراف: له تشبث مضمون سره د ماشومانو د لیوالتیا لاملونه (د والدینو نظر)



### ۲،۱۲،۱ تشبث مضمون ټولنيزی-اقتصادی اغيزی (د والدينو په نظر)

لکه څرنګه چې پورته يادونه وشوه، د تشبث مضمون د تدريس له موخو څخه يوه موخه زده کوونکو ته د تجارت د اصولو زده کړه وه چې په پايله کې د دوی په ځان بسياوالی سبب کيږی. برسيره پردی، دا څرګنده ده که چيری زده کوونکی کاراوبار پيل کړی او په ځان بسيا شی، نو په ډاډه توګه ويلی شو چې دا به د دوی ټولنيز او اقتصادی ژوند تر اغيزی لاندی راولی او د دوی په شخصيت کی به مثبت بدلون منځ ته راوړی. نو په دی اساس، له ټولو ځواب ورکوونکو زده کوونکو څخه پوښتنه وشوه چې آيا د تشبث مضمون د زده کوونکو په ټولنيز او اقتصادی ژوند کی اغيزی لرلی او که نه. لکه څرنګه چې ثمه کيده، ٪۹۶ والدينو دی پوښتنی ته مثبت ځواب ورکړ. ٪۴ والدينو چې منفی ځواب ورکړی وه د هغو والدينو له ډلی څخه ول چې د تشبث مضمون په هکله يی مالومات نه درلودل. ۱۸۲ ګراف د هغو والدينو سلنه ښيی چې د زده کوونکو په ټولنيز او اقتصادی ژوند کی د تشبث مضمون له مثبتو اغيزو سره همغږی ول.

۱۸۲ ګراف: د ماشومانو په ژوند د تشبث مضمون ټولنيزی-اقتصادی اغيزی (د والدينو نظر)




دا خبره هم بايد په نظر کی ونيسو چې ٪۹۶ ځواب ويونکو پلرونو او مورګانو وويل چې د تشبث مضمون د دوی د ماشومانو په ټولنيز او اقتصادی ژوند مثبتی اغيزی لرلی دی. ولی، د ځواب ورکوونکو د ځای په پام کی نيولو سره، څرګنده شوه چې د کليو ټولو ځواب ويونکو والدينو او ٪۹۵ د ښاری سيمو والدينو د ماشومانو په ټولنيز او اقتصادی ژوند کی د تشبث مضمون له مثبتو اغيزو سره همغږی درلوده. له بله اړخه، په ښاری سيمو کی زياتو مورګانو (٪۹۵) په پرتله د پلرونو (٪۹۴) په خپلو ماشومانو د تشبث مضمون ټولنيزی او اقتصادی اغيزی مثبتی وګڼلی. په کليو کی، ټول والدينو (٪۱۰۰ پلرونو او ٪۱۰۰ مورګانو) د تشبث مضمون په اقتصادی او ټولنيزو اغيزو خبری وکړلی. ۱۸۳ ګراف د تشبث مضمون له ټولنيزو او اقتصادی اغيزو سره د والدينو توافق په ښاری او کليوالو سيمو کی ښيی.

۱۸۳ ګراف: د تشبث مضمون له تولنیزو او اقتصادي اغیزو سره د والدینو توافق په ښاري او کلیوالو سیمو کې




### ۲,۱۲,۲ تشبث او تجارت یا کار موندنه

د ارزونې په اوږدو کې دې نتیجې ته ورسیدو چې د تجارت پیل، ودې او یا د دوامداره دندې موندنې لپاره د تشبث پروګرام ګټور دی. له دې امله، د تشبث ښوونیزې او روزنیزې مؤسسې و غوښتل چې په دې اړه کوښښونه او ارزونه تر سره کړي، چې آیا والدینو او د هغوی اولادونو د تشبث زده کړې په خپل کاراوبار کې استفاده کړې ده اویا به یې په راتلونکې کې وکړي. له همدې امله، له ټولو والدینو څخه وپوښتل شول چې آیا تراوسه یې کوم تجارت پیل کړی دی او که نه. په پایله کې، ٪۵۵ والدینو یو کاراوبار مخ ته وړی وه، په داسې حال کې چې پاتې ٪۴۵ د دوی کوم کاراوبار یا تجارت باندې بوخت نه ول. د تمې سره سم، دوه برابره (٪۸۱ ) په شاوخوا کې ځواب ورکوونکو پلرونو د ځواب ورکوونکو مورګانو په پرتله (٪۴۱) عملا تجارت پرمخ وړ. د پام وړ ټکې په کې دا وه، چې (٪۷۹) هغو والدینو چې په کلیو کې یې ژوند کاوه د (٪۴۷) په پرتله چې ښار میشتې ول تجارت د یوې دندې په توګه په مخ ووړ. له همد امله، ویلې شو چې زیات شمیر والدین (٪۹۱ پلرونه او ٪۶۳ مورګانې) په کلیوالي سیمو کې په پرتله د ښاري سیمو (٪۷۵ پلرونه او ٪۳۷ مورګانې) په تجارت بوخت ول. ، ۱۸۴او ۱۸۵ ګرافونه د والدینو له تجارت سره د تړاوځرنګوالي ښيي.

۱۸٤ ګراف: آیا والدینو کوم کاراوبار مخته وړی دی؟




۱۸۵ ګراف: په کاراو بار کی بوختو نارینه او ښځینه والدینو سلنه او په ښاری او کلیوالی سیمو کی په کار بوختو والدینو سلنه



۱۸٦ ګراف: په کار او بار کې د والدینو برخه اخیستنه




همدارنګه د ارزونې ټیم غوښتل چې پوه شي چې آیا دوی د تشبث له مهارتونو او زده کړو څخه په خپل کاراوبار کې ګټه اخیستې ده او که نه. له همدې امله، له هغو والدینو څخه چې په تجارت کې مشغول ول په دې هکله پوښتنه وشوه. ٪۶۴ والدینو مثبت ځواب ورکړ، په داسې حال کې چې پاتې ٪۳۶ د دوی منفي ځواب ورکړ. ډېره سلنه ځواب ورکوونکو مورګانو (٪۷۵) په پرتله د (٪۳۳) پلرونو د تشبث مضمون څخه په خپل کار او تجارت کې ګټه پورته کړې وه؛ او زیاته سلنه ښار میشتو والدینو (٪۶۸) په پرتله د کلیوالو والدینو (٪۳۳) د تشبث مضمون څخه په خپل تجارت کې ګټه پورته کړې وه. د دې برسیره، د خلکو جنسیت او ځای په نظر کې نیولو سره، دا معلومه شوه چې زیات شمیر مورګانې (ښار میشتې مورګانې ٪۷۳ او کلیو میشتو ٪۱۰۰) په پرتله د پلرونو (ښارمیشتي پلرونو ٪۵ او کلي میشتي ٪۰) د تشبث له زده کړو او مهارتونو څخه ګټه پورته کړې وه. ۱۸۷ او ۱۸۸ ګرافونه د دې خلکو د تشبث له مضمون څخه په خپل تجارت کې ګټه اخیستنه ښیې.

۱۸۷ ګراف: په کاراوبار کې د تشبث له زده کړو او مهارتونو څخه ګټه اخیستنه



۱۸۸ ګراف: په کاراوبار کې د تشبث له زده کړو او مهارتونو څخه کټه اخیستنه د ځای او جنسیت په اساس




هغو والدینو چې د تشبث له زده کړو څخه یې په خپل تجارت کې کټه اخیستې وه، د دوی د تجارت په ودې کې د تشبث د رول په هکله پوښتنه وشوه. ډیری ځواب ورکوونکی (۷۰٪) په دې آند ول چې د تشبث زده کړو څخه ګټې اخیستنې د دوی د کار بریالیتوب ته وده ورکړې ده. ۲۰٪ والدینو وویل چې د تشبث مضمون لاربښوونو د دوی تجارت ته د بریالیتوب په لور، انګیزه ورکوونکی رول لوبولی دی. همدارنګه، ۱۰٪ پاتې والدینو تینګار وکړ چې د تشبث له مضمون څخه په ګټې اخیستنې توانیدلي چې خپل تجارت ته پانګې جذب کړي. په نڅوړ ډول، د والدینو له باور سره سم، که چیری د تشبث مضمون له زده کړو څخه په سمه توګه ګټه واخیستل شي، نو د تجارت د بریالیتوب، زیاتې ګټې او پراختیا سبب کیږي. ۵۷٪ ځواب ویونکو پلرونو د تشبث له زده کړو څخه په ګټې اخیستو یو بریالي تجارت ته لاسرسي موندلي وه. ۲۹٪ پلرونو د پانګې د راجذبولو په هکله خبري وکړي. او د ۱۴٪ پلرونو لپاره د تشبث مضمون د دوی په تجارت کې د انګیزې د رامنځ ته کیدو سبب شوی وه. برعکس، نږدې دری له څلورو برخو څخه (۷۷٪) مورګانو چې په دې ارزونې کې یې برخه اخیستې وه وویل چې د تشبث له زده کړو څخه په ګټه اخیستو تری بریالي سوداګری جوړی شوی دی؛ ولی پاتې ۲۳٪ مورګانو د تشبث له زده کړو څخه د خپل تجارت لپاره انګیزه اخیستې وه. له بله اړخه، دری لوړ ځوابونه د ښارمیشتو او کلی میشتو ځواب ویونکو والدینو ترمنځ سره ورته ول؛ ۹۶٪ ښارمیشتی والدین او ۷۵٪ کلیوال والدین په دی باور ول چې د دوی بریالیتوب د تشبث له زده کړو سره تړاوو لری. د تشبث مضمون د ۱۹٪ ښارمیشتو او ۲۵٪ کلیوالو والدینو لپاره په تجارت کې د انګیزې د رامنځ ته کیدو سبب شوی دی. ولی، یواځی ۱۳٪ ښار میشتی والدین په دی توانیدلي ول چې خپل تجارت ته پانګه ومومی، په داسی حال کی چې په کلیو کی دا سلنه ۰٪ وه. ۱۸۹ او ۱۹۰ ګرافونه د تشبث مضمون رول په تجارت کی څرګندوی.

۱۸۹ ګراف: د کاراوبار پر مخ وړلو کی د تشبث رول




۱۹۰ ګراف: په کاراوبار کی د تشبث مضمون له زده کړو څخه د ګټی اخیستنی اهمیت




د تشبث مضمون په هکله د والدینو د ځوابونو له لاسته راوړلو وروسته، د ارزونی د ټیم غړو وغوښتل ترڅو د والدینو د نظر د یوالی کچه د ارزونی د دی پوښتنی پر وړاندی لاسته راوړی چی آیا د دوی ماشومان د تشبث د زده کړو څخه په ګټه اخیستو پدی توانیدلی چی یو کار پیل او یا پراختیا ورکړی. له همدی امله، له ټولو ځواب ویونکو والدینو څخه پوښتنه وشوه چی آیا د تشبث ټولګیو زده کړی به د دوی له ماشومانو سره مرسته وکړی ترڅو یو کاراوبار پیل اویا هم پراختیا ورکړی او که نه. د تشبث مضمون اهمیت ته په کتو، نهه له لسو برخو (۹۳٪) ځواب ورکوونکو په ډاده توګه وویل چی د دوی ماشومان په آسانه توګه کولی شی یو کاراوبار پیل او یا

هم ورته پراختیا ورکړی. ۷٪ هغه والدینو چې د دی مضمون په اړه یی مالومات نه درلودل، په دی باور ول چې دا مضمون به د دوی له ماشومانو سره د یو کاراوبار په پیل کولو او یا پراختیا کی مرسته ونکړی. همدارنګه ښکاره شوه چې زیات شمیر ځواب ویونکی پلرونو (۹۴٪) په پرتله د (۹۲٪) مورګانو په دی باور ول چې د تشبث مضمون د دوی سره د کاراوبار په پیل او یا هم پراختیا کی مرسته کولای شی. برعکس، ټول کلیوال والدین (۱۰۰٪) په پرتله د ښار میشتو والدینو (۹۱٪) په دی باور ول چې د دوی ماشومان کولی شی په آسانی سره د تشبث پروګرام د زده کړو په مرسته یو کاراوبار پیل او یا هم پراختیا ورکړی. برسیره پردی، څرګنده شوه چې د کلیو میشتو والدین (۱۰۰٪ پلرونه او ۱۰۰ مورګانی) په پرتله د ښار میشتو (۹۳٪ پلرونه او ۹۱٪ مورګانی) په دی باور ول چې د دوی ماشومان به د تشبث مضمون په مرسته وکولای شی یو کاراوبار پیل او یا هم ورته پراختیا ورکړی. ۱۹۱ او ۱۹۲ ګرافونه د یو کاراوبار د پیل او یا هم د یو کاراوبار د پراختیا په هکله د والدینو نظر څرګندوی.

۱۹۱ ګراف: هغه ماشومان چې توانیدلی دی یو کاراوبار پیل او پراختیا ورکړی (د والدینو نظر)



۱۹۲ ګراف: د یو کاراوبار په پیلولو او یا پراختیا ورکولو کی د زده کوونکو د وړتیاوو په اړه د والدینو نظر




کله چی یو کاراوبار پیل یا پراختیا مومی، نو د بریالیتوب او د اغیزمنتیا کچه یی هم باید تر ارزونی لاندی ونیول شی. له همدی امله، له هغو ځواب ویونکو والدینو څخه چی باور یی درلوده چی د دوی ماشومان به د تشبث مضمون په مرسته وکولای شی یو کاراوبار پیل او یا هم ورته پراختیا ورکړی، د دوی د ماشومانو د کاراوبار د بریالیتوب په هکله پوښتنه وشوه. لکه څرنګه چی تمه کیده، له نیمایی څخه زیات ځواب ویونکی والدین (۵۲٪) په دی باور ول که چیری یو کاراوبار د تشبث د مضمون په اساس پیل شی نو ډیر به بریالی وی. له بله اړخه، ۳۹٪ ځواب ویونکو والدینو وویل چی په نسبی توګه به یو کاراوبار بریالی وی او ۸٪ پاتی والدین په دی آند ول که چیری د تشبث د زده کړو څخه په ګټی اخیستنی یو کاراوبار پیل او یا هم پراختیا ومومی د دوی د ماشومانو له کمی تجربی سره سره به هم ښایی څه ناڅه بریالی شی. له نیکه مرغه، هیڅ یو د ځواب ورکوونکو والدینو د هغه کاراوبار د ناکامی په هکله خبری ونکړی چی د تشبث د زده کړو څخه په ګټه اخیستو پیل شوی وی. ۱۹۳ ګراف د هغو کاراوبارو د بریالیتوب د سلنی کچه ښیی چی د تشبث د زده کړو څخه په ګټه اخیستو پیل او یا یی پراختیا موندلی وی.

۱۹۳ ګراف: د تشبث د زده کړو په اساس د يو کار د پيل او يا پراختيا ورکولو د برياليتوب کچه (د والدينو په نظر)




دا وروسته مالومه شوه چې زيات شمير مورګانی (٪۵۵) په پرتله د پلرونو (٪۴۶) د تجارت د برياليتوب څخه په زياته کچه ډاډه ول. ولی، زيات شمير پلرونه (٪۵۰) د مورګانو په پرتله (٪۳۴) په دی باور ول چې په نسبی توګه به تجارت بريالی وی. د دی برسيره، ٪۱۱ مورګانو دا وويل چې تجارت به لږ څه بريالی شي، په داسی حال کی چې لږ شمير(٪۴) پلرونو ورته نظر درلود. ٪۴۷ کليوال والدين پدی باور ول چې کاراوبار کولی شی زيات بريالی شي، ٪۴۲ د دوی فکر کاوه چې کاراوبار به په نسبی توګه بريالی وی او ٪۱۱ د دوی فکر کاوه چې کاراوبار به لږ څه بريالی شی. په همدی توګه ٪۵۴ ښار ميشتو والدينو دا باور درلوده چې کاراوبار کولی شی زيات بريالی وی، په داسی حال کی چې ٪۳۸ ښارميشتو والدينو د کاراوبار په نسبی بريالی توب فکر کاوه او ٪۸ د دوی پدی باور ول چې تجارتونه به لږ بريالی وی. وروسته له ژوری څيرنی مالومه شوه چې، زيات شمير ښارميشتو پلرونو (٪۴۶) په پرتله د کلی مشيتو پلرونو (٪۴۵) د کاراوبار په برياليتوب باوری ول. ولی زيات شمير کليوال پلرونه (٪۵۵) په پرتله د ښارميشتو پلرونو (٪۴۶) باور درلوده چې کاراوبار به په نسبی توګه بريالی وی.  ولی يوائې ٪۸ ښار ميشتو پلرونو دا فکر کاوه چې کاراوبار کولای شی لږ بريالی شی. ځواب ورکوونکو مورګانو (ښارميشتی ٪۵۶، کلی ميشتی ٪۵۰) په دی باور درلوده چې کاراوبار د تشبث د پروګرام د سپارښتنو په مرسته زيات بريالی کيدای شی. ٪۳۶ ښار ميشتو مورګانو او ٪۲۵ کلی مشيتو مورګانو دا باور درلوده چې کاراوبار به لږ بريالی شی. ولی د کليوالو سيمو زيات شمير مورګانو (٪۲۵) په پرتله د ښار ميشتو مورګانو (٪۸) دا فکر کاوه چې کاراوبار به لږ بريالی وی. ۴، ۵ او ۶ جدولونه د تشبث مضمون د زده کړو په اساس د تجارت د برياليتوب کچه ښيی.

۴ جدول: د تشبث د زده کړو څخه په ګټې اخیستو د کاراوبار د پیل او یا پراختیا د بریالیتوب کچه (د والدینو په نظر)

| د بریالیتوب کچه | سړی | ښځې |
|---|---|---|
| بریالی نه ول | ۰٪ | ۰٪ |
| تریوی کچې بریالی ول | ۴٪ | ۱۱٪ |
| په منځنی کچه بریالی ول | ۵۰٪ | ۳۴٪ |
| زیات بریالی ول | ۴۶٪ | ۵۵٪ |

۵ جدول: د تشبث د زده کړو څخه په ګټې اخیستو د کاراوبار د پیل او یا پراختیا د بریالیتوب کچه (د والدینو په نظر)

| د بریالیتوب کچه | ښاری | کلیوال |
|---|---|---|
| بریالی نه ول | ۰٪ | ۰٪ |
| تریوی کچې بریالی ول | ۸٪ | ۱۱٪ |
| په منځنی کچه بریالی ول | ۳۸٪ | ۴۲٪ |
| زیات بریالی ول | ۵۴٪ | ۴۷٪ |

۶ جدول: د تشبث له زده کړو څخه په ګټې اخیستو د کاراوبار د پیل او یا پراختیا د بریالیتوب کچه (د والدینو په نظر)

| د بریالیتوب کچه | نارینه | | ښځینه | |
|---|---|---|---|---|
| | ښاری | کلیوال | ښاری | کلیوال |
| بریالی نه ول | ۰٪ | ۰٪ | ۰٪ | ۰٪ |
| تریوی کچې بریالی ول | ۸٪ | ۰٪ | ۸٪ | ۲۵٪ |
| په منځنی کچه بریالی ول | ۴۶٪ | ۴۵٪ | ۳۶٪ | ۲۵٪ |
| زیات بریالی ول | ۴۶٪ | ۵۵٪ | ۵۶٪ | ۵۰٪ |

وروسته له والدینو دا پوښتنه وشوه چې څرنګه د تشبث پروګرام د دوی د کاراوبار د بریالیتوب سبب شوی دی. دا باید وویل شي چې د دوی ځوابونه د پورته ذکر شوو څلورو واړو د بریالیتوب کچو لپاره په دی ډول دی. نږدی شپږ پر لسو (۵۸٪) ځواب ویونکو والدینو دا باور درلوده چې د تشبث پروګرام کاراوبار یو سم لوری ته بیایی. له همدی امله د کاراوبار د بریالیتوب چانس هم لوړیږی. ولی، دوهم لوی ځواب د هغو والدینو وه چې باور یی داوه چې کاراوبار په نسبی توګه او یا هم لږ بریالی کیدای شی. ځکه چې ۱۳٪ ځواب ورکوونکو والدینو د خپلو اولادونو په کم تجربګی ټینګار درلوده. په پایله کی دا روښانه شوه چې د تشبث مضمون د کاراوبار د لږ بریالیتوب لامل نه بلکی د ماشومانو کمه تجربه د کاراوبار په مدیریت کی د لږ بریالیتوب سبب کیږی. همدارنګه، ۱۲٪ د ځواب ویونکو والدینو کوچنی کاراوبار ته د خپلو ماشومانو د لیوالتیا څخه یادونه وکړه. دا د دی ښکارندویی کوی چې که چیری د تشبث پروګرام لخوا کوچنی کاراوبارونه مخ ته یو وړل شی او یا هم پراختیا ورکړل شی، ډیر به بریالی وی. راټول شوی مالومات تر ژوری څیړنی لاندی ونیول شول، او مالومه شوه چې زیات شمیر مورګانی (۶۲٪) په پرتله د پلرونو (۵۷٪) په دی باور ول چې د تشبث پروګرام د یوکار په سمی لار ښوونی کی اغیزمن دی. ولی، ۱۳٪ پلرونه په دی باور ول چې د تشبث مضمون د دوی د کاراوبار د کټی د زیاتوالی لامل شوی دی، په داسی حال کی چې لږ مورګانی (۴٪) له دی خبری سره همغږی وی. همدارنګه، ۱۳٪ پلرونه په دی باور ول چې د تشبث مضمون څخه د تجارت د اصولو په هکله د دوی د ماشومانو پوهاوی د کاراوبار د بریالیتوب سبب شوی دی، ولی یوائی ۴٪ مورګانو دا نظر درلوده. له بله اړخه، "د ماشومانو لږه تجربه" دوهم زیات نظر وه چې (۱۶٪) ځواب ویونکی مورګانی او یوائی ۷٪ ځواب ویونکی پلرونه پدی نظر ول.

له بله اړخه، ۱۳٪ مورګانی په دی باور وی چې ماشومان به یی د تشبث د پروګرام په مرسته وتوانیږی ترڅو یو بریالی کوچنی کاراوبار پیل او یا هم وده ورکړی؛ ولی (۷٪) پلرونه له دی نظر سره همغږی ول. کله چې د اوسیدو د سیمو له اړخه ځواب ویونکی د څیړنی لاندی ونیول شول، مالومه شوه چې ۵۷٪ ښارمیشتی والدین او ۶۲٪ کلی میشت په دی باور ول چې د تشبث مضمون د زده کړو په اساس به کاراوبار سم لوری ته مخه کړی. ولی، ۱۷٪ والدینو د دی پرځای چې د کاراوبار په بریالیتوب کی د تشبث پروګرام په اغیزو خبری وکړی، د خپلو ماشومانو په دی برخه کی له لږی تجربی څخه یادونه وکړه. ۱۳٪ ښار میشتو والدینو د کوچنی کاراوبار د بریالیتوب په اړه فکر کاوه. خلاف د دی، ۱۵٪ د کلیو والدینو په کاراوبار کی د خپلو ماشومانو بریالیتوب د دوی د زده کړی کچی له لوړوالی سره تړاو ورکړ. دا خبره د تشبث پروګرام له مرستی پرته شونی نه وه. همدارنګه، یوائی ۸٪ کلی میشتو والدینو د تشبث پروګرام اهمیت ته له کوچنی کاراوبار سره تړاو ورکړ. ۱۹۴ ګراف او ۷ جدول د تشبث مضمون په مرسته د کاراوبار د پیل او یا پراختیا د لاملونو په هکله پوره مالومات وړاندی کوی.

۱۹٤ ګراف: د تشبث د زده کړو په اساس د یو کاراوبار د پیل او یا پراختیا د بریالیتوب لاملونه




۷ جدول: د تشبث د زده کړو په مرسته د کاراوبار د پیل او یا پراختیا د بریالیتوب لاملونه

(د والدینو په نظر)

| لاملونه | جنسیت | | ځای | | نارینه | | ښځینه | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| | نارینه | ښځینه | ښاری | کلیوال | ښاری | کلیوال | ښاری | کلیوال |
| زیات عواید لاس ته راوړل | ۱۳٪ | ۴٪ | ۶٪ | ۸٪ | ۱۴٪ | ۱۳٪ | ۵٪ | ۰٪ |
| د زده کوونکو لړه تجربه | ۷٪ | ۱۶٪ | ۱۷٪ | ۰٪ | ۱۴٪ | ۰٪ | ۱۸٪ | ۰٪ |
| د تشبث مضمون د زده کړو په مرسته کاراوبار سم لوری ته بوول کیږی | ۵۳٪ | ۶۰٪ | ۵۷٪ | ۶۲٪ | ۵۷٪ | ۵۰٪ | ۵۸٪ | ۸۰٪ |
| د تجارت د اصولو زده کړی | ۱۳٪ | ۴٪ | ۴٪ | ۱۵٪ | ۰٪ | ۲۵٪ | ۵٪ | ۰٪ |
| مالی ملاتړ هم یوه اړتیا ده | ۷٪ | ۲٪ | ۲٪ | ۸٪ | ۰٪ | ۱۳٪ | ۳٪ | ۰٪ |
| زده کوونکی د یو کوچنی کاراوبار له پیلولو سره لیوالتیا لری | ۷٪ | ۱۳٪ | ۱۳٪ | ۸٪ | ۱۴٪ | ۰٪ | ۱۳٪ | ۲۰٪ |

د کاراوبار له موضوع نه پرته، د تشبث ښوونیزی او روزنیزی مؤسسی و غوښتل چې د تشبث پروګرام اغیزی د زده کوونکو د دندو د خوندیتوب له اړخه هم تر څیړنی لاندی ونیسی. له همدی امله، له ټولو ځواب ویونکو والدینو پوښتنه وشوه چې آیا د تشبث پروګرام د دوی ماشومانو ته د دندو په موندلو کی ګټور دی او که نه. د ټولو ځواب ویونکو والدینو، ٪۹۱ د دوی ماشومانو ته په کارموندلو کی د تشبث پروګرام له اغیزو سره همغږی ول، یواځی ٪۹ ځواب ویونکو والدینو مخالف نظر درلوده. کله چې مالومات ښه وڅیړل شول، مالومه شوه چې زیاته سلنه ځواب ویونکی مورګانی (٪۹۴) په پرتله د (٪۸۵) ځواب ویونکو پلرونو د دوی ماشومانو ته په کار موندنه کی د تشبث پروګرام له اغیزو سره همغږی درلوده. له بله اړخه، زیات شمیر ښار میشتی والدین (٪۹۲) او همدارنګه (٪۸۹) کلی میشت والدین دا روښانه خبره منی چې د تشبث مضمون د دوی ماشومانو ته په کارموندنه کی ګټور دی. کله چې د اوسیدو د سیمو له اړخه ځواب ویونکی تر څیړنی لاندی ونیول شول، مالومه شوه چې (٪۹۱) کلی میشتو او (٪۸۱) ښار میشتو پلرونو د دوی ماشومانو ته په کار موندنه کی د تشبث پروګرام د اغیزو په هکله باوری ول. له بل لوری ٪۹۵ ښارمیشتو مورګانو په پرتله د ٪۸۸ کلیو میشتو مورګانو دا باور درلوده چې د دوی ماشومان به د تشبث پروګرام په مرسته د دندی په موندلو وتوانیږی. ۱۹۵ او ۱۹۶ ګرافونه د ماشومانو په کار موندنه کی د تشبث پروګرام د اغیزو په هکله د والدینو د همغږی ټولیز انځور ښیی.

۱۹۵ ګراف: د تشبث د زده کړو په مرسته د ځواب ورکوونکو والدینو د ماشومانو د کار خوندیتوب




۱۹۶ ګراف: د تشبث د زده کړو په مرسته د دندی خوندیتوب (د والدینو په نظر)



وروسته بیا له والدینو ښځه د دوی د ماشومانو د کاری خوندیتوب د لاملونو په هکله چی د تشبث پروګرام په مرسته یی لاسته راوړی، پوښتنه وشوه. له نیمایی ښځه ډیرو (٪۵۳) ځواب ویونکی والدین په دی نظر ول چی د تشبث پروګرام د کار موندنی د اصولو په هکله د دوی د ماشومانو ذهنونه خلاصوی. له همدی امله، د دوی ماشومان به دکار موندنی په هکله د خپلو زده کړو په لوړلو سره، وتوانیږی د دندو وړاندیزونه ومومی. دوهم زیات شمیر ځواب ویونکی والدین (٪۱۸) په دی نظر ول چی د تشبث پروګرام د دوی په ماشومانو کی د کاراوبار یا تجارت فکرونه منځته راوړی او دوی کولی شی له خپل توان سره سم د ډول ډول کارونو او تجارتونو له منځه خپل ځان ته یو مناسب کاراوبار غوره کړی. برسیره پردی، ٪۱۲ ځواب ویونکو والدینو زیاته کړه چی د تشبث پروګرام د دوی ماشومانو ته د کار موندنی انګیزه ورکوی، اود انګیزی له لاسته راوړلو وروسته به دوی په پوره توګه په دی وتوانیږی چی ځانته یو خوندی کار پیدا کړی. همدا ډول، ٪۱۰ ځواب ویونکو والدینو د کوچنی پانګی په مرسته د کاراوبار د پیلولو په هکله یادونه وکړه. دوی روښانه کړه چی د تشبث پروګرام د دوی ماشومانو ته انګیزه ورکړی ترڅو د لږی پانګی په درلودلو سره یو کاراوبار پیل او ورته وده ورکړی. پاتی ٪۸ ځواب ویونکو والدینو د کار د خوندیتوب اړوند د تشبث د پروګرام د اهمیت په هکله مختلف نظرونه درلودل. ۱۹۷ ګراف د کار د خوندیتوب اړوند د تشبث د پروګرام د اهمیت په هکله مختلف نظرونه وړاندی کوی.

۱۹۷ ګراف: د دندی په خوندیتوب کی د تشبث د اهمیت لاملونه



# ۳ درییم څپرکی: پایلې او وړاندیزونه

## ۳،۱ پایلې

أ. د تشبث ښوونیزه او روزنیزه مؤسسه په دی توانیدلی ده چی د زده کوونکو د اقتصادی پیاوړتیا د لیدلوری په پام کی نیولو سره داسی یو بنسټ (پلټفورم) منځ ته راوړی چی زیاته کچه زده کوونکی د دی په مرسته توانیدلی دی چی د تشبث مضمون د زده کړو څخه په ګټې اخیستو خپل کاراوبار ته وده ورکړی او یا هم خپلی دندی خوندی کړی.

ب. د تشبث پروګرام د نجونو د ښکیلتیا په وړاندې په کورنی ارزښتونو او پریکړو کې د خنډونو سره د مبارزې په برخه کې هم بریالي وو ځکه چې د تشبث ښوونیزه او روزنیزه مؤسسه توانیدلي چې زده کونکي په اقتصادي توګه پیاوړي کړی.

ت. د تشبث ښوونیزی او روزنیزی مؤسسی د زده کوونکو د جنسیت په پام کی نیولو پرته د کلیو او ښارونو زده کوونکو ته یو ډول د زده کړو فرصتونه چمتو کړی دی. د تشبث پروګرام اهمیت د ښاری سیمو په پرتله په کلیوالی سیمو کی ډیر د پام وړ وه او دی مضمون د کلیوالی سیمو د زده کوونکو په خپل ځان بسیاوالی کی مهم رول لوبولی.

ث. د تشبث پروګرام له زیات شمیر زده کوونکو سره د دوی په کاراوبار کی مرسته کړی. چی په پایله کی یی دوی توانیدلی چی خپله سوداګری په یو کټور کاراوبار بدله کړی. چی دی کړنی په خپل وار سره په کورنیو او ټولنه اغیزی کړی دی، ځکه چې دی کاری فرصتونو ډیری ځوانان د ټولنیزو ناوړه کارونو څخه منع کړي دی.

ج. د تشبث مضمون موضوعګانې په ډیر غور سره غوره شوی، له همدی کبله زیاتو زده کوونکو د خپل کاراوبار د پیاوړتیا او کارموندنی په برخو کی د دی مضمون د اهمیت په اړه یادونه کړی ده. برسیره پر دې، دا موضوعګانی د زده کونکو د ورځني ژوند او د زده کوونکو ټولنیزو اړخونو سره اړیکه لري.

ح. زده کونکي په عملي توګه د سوداګری وړاندیزونو او نندارو له لارې د سوداګری لپاره هڅول شوي. ډیری زده کوونکو دا لیوالتیا وښوده چی خپل تولید له خپلو کورونو څخه دباندی پیرودونکو ته وښایی. په دی ننداړو کی ډیر شمیر زده کوونکو برخه اخیستی وه چی دا د دوی د سوداګری وړتیاوو د ودی په برخه کی د پروسې اهمیت څرګندوي.

خ. د ارزونی تر هدف لاندی ټولو ګروپونه په پوهنی وزارت په ملي نصاب کی د تشبث د مضمون د شاملولو غوښتنه کړې ده.

د. د تشبث ښوونیزی او روزنیزی مؤسسی د کلونو تجربه لرونکو ښوونکو په وسیله د دی مضمون تدریس پر مخ وړی ده.

ذ. د ټیټو ټولګیو زده کوونکو د تشبث د مضمون په هکله له خپلو ښوونکو پوښتنې کړې دي. دا د پروګرام د دوام لپاره ډېره مهمه ده چې د ټیټو ټولګیو زده کوونکي به په ډېره لیوالتیا سره د تشبث مضمون ولولي.

ر. نږدې ټول زده کوونکي د تشبث مضمون له اهمیت څخه خبر ول. دا خبره د تشبث پروګرام لپاره خورا مهمه ده، د دې لپاره چې دا زده کوونکي به په راتلونکې کې د تشبث ښوونیزې او روزنیزې مؤسسې موخو ته په رسیدو کې د تشبث له زده کړو څخه کټه پور ته کړي.

ز. د تشبث مضمون ښوونکو له دې پروګرام څخه خپل ملاتړ څرګند کړ، او د دې مضمون په هکله یې زیات مالومات له نورو سره شریک کړي. برسیره پر دې، دوی د دې مضمون په ښوونیز نصاب کې له شاملیدو سره هم خپله همغږي وښوده.

س. د یادونې وړ ده چې د ټولو لیسو د ادارو مسؤلین له تشبث مضمون او د هغه له اهمیت څخه خبر ول. دا خبره د تشبث پروکرام د مدیریت له بریالیتوب سره تړاوو لري، او پدې سره به د پروګرام پلې کول په آسانۍ سره تر سره شي.

ش. نږدې د ټولو لیسو ادارو د تشبث مضمون د تدریس لیدنه کړې ده. دا خبره د پروګرام د اهمیت ښکارندویي کوي، آن تردې چې د تشبث ښونیزې او روزنیزې مؤسسې د کارکوونکو د نه شتون په صورت کې هره ورځ د لیسو د ادارو مسؤلینو د تشبث مضمون له تدریس څخه لیدنه کړې ده.

ص. د ډېرې لیسو ادارو د تشبث مضمون د تدریسولو میتود د هغو زده کوونکو لپاره چې په راتلونکې کې د کاراوبار د پیلولو پلان لري ډېر اغیزمن کڼلی ده.

ض. د ډېرو لیسو ادارو د تشبث مضمون په هکله معلومات له نورو سره شریک کړي دي.

ط. نږدې ټول والدین د تشبث مضمون په هکله خبر ول. دا خبره د تشبث د پروګرام لپاره خورا مهمه ده، ځکه چې د تشبث پروګرام د والدینو ملاتړ لاسته راوړې ترڅو د دې مضمون مطالعې ته په کورونو کې دننه پیاوړتیا ورکړي. برسیره پردې دابه زده کوونکو ته د تشبث مضمون د مطالعې لپاره په کورنیو کې اسانتیاوې را منځ ته کړي.

ظ. زیات شمیر موراو پلار د تشبث مضمون د هغو درې مضمونونو په کتار کې یاد کړ چې د دوی ماشومان یې په کور کې لولي. دا خبره د تشبث پروګرام لپاره له اهمیت څخه ډکه ده، د دې لپاره چې د تشبث پروګرام پدې توانیدلی دی چې د دې مضمون په هکله زیات مالومات خپاره کړي.

ع. زیات شمیر والدینو د تشبث مضمون له زده کړو څخه په خپل کاراوبار کې ګټه پورته کړې ده. دا موضوع د تشبث مضمون د عملي اهمیت ښکارندویي کوي، د دې لپاره چې

په غیر مستقیمه توګه د هیواد د وګړو یوی برخی له دی مضمون څخه ګټه پورته کړی ده.

غ. ډیری والدین په دی باور ول چی که چیری کاراوبار د تشبث د پروګرام د اصولو په بنسټ پیل شی، نو ډیر به بریالی وی.

ف. د تشبث پروګرام د هغه کاراوبار لپاره چی کمی پانګی ته اړتیا لری ډیر ګټور دی او له زیات شمیر زده کوونکو سره به مرسته وکړی ترڅو یو کاراوبار پیل کړی.

## ۳,۲ وړاندیزونه

أ. د دی لپاره چی د پروګرام د پرمختګ یو ښه انځور ولرو، اړینه ده چی هغه شمیر د لیسو فارغانو ته چی دنده لری او یا یو کاراوبار مخی ته وړی په ارزونه کی برخه ورکړل شی. دا به په ټولنه کی د تشبث پروګرام د هراړخیزه اغیزو په روښانه کوولو کی د تشبث له ښوونیزی او روزنیزی مؤسسی سره مرسته وکړی.

ب. په راتلونکی کی به دا غوره وی چی یواځی د دولسمو ټولګیو زده کوونکی په ارزونه کی برخه ولری ځکه چی دا زده کوونکی د پروګرام د اغیزو په هکله پوره مالومات ورکولی شی. د لسمو ټولګیو زده کوونکی د تشبث د مضمون د زده کړی او تجربو په هکله یواځی ځینی لومړنی مالومات ورکولی شی.

ت. د پروګرام د اغیزو د په هکله د اسنادو د لاسته لاوړلو په موخه، د هغو لیسو زده کوونکو او ښوونکو ته چی هلته د تشبث مضمون په مخ نه وړل کیږی باید هم په ارزونه کی ونډه ور کړل شی. پدی کړنی سره به وکولای شو چی د تشبث لوستی زده کوونکی له نورو زده کوونکو سره پرتله کړو.

ث. ارزونه باید په یو مناسب وخت کی په مخ یووړل شی ترڅو په زده کوونکو، ښوونکو، د لیسو په مدیرانو، ارزوونکو او په خپله په مؤسسی باندی د وخت د کمښت فشار دومره زیات نه وی. له دی امله، راتلونکی ارزونه دی د څلورنیم میاشتنی آزموینی څخه وروسته په ولایتونو کی په پلان کی ونیول شی. پدی کار سره به د ارزونی د ښه پلان کولو لپاره کافی وخت ولرو.

ج. د امکان په صورت کی دی د پروګرام د اغیزو ارزونه دریمګړی اداری ته ورکړل شی.

ح. په راتلونکو ارزونو کې، هغه زده کوونکي چې مخکې د تشبث د مضمون له ویلو څخه یې کاراو بار درلوده  او هغه کسان چې د تشبث د مضمون د لوستلو په موده کې یې کاروبار پیل کړی باید په بیلو بیلو ګروپونو کې په نظر کې  ونیول شي. چې  دا ډول ځانګړنه په دې ارزونه کې په نظر کې نه وه نیول شوی.

خ. د ارزونې په اړه د پوره مالوماتو د لاسته راوړلو له مختلفو لارو چارو څخه کټه اخیستنه غوره ده. د بیلګې په توګه، د زده کوونکو کاراوبار باید و څیړل شي، د مضمون تدریس او د ښوونې کړنلارې باید تر ارزونې لاندې ونیول شي، یو د مشورې د ورکړې ورکشاپ باید د لیسو له مدیرانو سره ونیول شي، همدارنګه د مشورې ورکشاپ له ښوونکو سره هم باید ونیول شي، د پوهنې د تخنیکي او مسلکي زده کړو له اړونده ځانګو سره د مشورې ورکشاپ باید په نظر کې ونیول شي او همدارنګه باید د دولتي او خصوصي سکتورونو د مالوماتو له در لودونکو مسؤلینو سره مرکې وشي.